July - Aug 61

کابل

دخپلواکۍ څلی

چه مین د آزادۍ په افتخار شی
نو د قام ننګ و ناموس د پاره ځار شی
دخپل قام د ژوند د پاره ځان قربان کړی
پس له مرګه ئی د مینی جوړ یادګار شی

(بختانی)

غني خان

ځوانه!

سوي باغ تالا گلشن دی — مړاوی گل خاورې چمن دې
نه بلبل نه لولکی، شته — نه نرگس نه یاسمن دي
دا گلاب دی ایرې شوی — که په اور سوی ختن دی
ای پښتونه! ستا وطن دې — ای پښتونه! ستا وطن دې

د دې باغ خاورې راواخله
ترې نه نوي بوستان جوړ که

اې د سوې باغ مالیاره! — د نورونو جهان جوړ کړه
اې چه ښکته ښکته گورې! — نن پښې لا بله سر سر تورې
ته خبریې چه ته څوك وې! — ته د مینځ اسمان وی ستورې
ستا شمله چه به شوه پورته — شوې به ښکته شملې نورې
په مستۍ اونګ به سر وې — ستا د اټیټې سترگې تورې
ای د ټیټو سترگو ځوانه — پا څه هغه جهان جوړ کړه

ددې باغ خاورې راواخله
ترې نه نوی بوستان جوړ کړه

اې د وران څپر مېر منې! — ای! دوزی بچی پلاره
بې د رکه سرگردانه — ای د سوی باغ مالیاره
ای چه نن بر بنډ بچی ستا — د خوراك په کشاله دی
ستا د لاس ماڼۍ ولاړې — په ډهلی په بنگاله دی
ای د بل د، د رمریده! — پا څه هغه دوران جوړ کړه

د دې باغ خاورې راواخله
ترې نه نوی بوستان جوړ کړه

اې په غره په سر درو کښې — په باغونو په مېرو کښې
په جندول کښې په تیراکښې — زما لال پټ په ایرو کښې
اې د زرکو په خنداکښې — د تنځرو په نارو کښې
د شیر شاه نازبینه ځویه! — ته یې پروت تورو تیارو کښې
کړه دغم تیارې راغونډې — نرې د مینې داستان جوړ کړه

د دې باغ خاورې راواخله
ترې نه نوی بوستان جوړ کړه

کابل

زمری (۱۳٤۰ش) کال د (۱۳۸۱ ق) کال د (۱۹٦۱ ع) کال جولائی او اگست

ادبي . تاريخي او اجتماعي

امتیاز : دپښتو ټولنې

دپښتو ټولنې مشر : گل پاچا الفت

مسئول مدیر : محمد حسن کاکړ

د تیلفون نمبر : ۲۱۲۹۱

پته : شېر علی خان وات
نوی ښار ، کابل
افغانستان

په دې ګڼه کښې

شمېر	لیك	لیکوال	مخ
۱ :	داستعمار حقیقت	محمد حسن کاکړ	۱
۲ :	آزادی	محمد صدیق روهی	۱۲
۳ :	ژبه، توري، لیك	عبدالخالق واسعی	۲۰
٤ :	داولسمې او...	دمیر اکبر ترجمه	۲۵
٥ :	شعرونه	د معاصر و شعراوو	۳۲
٦ :	نوې ژبپوهنه او...	حبیب الله تبزي	٤۰
۷ :	دپښتون کهول	قدرت الله حداد	٤٦
۸ :	ر اډیو اومارکونی	دافق ترجمه	٤۸
۹ :	دافغانستان دختیځواو..	عزیز کاکړ	٥۲
۱۰ :	زوړ کمیس	غوث خیبري	٥۹

داشتراك بیه

(په افغانۍ)

په کابل کښې ۴۰

د هېواد په نورو برخو کښې ۴٦

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

د باندې ملکو کښې : ٥ امریکایي ډالره

دیوی ګڼې بیه : ۴

د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي

د پښتو ټولنې د جاري حساب لمبر په افغانستان بانك

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

داشتراك بیه په اداره کښې هم اخیستل کېږي

زمونږ گران ټولواك محمد ظاهرشاه چه هیواد د د ه په لارښونې د پرمخ تګ په لور په بیړه روان دې

محمد حسن کاکړ

دا ستعمار حقیقت

درانوې میاشتې په لومړۍ ورځ ـ افغانستان د خپل ملي آستقلال د رناوې کوي چه ٤۳ کاله دمخه په (۱۹۱۸ـ۱۲۹۷ش) کښې یې د جواز په شپږمه دغاصب استعمار له منګلو نه بیرته راخپل کړې و. په دغو مره کلو نو کښې ددغې لویې ورځې په مبارك تقریب دسنبلې په لو مړۍ هفته کښې ـ په ټول هېواد کښې جشنونه وې او بنادې خوښې روانې وې. مجلې ـ ورځپاڼې او ټولې خپرونې دهغو مېړنیو او قهرمانانو او د هغو د تاریخې کار نامو یادونه کوې په کومو چه دګران افغانستان ـ پېڅلې آزادۍ ترسره شوې. داسې هم دخپلو اکې هغه ښېګڼې بیانوې چه دهغو په برکت دو طنوا لو دژوندانه په ټولو اړخونو: ـ اقتصادي ـ عرفاني ـ اجتماعي ـ سیاسي ... کښې ښکاره او بیجوړې پرمختګ شوې ، او افغانستان دهغو وختوله بیرته پاتې توب نه دغه اوسنې پرمختللې حال ته را رسېدلې دی .

کابل مجلې ـ په دې برخه کښې ـ په خپل حد وسویه تر او سه د پرې خپرونې کړې او په تېرو (٤٦۳) ، (٤۷۸) او (٤۹۰) ګڼو کښې یې د (زمونږ ملي بنادې)، (افغانستان او استقلال) او (ولسي بنادې) ترعنوا نو لاندې ـ په ملي ژوندانه کښې د استقلال مثبت تاثیرات واضح کړیدی . دا ځل د ابنه وبرېښنده چه د استقلال دعظمت د لیا روښانه ښوو لو په مقصد په خپله د استعمار په باب آفاقي لیکنه وشي یعنې چه د استعمار یا د استقلال دسلب کو و نکی ځینګه و ا لی ا وخصو صیت واضحه شي. داسې لیکنه خومونږ ته اوس ځکه ضروري ده چه استعمار بر سیره پردې چه د ملتو نو د پر مختګ ما نع اودبین المللي ـ ولې او انساني تفاهم لوې مخرب دې دافغانستان یوه پخواني برخه یعنې پښتونستان لا اوس هم مستعمره ده او دپا کستان ا ستعما ر د جها نی ا ستعما ر په ډ ا ډ هغه په همد غه حال ساتل غواړې او ددغه منظور دپاره دپښتو نستان مشران، لیکوال او ټول هغه مبارزین چه دخپلې ازادۍ او حقه حقوقو دتامین دپاره فعالیت کوې بندیانوې اودزندانو په تورو تیارو کښې هر ډول ظلم اوز ور پرې چلوې. برسېره پردې پاکستاني عمال نه یوازې شخصاً هغوته

سختې جزاوې ورکوی بلکه د هغوې دجایداد ونواوشتوپه ضبطولو ددوی نورومنسوبینو نواونزدې خپلوانوته جزاوې ورکوی. دادلومړنیو پېړیو هغه درنې اوبېرحمانه جزاوې دی چه دپاکستان واکمن یې این په شلمه پېړۍ کښې په پښتونستانیو روابولی. داټول نه یوازې دافغانستان دسختی اند ېښنی سبب ګرزی اود سلف ډ یټر منیشن حق په دغی شلمه پېړۍ کښې په هغه وخت کښې چه لا (یونو) په همدغه اساس جوړه ده اوکار کوې له پښتونستانیو نه سلبوی بلکه بین المللی سوله هم یقیناً په خطر کښې اچوی. نودپښتونستان مسئله چه دافغانستان دپاره یوه حیاتی موضوع ده دا ستعمار میراث اوداستعمار له لاسه ده. مادالیکنه په همدغه منظور وکړه هیله ده چه په دغې لیکنې سره به داستعمار اصلی بڼه اوماهیت واضح شی اوګر ان لوستونکی به یې له پخوانه نور هم ښه وپیژنی. «لیکونکی»

مقدمه

په دې وروستیو کلونو کښې داستعمار کلمه یو ځای بل ځای ډیره اورېد له کیبزی ـ اسیایی اوافریقایی ولسونه خویې تر هرچا ښه پیژنی ـ ځکه چه استعمار دژوندانه په ټولو برخو کښې په دوی غلبه لرلې وه او په ځینو لا اوس هم مسلط دې بعضې ولسونه همدا اوس هم ورسره لاس په ګریوان دی او ډیر نور یې لا له بقایاونه سرټکوی او له هغه نه دپوره خلاصون دپاره په یوراز بل راز مبارزو بوخت دی.

داچه استعمار خاص د یوه ولس مسئله نه بلکه یوه بین المللی حادثه ده له همدغه حقیقت نه پوره څرګندېدای شی.

د استعمار کلمه:

استعمار دکولونی (مستعمره) له کلمی نه راوتې ده کولونی دلاتینی (کولونیا) نه مشتقه ده دوروستی معنی دخلکو هغه برخه کیبزی چه له یوه ملک نه بل ملک ته تللی وی ـ اوهجرت یی کړی وې ـ داسې چه مهاجر خلک به دنوی ځای پوره څښتن وی او یا به د ځایی (بومی) خلکو په مینځ کښې مېشته وی اوژوند به کوی. په سیاسی لحاظ کولونی دوه مفهومه لری. لومړی هغه ډله خلک یا اتباع چه له خپل اصلی هېواد نه په جغرافیایی لحاظ بېل شوی وی اوله حدودونه یې دباندی ژوند کوی. دوهم هغه سیمه ییز واحد دې چه په جغرافیوی لحاظ یعنی په خاوره کښې له اصلی اومورنی دولت نه بېل وی ـ سره ددې هم له هغه سره یوراز بل راز اړیکی لری.

استعماری سیستم:

استعماری سیستم یا طرز بیا داستعمار اوکولونی دمتقابلو اړیکو او روابطو مجموعه ده په پل عبارت استعماري سیستم هغه ترتیب ته وایه شی چه اصلی اومورنی هېواد به زیار باسی چه کولونی په تجارتی او اقتصادی لحاظ په ځان پورې وتړی. مستعمره به په اصلی هېواد دومره تړلې وې ـ چه که نور یې دلاندی کولو په تکل شی ـ هغه به یې لنګی ته وردانګی اومتجاوز به تری شړې.

کولونی په پخواوختو کښې په همدغه ډول مینځ ته راغلی خود تاریخ په جریان کښې په خپل اصلی حال پاتې نه شوې اووسعت یې وموند یعنې چه ذ ځایې (بومی) خلکو شاوخوا سیمی یې ونیولی ـ اوخپلې سیمې یی ورووروپراخې کړې بومیان یې لاندی کړل اود هغو ټولې شتمنی یې د ځان کړې.

استعمار د تاریخ په جریان کښې :

استعمار اصلاً طبیعی شی ندی - بلکه دافاقی اجتماعی او اقتصادی شرایطو مولود دی. هغه وخت چه یوه ډله په نورو امتیاز پیدا کوی او په یوه دلیل او بل دلیل ترې لوړ یږی زیار باسی چه په کم کار سره ښه ژوند وکړی - او سیادت او باداری هم ولری دا فکر ورله پیدا شی چه راځه دخپل مقام ددایمی استحکام دپاره په یوه او بل نامه دسپلینو نه وباسه او لاندنی ډله یې منلو ته اړه کړه .

ډیر پوهان په دې عقیده دی چه په لومړنیو ټولنو کښې تفوق او امتیاز نه وو - استعمار هم چه د تفوق منطقی مولود دی هغه وخت درک نه لاره یعنی څکه چه بېرونیو شرایطو کښې داستعمار دوجود پاره لاره خلاصه نه وه - ځکه نو د استعمار مفهوم د بشر په ذهن کښې تشکل نه وکړی - او لفظ یې هم لا درک و. خو د بېرونیو شرایطو په اووښتو سره څه وخت چه د کارو یش مینځ ته راغی - او ورسره د « زما » او « ستا » خبری شروع شوې - یوه ډله په بلی دپاسه شوه - او حاکمیت او محکومیت پیدا شو - د نورو څیزونو په ډله کښې ، استعمار هم تشکل وکړ او دژوند په ځینو خواو وکښې ننوت تر دې چه وروسته یې ټولې خوا وی وراشغال کړې. اوس نو استعمار دژوند میدان ته رسماً ننوت او په جنګ جګړو یې پیل وکړ ، او د بشر تاریخ دهمدغسې جنګ جګړو میدان شو .

دا حادثه په فنیقیانو - مصریانو - کلدانیانو - آریائیانو او په وروسته کلونو کښې په یونانیانو کښې پوره ښکاره ده برسېر پردې چه ددوې په دننی ټولنه کښې دې حادثې پوره صدق لاره دوی د نورو ولسونو په هېوادو هم ودانګل. دا وخت نو د تاریخ لومړی پېړی دی چه دغلامانو دوره هم ورته وا یې . دباندنې استعمار حادثه په فنیقیانو کښې پوره واضحه ده ددوې ځینې خلک دمدیترانی د بحیری په غاړه کښې میشته شول څرنګه چه دوی تجارتی خلک هم وو او ددغه منظور دپاره یې کښتی هم په کار اچولې وې ځکه یې ددغه بحر په څنډ وکښې وړې ټولنې جوړی کړې او دشاوخوا ملکو په استثمار یې شروع وکړه . وروسته بیا دکریت دخلکو او یونانیانو وارشو. هغه وخت چه یونانیان دقوت لوړ پوړ ته وختل او په سیاسی او اقتصادی لحاظ له ګاونډیو هېوادونه ډېر د مخه او پیاوړی شول - ددوې ډیرې ډلې او برخې بیا دمدیترانې په ټولو څنډ وکښې میشته وې ددوی کولونی له هر بل چا نه په شمېر کښې زیاتې شوې . دا یجن شاوخوا ټول ټاپوګان یې نیولی وود ترکیې غربی ساحلونه له دوی نه ډک وو . دا یټالیې - فرانسې - شمالی افریقې غاړې یې این دهسپانیې تر (کادز) پورې یې لاندې کړې وې. داصلی یونان صناعتی محصولات به یې په سودا کری - سره په مجاورو ولسونو خرڅول او په عوض کښې یې له هغوی نه اومه مواد په ډېره ارزانه پلورل - داسې یې هم ډېر غیر یونانی خلک په جنګونو کښې ونیول - او په خپلو کښتونو او کارخانو کښې یې ترې کار اخیست - دغسې کارګر له بومی کارګر وسره ددوی غلامان وو چه په هیڅ راز انسانی حقوقو ورته قایل نه وو . له دې نه وروسته - درومیانو وارشو - دوی به چه نور ملکونه ونیول چو رچپاول به یې وکړ او غلامان به یې ترې په زیات شمېر خپل ملک ته بوتلل دوی د یونانیانو غوندې دومره په اقتصادی استثمار پسی نه وو - د نورو هېواد وخلک به یې خپل غلامان کړل او په کښت وکار کښې به یې ترې کار اخیست - په ټولو منځنیو پېړیو کښې دغلامی او استعمار شکل واوښت - هغه پوره غلامی لاړه په ځای یې نیمه غلامی راغله - داسی چه غلام به دلومړنیو کلونو په څېر له مځکې سره یو ځای تړلی نه وو - بله لویه خبره داده چه ایل خانی او خان خانی شوه - مرکزیت او امپراطوریت کمزوری شو - او په ځای یې محلیت او امارت قوت وموند. په ټوله اروپا کښې تیاره خپره شوه - او ځان ځانی راغله ښاری ژوند سقوط وکړ د پخوا و کلکو کلاو دوران شو دې حال تر هغو دوام لاره چه تر څو باروت او کاغذ جوړ شو او د کښتی بادبان مینځ ته راغی چه دهغه په نتیجه کښې دلرې ځایو بحری مسافرتونه کامیاب شول - پخې کلاوې په باروت والوزولې شوی او بحری مسافرتو

سره نوي مځکې کشف شوې دعصري استعماري سیستم انکشاف له هغو کلونو نه وروسته پسې شروع شو په کومو کښې چه دارو پاغربي هېوادونه په نویو مځکو پسې ملاوتړله اوله پنځلسمې پېړۍ نه یې داتلسمې پیښۍ ترپایه پوري نوي هېوادونه کشف کړل یا یې دصناعتي انقلاب نه وروسته څه وخت چه دوی په اقتصادي لحاظ پیا وړي شول نور هېوادونه یې ورووړولاندې کړل او په دې ډول دغو هېوادو ته یې دخپلو خلقو دورتګ لار خلاصه کړه له یوخی وا په نویو کشف شویو اولاندی شویو هېوادو کښې ارو پائیان میشته شول ـ اوله بلې خوا ددغو سیمو ډیر قیمتي فلزات لکه مس ـ طلا ـ نقره اوداسې نور ارو پایي استعماري هېوادو ته یووړل شول . دامریکا هېوادو مخصوصاً اتازوني اومکسیکو کښې طلا باب زښته زیات وو ـ داروپا په بازارو او بانکو کښې طلا او نقرې کوټې اوخرې شوې مرکانټلزم دیوه تجارتي اواقتصادي طرز په شان وده اوتشکل وکړ. هسپانیه پرتګال ـ هالینډ ـ فرانسه ـ برتانیه ـ بلجیم ـ اوداسې نور په ترتیب سره استعماري هېوادونه شول ـ داوخت دآسیا ـ امریکا ـ استرالیا ـ اوافریقا زیاتره هېوادونه ددوی مستعمرات شول او یو په بل پسې یې په یوه اوبل نامه لاندې کړه .

دبرتانیې امپراطوري ترټولو پراخه شوه ـ ددنیا په څلورمې برخې دهغې خیټه پلنه وه داسې چه وویل شوه «دبرتانیې په امپراطوري څلیرویشته ساعته لمر ځلیږي». دنویو اکتشافاتو ـ اختراعاتو ـ لومتصرفاتو په وجه استعمار اومستعمره په لومړنی شکل پاته نه شوه بلکه ښایسته زیات تغییر یې وکړ ـ ځکه چه هیڅ مفهوم تل په خپل اصلي حال نه پاتې کیږي، اودزمانې په اوښتو سره یو راز بل راز اوړي رااوړي ـ دکولوني یا مستعمرې مفهوم هم تغییر وخوړ داسې چه نن ورځې په تعبیر سره هغو سیمو یا هېواد وته راجع کیږي چه تراو سه لا دسلف ډیټر منیشن حق یعنې دخپل سرنوشت دټاکلو له حق نه محروم وي ـ اودبل هېوادترسیاسي سلطې لاندې وي .

داستعمار اجتماعي څېره :

داستعمار ددوام اومستعمرود موثر استثمار دپاره لاندې شوې اونیولې شوې سیمې په خپل حال پاته نه شوې ـ چه بس استعمار به یوځل تري شوکه کړې وي او بیا به بېرته خپل اصلي ملك ته ستون شوي وي ـ لوی مقصد داشوچه یوڅه یې مستعمروته لاړشي اوهلته میشته وي ترڅو دوی وکړای شي دتل دپاره شکا وڼه وکړي اوپه دې ډول دمستعمروښې اوغني سیمې بالکل خپلې کړي اوځایي وګړي یې یاخوتري وشړي اویایي په مختلفو لارو اووسیلو ترفشار لاندې راولي او اقلیت ترې جوړ کړي اوپه خپله اکثریت شي. ننني اتازوني کانا ډا ـ استرالیا ـ نیوزیلینډ ـ اوداسې نور هغه هېوادو نه دي چه زیاتره وګړي یې اروپایي مهاجر دي دوی په هغو شپو ورځو کښې دغو هېوادو ته مخه وکړه چه په خپله په اروپا کښې کلیسا دزور اوبند بازار تودکړي وو اودمذهب په نامه یې په خلکو رنګ رنګ فشارونه راوستل دمهاجرو اوځایي خلکو ترمینځ دایمي اوپرله پسې اخ وډب روان شو ـ ترڅو په دغو یادوشویو هېوادو کښې ځایي خلك په پای کښې لاندې شول او سلطه اوقدرت دمهاجرو لاس ته ورغله . ځایي خلك دجنګ جګړو، افتونو اومصیبتو نو اونارو غیوله کبله یاخولبز شول اویاپرار شول ـ اویامطیع وګر ځېدل په هر حال ددوی آینده خرابه شوه اوله هرراز مدني اوانساني حقوقونه محروم شول اولکه غلامان داسې شول حکومتونه ـ اوتشکیلات اوهرراز دولتي شئون دمهاجرو په برخه شوه . دوی د څه مودې دپاره داصلي هېوادو تابع وخووروسته یې دمطاوعت کړی ماته کړه اوازاد شول لکه اتازوني ـ کانا ډا ـ استرالیا.... او داسې نور طبعاً ټول مستعمرات دغه شان نه وو په پاتو مستعمرو کښې یا خوا قلیم ډېر شدید او سخت وو او یا خو یې بومي خلق ډېر وو اودستر و مد نیتونو خاوندان وو چه ددوی ورکاوي استعمار یونو ته ممکن

اعلیحضرت محمد نادر شاه شهید و استقلال دمعرکی لوی قهرمان

نه‌وولکه هند، چین، هندچین، برما افغانستان، اندونیزیا اوداسې ډېر نور. څنګه چه‌دوی هضم‌اوورکاوی غیر ممکن‌واستعماردالازمه وبلله چه‌په خپله دتل‌دپاره په کښې‌میشته نه‌وی بلکه‌تر څویې توان وی حکومت پرې وکړی اوپه اقتصادی‌لحاظ‌یې وز بېښی‌او خپل کولتور اوتمدن پرې ومنی.

مګر ځینې داسې نورهېوادونه ووچه‌دد وی په اصطلاح وحشی‌او بربری‌وولهبلې‌خوایې‌طبیعی شتمنی په‌حساب‌نه‌راتلې‌اوډېرې‌وی‌په‌دغوهېوادوکښې‌هم ځینې ملکو نه‌داب اوهوااو پیدا اوارله مخې په‌زړه پورې اودوی ته‌داو سیدووو لکه‌دمدیترانې‌غاړې، الجزایر جنوبی‌افریقا اوداسې‌نور. دوی دغو سیمو ته‌په زیات شمېرمخه وکړه‌فرانسویان په الجزایراوانګلیسانه‌په جنوبی‌افریقاکښې میشته شول.دافریقانور ملکو نه‌بیا داسې نه‌وو.څرنګه چه داستواخطه‌شاوخواکښې‌پراته ووسخت اوګرم اقلیم یې لاره اودوی ته‌په زړه‌پورې نه‌وو نو دوی‌په زیات شمېر هلته‌نه‌لاړل. یوازی هغه ځایونه چه‌ښه‌وودوی ونیول اوبومی‌خلک‌یې‌ترې‌وشړل په‌دې ډول اروپا ئیان‌لېزوډېر په‌مستعمروکښې خپاره شول. سره‌ددې هم‌دوی په‌دغوسیموکښې‌په اقلیت‌کښې ووآو هېڅکله اکثریت شوی، نه ووخوبیا هم وینو چه استعمار الجزایر، نیوګینی‌اوترپرونه پورې کانګو ګوادخپل‌اصلی هېواد نه‌بیلیدونکی برخې اعلا نوی اویالکه‌په سهیلی افریقاکښې که‌څه‌هم‌هغه‌هېوادآزادی خپله کړې خومدنی اوسیاسی حقوق‌یوازې‌داروپا یې مهاجروبولی‌آونورترې‌محروم شمېری‌اویالکه‌په‌اتازونی کښې‌چه‌هغه‌بل‌کال تورپوستوته‌په‌قانون‌کښې‌په‌مدنی اوسیاسی‌حقوقو قایل شول مګرپه عمل کښې لا تور پوستکی‌تراوسه محکوم دی. نوو ینو چه‌په‌هره مستعمره کښې‌په‌لومړی‌نظر دوه‌ډلې‌ماتباع ښکاری لومړی ډله داصلی اواستعماری هېواد خلک‌اوبله ډله‌ځایی‌اوبومی خلک‌دې‌لومړی ډله په‌مطلق‌اقلیت‌اوورو ستنی‌په‌مطلق اکثریت کښې ده‌مګرمدنی اوسیاسی‌حقوق د همدغه اقلیت په برخه وی‌اوګڼ اکثریت یا ځایی خلک ترې محروم وی‌البته چه‌دګڼ‌اکثریت‌حال‌یوراز نه‌دی. په‌دوی کښې‌هم‌توپیر ډېر دی لوی لوی‌زمینداران‌اوسودا ګر اوځینې نور نظامی منصبداران په دوی کښې لو ړ دی. دوی‌په‌یوه‌اوبل‌نامه‌له‌استعماریونوسره‌یودی، اوله‌هغو سره‌جوړه‌لری دا‌ځکه‌چه‌دوی ته‌استعمار شاباسی‌و ایی اواستعمارزیار باسی چه‌ددوی له‌لارې چه‌څه‌غواړی‌هغه په‌ولس اووګړوعملی کړی دوی ترهغواستعمارته‌نزدې وی‌او په‌معتمد ینوکښې‌یې‌راځی‌چه‌د هغه په‌پله‌روان‌وی که‌څه‌هم‌دمستعمر واشکال‌یوراز نه دی‌اویوتربله‌ښکاره توپیر لری‌لکه په‌خپله کولونی، ترساتنې لاندې سیمه (عدن)تر قیمومیت‌لاندې‌هېواد (روندااورونډی) مګر په‌ټولو کښې‌داحقیقت مشترک دی‌چه‌دولتی‌واکمنی او اقتدارپه‌واقعی‌صورت‌داستعماراویادهغوی، دایجنټیانوپه لاس‌وی.

استعمار دهمدغه‌دواتی‌قدرت په برکت‌لښکرې ساتی‌او پولیسی‌قوت‌لری‌دولتی‌اداری‌په‌هر نامه‌اوهرڅومره‌چه‌وی عسکری‌طاقت نه‌سرغړولی نه‌شی دهمدغه‌قوت‌په برکت ټول ولسی‌اعمال‌اوملی نهضتونه‌دامن‌اوعدل برقراری په نامه شنډوی‌څوک‌وژنی‌اوپه‌داریې‌ځړوی‌څوک‌کارګری کمپوته لیږدوی‌آوڅوک‌له‌یوه‌ځای‌له‌بل‌ځای‌ته پراروی. په‌ټولو مستعمروکښې‌بشری‌مناسبات‌یاپه‌خاص‌ډول‌ځایی خلکو (توریوستو)اواصلی‌هېوادخلکو(سپین پوستو) یعنې اروپایې‌لااصله‌خلکوترمینځ‌ذات‌البینی‌مناسبات په‌دغې زړې‌عقیدی‌اپښودشوی‌وی‌چه‌انسان‌په‌طبیعت‌کښې‌مساوی نه‌دی. سپین پوستی‌یعنی‌هغه‌چه ښکلی‌اومتمدن‌دی اوړ اواعلی‌دی‌اودانوریعنې‌زیړپوستی اوتور پوستی بېرته پاتې‌اونامنکشف. دوی‌په اصل اوماهیت کښې ټیټ اونامستعددی بناپه‌دې عقیدې د ژوندانه په ټولو اړخونو سیاسی‌مدنی‌اوکولتوری‌ساحوکښې‌درنګ، نسل اونژاد یې نامه توپیر ښکاره وی. سپین پوستی‌حق‌لری

چه په انتخابانو کښې ګډون وکړی دو لتی ادارو دپاره انتخاب وکړی اویا خو په خپله انتخاب شی. په ښوو نځیو کښې درس ووایی اولوړ تحصیلات و کړی که چېر ته کارکوي له ځایی خلکو نه په کراتوزیات معاش و اخلی بومی خلك نه داچه په خپل آبایی اواصلی هېواد کښې هیڅ راز امتیاز نه لری بلکه دوي له ټولو مدنی حقوقو نه محروم دی مجبوردی چه ډېر کارو کړی اولږه وخو ری اودبخور نمیر په حال کښې شپې ورځې تېرې کړی اوهیڅ ونه وایی اوقانع هم او سی .

په دغو نزدې کلونو کښې استعمار دملی آزادی خواهی اوجهانی ذهنیت له پرله پسې مبارزو اونارومجبور شوچه ترخپل لاس لاندې افریقایی مستعمر و کښې نوی ترتیبات ونیسی اوداصلاحاتو نوم پرې کښیږدي اویاداچه مشورتی کومیټی راوباسی اواټانومی اونیمه اټانومی نومونه ورته وضع کړی. دوی ددې په ځای چه مستعمر وته پوره آزادی ورکړي وایی چه دوی لا واکمن کېدو ته تیارشوي نه دی اودا اصلاحات دواکمن کیدو مقدمات دی مګر حقیقت دادې چه دغه اصلاحات دنویو شرایطو په بنا تعدیل شوی استعمار دی اوبس یا په بل عبارت دغه اصلاحات یوازې داستعماری ساختمان دپورتنی شکل تغییر ماوتعدیل دی او استعماری بنسټ همغسې په ځای او ټینګ دی .

په فرانسوي جامعه کښې دافریقایی نوو آزاد شوو هېوادو حال هم له دې نه څه فرق نه لری - ځکه چه دجامعې اصلی اومرکزی غړی (فرانسه) دد غو هېواد و زیاتره لوی لوی مسایل لکه دفاع - بودجه - اسعاری سیستم، اقتصاد - معارف - مخابرات او داسې نورپه خپله کوی اویوازې هغه مسایل چه ثانوی اهمیت لری دمحلی حکومتو لخوا اجرا کیږی .

داستعمار اقتصادی څېره:

په مستعمرو کښې دسیاسی اواجتماعی واکمنی انحصار استعمار دپاره اساسی غایه نه ده. استعمارداټول ددې دپاره کوی چه اقتصادی استعمار په بیړه اوآسانه وکړی اوچه څومره کېدای شی هغومره مستعمرې وزبیښی او شتمنی ترې وباسی او اصلی هېوادته یې نقل کړی ، دهمدغو شتمنیو په سرپه لومړی سرکښې دمستعماریونو تر مینځ سیالی پیدا شوی ابن تردي چه سیالی او رقابتونه یې په اخ وډب واوښتل اویولړ جنګونه یې پرې وکړل- دهمدغو شخړو واولښکر جنګو لوله امله ډېرځله مستعمری اولاس لاندې تصرفات له یوه نه بل ته لاړل خو وروسته دد وی ترمینځ یوه رو غه وشوه قرار دادیې سره وکړ چه یو به دبل په مستعمرو نه وردانګی. هریوپه دې پسې شوچه اخ وډب به بس کوی اواعظمی استفادې ته به ملاتړی. یوازې په دوهم جهانی جنګ کښې وو چه نازی جرمنیانو مستعمرو نیولو ته هڅه وکړه خو نتیجه یې داشوه چه اخریه خپله جرمن وویشل شو- اوتراوسه دوه جرمنه دی . دافکر په ټولو خلکو کښې قوت لری چه داروپا غربی هېواد ونه بې مستعمرو اوبازار لرونه په دغه اوسنی حال نشی پاتې کېدای. ددوی سویه دومره اوچته ده اودوی دو مره زیات مصرف کوی چه خپل داخلی زراعتی محصولات یې بس نه دی بایدله نورو ملکونه یې وارد کړی له بلې خوادا مجبوریت یې زوردی چه دفابریکواوکار خانو مصنوعات په خارج کښې خرڅ کړی اواومه مواد هم له باندې نه ورتهیه کړي- په مستعمرو کښې داکار ډېرښه عملی کیږی - زراعتی اواومه موادیې په ارزانه بیه له خلی مګر مصنوع مواد بیا په ډېره لوړه بیه پرې خرڅوی. داکاردوی ترا وسه ډېرښه وکړ.

ډېرکسان په دې عقیده دی چه که لوېد یځې اروپانه مستعمرې لاړلې اوخارجی بازار رو نه دد وی دمصنوعاتو په مخ بند شول اوپه عوض یې د مستعمرو اوبېرته پاتې هېوادوملی اقتصاد قوت ومو ند دد وی اوسنی اقتصادی سیستم اوطرز ته په لوی خطروی دلسې چه نور به نودوام ونه کړی- بل څه به ترې راووځی اویا به دوامداري مظاهرې او اعتصابونه وي او کارګر به درانه مالیات اوټاکسونه نه منی اودزیات اجرت تقاضا به لری .

دمستعمرو اقتصاد زراعتی دې - یعنې دوی هر راز زراعتی محصولات لری- له بلی خوا معدنی او طبیعی پیداواریې بېحسابه دی - بل یې انسانی ډېر ارزانه قوت دی. استعمار هم همدغو درو ټکو ته ښه مترجه دی :

مځکه - معدن او بشری قوت

له دغونه د موثرې استفادې په غرض استعمار کوښښ کوی چه دمستعمرو داقتصاد اساسی اړخونه محدودوډلو پورې انحصار کړی او د محلی خلکو له سلطې اوقدرت نه یې خارج کړی - مثلا په افریقا اومخصوصا کانګو کښې بخوا تردې چه استعمار هلته لاړشی دمځکې شخصی ملکیت عمومیت نه لاره -ډېرې ارتې مځکې دټولووې- په ګډه به یې کرلې اوربېلې اوپه دې ډول به یې پرې ژوندکاوه - خوچه استعمار ورننوت دغسې مځکې یې دبلجیم دتاج مال- و بللې اودنورولاس یې ترې لنډ کړ-داسې یې هم هغه وسیعې ځمکې چه دکانو په شاوخوا کښې وی- بلجیمی شرکتونو ته په امتیاز ورکړی-اونوریې ترې وشړل مستعمروته داروپایانوله ورتګ نه وروسته - کلیساهم مخه وکړه دوعظ دپاره یې یوځای بل ځای ډېرې ودانی وکړی- اودشاوخوامځکې یې خپلې کړې داسې هم هغه اروپایان چه په ودانو سیمو کښې میشته شول-په یوه اوبل نامه یې له خلکونه مځکې ونیولې .

په بل عبارت دافریقا په هغه هېواد کښې چه هوا اواقلیم ښه اوپه زړه پورې وو- اروپائیان واوسیدل دهغو ځایو مځکې له بومی خلکونه ضبطې شوې اروپایانو او کمپنیو ته تخصیص شوی - اوبومی خلک ګټومګر بیکاره ووسیموته ولیږ دول شول اوپه دې ډول دافریقې په زړه کښې اروپایې ټولنې جوړې شوې .

دا فریقا په ځینو برخو کښې ډېرې ولسی ځمکې داستعماری هېوا د ملکیت اعلام شوې دد غو مځکو داداری اوتنظیم کارقامی مشرانو او هغوخانانو او لویانوته وسپارل شووچه لویه تکیه یې په استعماروه دوې ترهغو ددغو مځکواداره لرلای شی چه استعماری ترې خوښ وی په هغه ورځ چه رضایت او اعتماد یې ترې سلب شوبیانو دوی نور دمځکې اداره چیان نه دی .

داسې هم ډېرشوی چه ټوټه ټوټه مځکې دڅه وخت دپاره په بذګرو وویشی اوپه بدل کښې یې هر څنګه کاراوبیګاراوخدمت چه وی په هغوو کړی حتی ویې وهی اومړه یې هم کړی.دد غواداری لویانو یو مهم کاردادی چه له دغسې بذګرونه مالیې ټولې کړی او حکومت ته یې وسپاری په بل عبارت حکومت د غسې قامی مشرانوته دد ې واک ورکوی چه لاس لاندې بذګراودهقانان چه څنګه غواړی هغسې پرې وکړی بذګر- دقام لویانو- اولویان بیا حکومت ته دما لیواو کار وبیګار په باب سخت مسئولیت لری قامی لویان چه هر څه وغواړی پدې برخه کښې په بزګرو کولی شی-

په دې ټولو کښې دامتیاز ورکولو مسئله مهمه وه خارجی شرکتونو په ډیرو اسیائی اوافریقا یی هیوا دو کښې په لومړی یوه ټوټه مځکه په امتیاز اخیسته -هغه به یې استعماری مرکزوو -اوله هغه ځایه به بیارشوتونه، دسیسې اوسل راز چلونه په ټول هیوادو کښې خپر یدل چه نتجه به یې ددوی په قوت اود ځا یی وګړ و په ضعف تمامه شوه .

په هند کښې دایسټ انډیا کمپنی چل اوول ټولو ته ښکاره دی-همدغه کمپنې وه چه د ټول هند سیاسی اونظامی تسخیر دپاره یې لارخلاصه کړه او بیا هند خپل حاکمیت اوسیاسی شخصیت بایلود.همدغه کانی په روډیشیا-بلجیمی کانګو -نایجریا -تقریباً په انډو نیزیا،عراق په نزدی ختیځ کښې په عربستان، مصراونوروو شوی. همدغه سبب دی چه څه وخت چه ولسی نهضت قوت موندلی لومړی مقصد یې داشوی چه دخارجی شرکت امتیاز لغو کړی. د ایران دتیلو مسئله -دسویز کانال دامتیاز الغا-په همدغه حساب کښې راځی

استعمار په زراعت کښې خلک دیته مجبور وی چه هغه شیان وکری کوم چه صناعتی مملکتونه زیات په کاردی اوکارخانې پرې چلوی لکه - پنبه - ربړ - جوټ - کافی - ککو او اسې نور. افریقا د طبیعی شتمنیو اوکانو له حیثه ډیره غنی ده - هر راز معدنیات په کښې شته لاندنی احصائیه یې معدنی شتمنی داسی ثبتوی:

دنړی په معدنی پیداوار کښې د افریقا

برخه

(۱۹۵٦ - کال فیصدی)

دمسو معدنیات	۲٤و٤
سرب	۱۲و۷
قلعی	۱٥و۹
رانجه	٤و۷۷
طلا	٦۲ر۸
الماس	۹٦و۳
فاس فیت	۳۲و۳

(دا احصائیه له انټرنیشنل افیرز ګڼه ۲ - ۱۹٦۰ نه اخیسته شویده)

مګر داټول معدنیات ارو پایی او امریکایی شرکتونو ته په امتیاز ورکړ شوی دی - انحصاری شرکتونه په ټول طاقت زیار باسی چه استخراج وکړی اودنړی بازاروته یې وړاندې کړی - اولو یه ګټه پرې وکړی، دغو شرکتونو داومو موادو دخارجولو اود مصنوعو موادودرا وړاو دپاره بنایسته ډیر دو ړو راوړو لاری جوړې کړې هم دی - سرکونه - داو سپنې لاری اوبند رونه یې ودان کړی خودا ټول دخپلی اقتصادي ګټې دپاره.

یونفر فرانسوی محقق - (بناغلی اياشی) په خپل یوه کتاب کښې داسې لیکی:

هغه عصری بندرونه چه په استعماری دوران کښې په مراکش کښې جوړ شوی له خارج نه د امو الو دوار دولو اودمحلی خاموموادو دصادر ولو دپاره وو. داسې هم دا بندرونه داستعماری لښکرو دتګ راتګ دپاره جوړشوی وو. دمو ټرو سرکونه دخار جیا نو دعراد ودپاره ووچه ا تیا فیصده جوړ وو داسی هم په سلوکښې ا تیا برخې داوسپنې لارې په هغو سیمو کښې جوړې وې چیرته چه دفا سفو را یت، و سپنې منګانیز - اونورو فلزی موادو کانونه او داسی نور هغه محصو لات وو چه ار وپا یی شرکتو پو ری یې اړه لرله. دبریښنا ۷۷ فیصده دخارجی کمپنیو کانو فابریکو اوکار خانو ته تلې په دا سې حال کښې چه دتولیدي ټولې بریښنا اتمه برخه به مراکشیان مصرفوله. مونږ پوهیږو چه مراکش نظر دافریقې نورو هېوادوته په صناعتی لحاظ ډیر د مخه دی.

ددې ټولو خبر و نتیجه داکیږ ی چه دمستعر و له طبیعی منا بعونه لعظمی استفا ده دا ستعمار ا صلی هدف دی. دامر یکی ځینو کمپنیو دغر بی ارو پا په مستعمرو کښې د۱۹٤۷ - ۱۹٥٤ کلو په مینځ کښې په کال کښې ۳۳ فیصده ګټه خپلو سهم لرو نکو ته ورکړه په داسې حال کښې چه په خپل ملک کښې یې په کار اچول شوو پانګو ګټه په سلو کښې له ٤، ۱۱ نه تر ٦ر۱۳ وه داسې هم دبریتانی (لوګانا) کمپنی په روډیشیا کښې خپلو سهم لرونکو ته په (۱۹٥۰ - ۱۹٥٤) کلونو کښې کال له ۲۰۰ نه تر ۲٥۰ فیصده ګټه ورکړه (اخیسته له انټرنیشنل افیرز - دو همه ګټه کال ۱۹٦۰). افریقا برسیره پرمعدنیاتو نورطبیعی منابع هم لری خوځنګه چه په هغو کښې استعماریونو ته دومره زیاته ګټه ممکن کېدای نه شی - ځکه نو په هغو ساحو کښې څه نه دی شوی اویا کمشوی ډیرلږ او یوازې هغو مره چه ددوی ښه پر ې کیږ ی لکه بر یښنا. اوکه نه افریقا دابی بریښنا دمنا بعو له کبله دلو یو اوازدو سیندو لراو په وجه په ټوله نړۍ کښې په دریمه درجه راځی اودلمر دانرجی له پلوه بیجو ړی ده. دګټې بله لاره پورور کول - اونظامی وسلې خرڅول دی ځکه هغه څه چه د هغو په بد ل کښې ا خیستل کیږ ی - په کر ا تو له ا صل قیمت نه زیات د ی

ښاغلی سردار محمد داؤد صدراعظم چه د وطن و روستی اجتماعی ریفورم او اقتصادی پلانونه دیه په
نه ستړی کېدونکی فعالیت عملی کیږی :

دمستعمری نه اومه مواد ـ اوزراعتی محصولات داستعماری کمپنیو په کڼټیواو وسایلودا خل اوخارج ته وړل کیږی اوڅنګه چه تجارتی بیړی داوسپنې لاري ـ الوتکې، بندرونه اوداسې نور وسایل دکمپنیو په انحصار کښې دی ـ ځکه له دی لارې هم ډېره ګټه د استعمار په بانك کښې ننوځی .

خبره چه لنډه کړود مستعمرو ټولې اقتصادی مهمې ځانګی دیوی ډلې په لاس کښې انحصاروی، ددې ډلې غړی زیاتره د استعماری هېوا د پانګه ورله و سوداګروی کله کله بومی سوداګرهم ورسره شریك وی .

هو ـ انسانی قوت پاتې شو ـ دبومې خلکو شمېر طبعاً زیات وی اوڅنګه چه ددوی دژوند سویه ډېره ټیټه ده او بیکاری هم په کښې زیاته ده ځکه نود کار اجرت هم ډېر لږ ورته ورکول کیږی ـ کانګو په افریقا کښې نظر نورو هېوادو ته صناعتی دی یعنی ډېری کمپنی مخصوصاً دکتانګا په معدنی سیمه کښې په استخراج لګیادی. دغه هېواد له یو میلیون نه زیات کارګرلری چه دټول نفوس اته فیصده یې تشکیلوی ـ په کانګو کښې پنځه انحصاری کمپنی کارکوی ـ چه تقریباً نوی فیصده پانګه ددوی ده او دوی دکانګو واقعی واکدارانِ دی دغو کمپنیو ته انسانی قدرت ډېر په ارزانه بیه لویږی دوی دلوایی چه دبومی خلکو دژوند ضروریات کم دی نو باید هغو مره اجوره واخلی ـ چه څومره د دوی په ملك کښې رواج لری ـ دغو کمپنیو او همدارلز په خپله استعماری حکومت په پخو اوختو کښې نه یوازی داموالو تجارت کاوه ـ بلکه دکارګرو یعنی افریقایی تورپوستو کارګرو په تجارت هم لګیاوو ـ ډېر افریقایی کارګر له افریقانه نورو ځایو ته اویا له یوه ملك نه بل ملك ته دپیسو په بدل ورکړشوی اوخرڅ شوي دي ـ اواستعمار یانو دغلامانو لوتور پوستو په تجارت ډېری ګټې کړی دی .

داستعمار طبیعی ملګری :

سره ددی هم داټول کارونه یوازی په زوراو قوت نه کیږی ـ له زور نه غیر نوری لارې هم شته چه کله کله ډېری موثری وی خودومره ده چه دهر کار شاته زور وی ـ اوچه کشاله پیدا شی اوپه نور ولار ویې کړل رول ممکن نه وی پولیس اوژاندارم اووسلې خوشته، تقسیم کړه اوحکومت وکړه ډېرمشهور استعماری اصل دی په تګ راتګ باندی ډېر قیداوقیودوی دیوه هېواد له یوې سیمې نه بله سیمه نه خبریږی. هره پېښه اوهر څه چه کیږی کوښښ کیږی چه په هغه حداو حدود کښې پاتې شی ـ اونورو ځایو ته سرواینه وهی . محلیت په قوت ساتل کیږی .

په هر قیمت اوهره وسیله چه وی استعمارغواړی چه ولسی اوملی قوتونه دې تل په کنټرول کښې وی ـ دپیسو ـ فتنو اود سیسو ـ بندلوته لویه پاملرنه وی ـ څوك وېرول کیږی ـ چاته دسرو اوزیړو ګلونو باغ بشی اوڅوك دمجهولې آینده دپاره په طمع کوی ـ په هره ـ مستعمره کښې تل دا فکر کړل کیږی چه استعمار اواروپایی هېوادونه یوازنی خلك دی چه دمملکت متخالف قوتونه په کنټرول کښې ساتلی شی اوکه دوی نه وی قامونه به یو بل سره وخوری لوتل به جنګونه اووژل وی ددغه منظور دپاره زیار ایستل کیږی چه هغه قبیلی چه بیر ته پاتی او اطرافی او جنګی وی دنسبتاً پوهو اومنورو اوښاری خلکو په مقابل حمایه کړی اوپیسی ورته ورکړی اوچه کله ملی نهضت پیدا شی ولسی مشران اولویان تیارزو کړی ـ معاش خواره یې په مقابل کښې جګ کړی ـ اوکه لازمه شوه په جنګ یې واچوی یعنې اوبه خړې کړی اوماهیان په کښې ونیسی .

داستعمار ټول فکر په دغولارو خرڅیږی ځکه نو صحی ـ عرفانی اواجتماعی چارونه دومره توجه نه وی ددی نتیجه داوی چه یوه خودژوند سویه په اخری

درجه ټیټه وی اوبله داچه بیکاری او غربت په کښې ډېر شی ـ اواخلاقی فسادزیادت وکړی ـ قحطی ـ قیمتی ـ ناروغی دومره زیاته وی چه حتی د نفوسو دطبیعی انکشاف مخه نیسی ـ همدغه سبب دی چه په افریقا کښې دنفوسوغټه برخه یاخوپه جنګو کښې وژل شوې اویاقحطی، قیمتی ځپلی وی یاخو غربت لاندې کړی وی اورنځ اومرض په کښې ځای نیولی وی .

داسعمار منطق :

سره ددې ټولو خبرو ـ استعمارهم بیخوابه نه دې یوعالم دلایل لری ـ اویووخت بل وخت یې یوه اوبل ته اوروی ـ استعمارځانته مفسران لری ـ لیکوال او عالمان لری ـ ښوونځی لری ـ چه په هغو کښې دمستعمر واوادارو په باب خپلې مفکورې خپروی او کوښښ کوی چه په هرسر کښې حق دځان په خواوښیی اوځان بیګنا ه اولوی خد متګاره معرفی کړی . دلته هم تل له تلقینی وسایلو کارلاخلی . خپرونې ـ ورځپاڼې ـ مبلغان ـ اومذهبی مشران په کار اچوی او کوښښ کوی چه خپل دمطلب اومقصد ټکی خپاره کړی ـ دوی ترهرڅه دمخه په دې عقیده ه ټینګ ولاړدی ـ چه انسانان په طبیعت کښې برابراویوشان نه دی ـ ځینې طبعاً لوړ اوعالی استعداد لری ـ اوددې دپاره خلق شوی چه باداری اوسرداری ولری ـ اونوریعنی تور پوستی او زیړ پوستی طبعاً نامنکشف اونامستعددی ـ یعنې چه رنګ او نژاد استعداد علامه ده . همدغه

سبب دی چه درنګ اونژاد ـ اجتماعی موقف ـ اوعقیدې امتیاز یوطبیعی کار ګڼل کیږی او ذلت البینی مناسبات په همدغه اساس ولاړوی ـ په دې کښې ټینګاروی چه تورپوستو ته کتل اوله هغو سره نژدې کېدل دسړی داکراه سبب ګرزی اوچه دوی له ښکلو سپین پوستو سره طبعاً برابر نه دی بایددوی بیل وساتل شی :ـ مکتب یی بیل وی ـ شفاخانی ـ دوړوراوړو وسایل اوهرڅه یی له سپین پوستوسره یوځای نه وی .

ددوی په عقیده اریائیان ـ سپین پوستی ـ انګلوساکسون اوځینی خاص نژادونه په دې ماموردی چه نامستعدو ته هدایت وکړی اودترقی په لاریې روان کړی دوی وایی چه مونږ بیر ته پاتې هېوادو اومستعمرو سره مرسته کوو یعنې چه دوی په کولتورادب ـ اقتصاد او سیاست کښې دومره وروسته دی ـ چه نه شی کولی خپل ځانو نه تمدن اوتهذیب ته ورسوی په بل عبارت مونږ په دې ماموریو چه دوی ته تهذیب اوتمدن اداره ، سیاست اوچل اوول وښیو ـ برسېره پردې ددوی په عقیده وروسته پاتې اومخصوصاً افریقایی قبایل که په خپل سرپاته شی یوتربله به تل په اخ وډب اوجنګ جګړو اخته وی . دوی ځان نه شی اداره کولی ـ دحکومت په چم نه پوهیږی ـ په دې نه دی خبر چه دژوندانه بیل بیل اړخونه څنګه په مخ بوځی ـ پانګی نه لری ـ وسایل اوذرایع په کښې نشته نودوی په دې ټینګار لری چه همداموږ یوچه دوی سره مرسته کوو یعنې چه غواړو ددوی سویه لوړه کړو ،

علم اوتخنیک اوصنعت په کښې رواج کړو ـ شفاخانی پلونه ـ اودوړراو . وړولارې ورجوړې کړو ـ د اقتصاد طرز ـ سوداګری اونورورته وښیو ـ اودې حدته یې ورسوو چه څه وخت مونږ بیر ته شواووطنو ته ځو ـ دوی دومره حدته رسیدلی وی چه ځان او هېواد اداره کړی په دې بهانه دوی تل زیار باسی چه خپل سیستم ـ اخلاق ـ کولتور ـ اوهر څه پرې وتپی دکلیسالویان وراستوی چه هغوی عیسویان کړی اوله خپل مذهب نه یې واړوی .

په همدې منطق دوی په مستعمروکښې هرراز مخالف اوولسی حرکت ته چه مطلب یې دخپل هیوادازادی او داستعمارو تلوی په کرکه ګوری اوهغه پخواله وخته ښیی وایی چه دغسې ډلې اولویان په حقیقت کښې ورلنکاران او مخربان اویادخارجیانو نمایندګان دی چه غواړی

دشخصی غرض دپاره امنیت اوکراری ته صدمه ورسوی اوپه ملك کښې شوروغوغا سازه کړی. ځکه نوددوی په مقابل کښې زورزیاتی روا بولی اوچه څویې دلاسه کیږی دغسې خلك یاخووژنی او یاخو یې له وطنه پراروی - اودکار کمپوته یې لیږی. مګر سره ددې ټولو استعماری زور ګیریواوو هلو ټکولو - بیاهم د استعمار په مقابل کښې لوی لوی نهضتونه شته اوکیږی - دا نهضتونه مخصوصاً له دوهم جنګ راپه دې خواپه مستقیم ډول روان دی - چه دهغو په برکت تراوسه زیاتې مستعمری ازادې شوی دی - اونن ورځ یې دبیطرفه هېوادو په نامه دسولی اوامنیت یوه لویه او پراخه سیمه جوړه کړې دا نهضت دملی ازادی - حرکت دی چه موجونه یې په ټولواسیرواو مستعمروهېوادوکښې په ډیرقوت خواره دی. د همدغه حرکت په برکت قوی امیددی چه پاتی اسیر او مستعمره هېوادونه چه زیاتره یې په افریقا - اوځینې یې په اسیا - اودلویو بحرونو په ټاپوګانو کښې ژوند لری - اونژدی یوسل ملیونه وګړوته ورسیږی - ازاد شی.

(پای)

یادونه :

ددې مقالې په لیکلو کښې دلاندې خپرونوله هغو برخونه چه استعمار سره یې تعلق لاره استفادې شوې دی :

۱ - د اجتماعی علومو دائرة المعارف - مخ (۶۵۳) دری یم ټوك - دنیویارك چاپ

۲ بریتانیکا دائرة المعارف مخ (۳۰۰ ټوك اووم دشیکاګو چاپ

۳ - امریکانا دائرة المعارف - مخ (۴۱) ټوك شپږم د نیویارك چاپ

۴ دانټرنیشنل افیرز مجله (دوهمه ګڼه کال ۱۹۶۰ دك. ایوانوف مقاله) دمسکو چاپ

هرچاوځورولم

ځینو پخپل عشق وځورولم - ځینو په کینه زما زړه آزار کړ.

چا دعشق په زهرو زما ډوډۍ ولړله ، چا زما دشرابو په پیاله کښې دکینې زهر توی کړه ،

مګر له چانه هغه چا ډیروځورولم چه نه یی راسره کینه پیدا شوه اونه مینه . (هاینه)

فلسفی برخه

محمدصدیق روهی

آزادی

دانسان د آزادی موضوع د متفکرینو، فیلسوفانو، شاعرانو روحانیونو او سیاست پوهانو د پاره همیشه یوه برخوندور بحث پاتې شوې دی او هر چا د خپل ذهنی استعداد او پوهې سره سم په دې ډګر کښې د خپل سوچ او فکر نیلی ځغلولی دی هر څوك آزادی ته په خپله هنداره کښې ګوری او هر څوك یوائې خپل نظر درست ګڼی . حتی ځینې خلك نه غواړی چه له دې پوښتنې سره مخامخ شی او وایی چه بالاخره د دې بحث نتیجه څه ده ؟ مونږ ولې پر یوه داسی موضوع باندی خپل وخت ضائع کړو چه د هغې په باب تر اوسه نهایی پرېکړه نه ده شوې او له هغې څخه کومه عملی ګټه هم نه ده متصوره مګر حقیقت دادې چه آزادی د فرد او اجتماع په سرنوشت کښې د پرزیات دخل لری . هیڅ یو معقول انسان دې ته نه حاضریږی چه بی له یوې مشخصې ایډیالوجی او یوې کلی جهانبینی څخه په ړند و ستر ګو حرکت وکړی مونږ باید د آزادی په باب یوه روښانه مفکوره ولرو او هم دغه مفکوره به وروسته د فرد، ټولنې جهان ، طبیعت او قوانینو په باب زمونږ د قضاوت د پاره لار خلاصه کړی .

فلسفه ، اللهیات ، ساینس ، اقتصاد ، سوسیالوجی، سیاسیات، د فلسفې ځینې څانګې لکه اخلاق ، سایکالوجی او داسی نور د خپل قضاوت د پاره د آزادی موضوع د یوې زیربنا او اساس په حیث مطالعه کوي : یو سیاینتست ترڅو د طبیعت میکانیزم و نه منی ، یو متدین ترڅو چه په خپلو اعمالو کښې ځان مختار و نه ګڼی ، یو سایکالوجست ترهغې چه د یوه فرد کړه وړه دارادې د وجود یا عدم له مخې مطالعه نه کړی ، یو مورخ ترڅو د تاریخی نوامیسو او دینامیزم په باب د یوې مشخصې مفکورې خاوند نه وی ، یو اقتصاد پوهاند ترڅو د اقتصادي چارو او له پانګی څخه د آزادی استفادې په برخه کښې د ځان سره فیصله ونه لری ، یوه مقنن ترهغې چه افرادو ته دارادی په آزادی قائل نشی... .. .. ، نشی کولی چه د خپلې مطالعې په ساحه کښې ګام پورته کړی، قضاوت و کړی قوانین لاس ته راولی او احکام صادر کړی .

کله چه لیکونکی د آزادی په باب څه لیکی نو معمول سره سم هغه د علومو په مختلفو څانګو کښې تر بحث لاندې نیسی ځکه چه آزادی په مجرد ډول نشی مطالعه کیدای :

د څه شی آزادې ؟ د څه شی په مقابل کښې؟ څومره آزادی څنګه آزادی؟ او داسی نور.

د مثال په ډول ژان ژاك روسو ویلی دی، انسان آزاد پیدا شوی دې لیکن په هر ځای او هر وخت کښې په ځنځیرونو تړل شوې دې . یو څوك به دا پوښتنه هم وکړي چه انسان څنګه آزاد پیدا شوی دی ؟ آیا د مور له بطن څخه نه دی زیږیدلی ؟ آیا د طبیعت په لمن کښې نه دی پیدا شوی ؟ آیا له طبیعی شرائطو څخه یو مستقل او بی نیازه مخلوق دی ؟ آیا له بشری ټولنی څخه جلا او آزاد ژوند کوی ؟ او داسې نور نو دلته باید د « آزاد » مفهوم پوره څرګند شی همدا رنګه دغه « آزاد انسان » د چا له خوا په ځنځیرونو تړل شوی دی آیا د علت او معلول په ځنځیرونو تړل شوی دی ، که د کوم بل انسان یا ټولنی په واسطه ، یا د کوم ماوراء الطبیعی قوت له خوا ؟ آیا هغه څوك چه په ځنځیرونو تړل شوی وي آزاد ګڼلی شو ؟ دا او داسی نوری پوښتنی حتماً منځ ته راځی. نو له دې کبله باید د انسان آزادی له مختلفو اړخونو څخه وڅیړل شی لکه : روحی آزادي ، اخلاقی آزادی، حقوقی آزادی سیاسی او اقتصادي آزادی، مذهبی آزادی او داسې نورې.

مګر موږ په دې لنډ بحث کښې نشو کولای چه هر ډول آزادی تر کتنی لاندې ونیسو د مثال په ډول د بحرونو آزادی ، د فضا آزادی ، د تجارت آزادی

اودلسې نورهم له دغه موضوع سره اړه لري په داسې حال کښې چه دد غوټولو مطالعه په دې مختصر کښې نه ځائيږي دلته مونږ يوائې په عمومي ډول سره دطبيعت يا جهان په مقابل کښې دانسان آزادي مطالعه کوو :

فيلسوفان د آزادۍ يا اختيار يا تفويض په مقابل کښې د ډټرمينزم (معينيت Determinism) يا جبر کله استعمالوي . د جبر او اختيار په باب فيلسوفان په درو مختلفو ډلو ويشل شوي دي : لومړۍ ډله د انسان اراده آزاده ګڼي او مختار يې بولي. دوهمه ډله وايي چه دانسان اراده آزاده نه ده ځکه چه هيڅ کار بې علت او سببه نه واقع کيږي، هر کله چه علت موجود شي معلول واجب دي ، دانسان عمل هم حتماً يو علت لري حتي هروخت چه دده اراده کوم کار ته اقدام کوي هغه هم يو علت لري او همدا دعلتونو سلسله يو تر بله تړلې ده او د انسان په اختيار کښې نه ده . دريمه ډله نه د مطلق اختيار او نه دپوره جبر طرفداران دي چه دهرې ډلې دلائل به په جامع ډول بيان کړو.

دکارت مشهور فرانسوي فيلسوف ، وايي چه دانسان اراده آزاده ده اوله خپل ځانه اختيار لري. البته دا آزادي او اختيار داسې نه دي چه خپله اراده بې له کوم شرط څخه په هرشي پورې وتړي، يا هر کار ته چه اراده وکړي سرته يې ورسولي شي بلکه مقصد دادي چه انساني اراده کوم مانع او قاصر نه لري خو البته مرجح ته ترجيح ورکوي، هروخت غواړي چه خير او نيکي غوره کړي اوله بدۍ څخه ځان وژغوري. دا شرط (يعني دخير او نيکي غوره کول) دآزادۍ منافي نه دي . نوله دې امله ويلي شو چه انسان مختار دي اما البته هغه څه چه ښه او درست وګڼي اختيار وي يې او دحق طرف نيسي . خو ښايي چه دحق په تشخيص کښې اشتباه وکړي ځکه چه فکر يې لنډدي. بايد په دې وپوهيږو که څه هم دانسان اراده آزاده او نامحدوده ده مګر قدرت يې نامحدود نه دي .

شوپنهاور وروايي، « اراده دهغه ړانده او قوي سړي په شان ده چه يو سترګورشل يې دلا رښوونې دپاره پرلوږو آخيستي وي. » دشوپنهاور مقصد له دغه سترګورشل څخه عقل دي ، يعني عقل هم دارادې نوکردي. بل ځای وايي « دبدن حرکت او دارادې عمل دوه مختلف خارجي شيان نه دي چه دعليت په ځنځير يو تر بله تړل شوي وي ، دهغوي رابطه د علت او معلول رابطه نه ده بلکه دواړه ديوه حقيقت نومونه دي چه په مختلفو بڼو ليدل کيږي، يعني کله مستقيماً (دارادې په بڼه) درک کيږي او کله دحواسو (يعني دبدن دحرکت) له لارې. دبدن عمل هماغه د ارادې عمل دي چه تجسم يې پيدا کړي دي او دغه څه دجسم په ټولو حرکتونو کښې واقعيت لري : يعني ټول بدن مجسمه اراده ده ...» دشوپنهاور په عقيده اراده د انسان حقيقت دي او که ووايو چه د ژوند دټولو مظاهرو حقيقت همدغه اراده ده او حتي اراده دټولو بې روحه شيانو حقيقت هم دي نو په دې خبره کښې هيڅ ډول مبالغه نشته .

شوپنهاور دارادې دآزادۍ د پاره داسې دليل راوړي چه هر فعل چه له ماڅخه صادريږي زما په تن پورې اړه لري او زما دتن هر يو فعل زما دارادې نتيجه ده . نوله دې امله زما ټول کړه وړه زما دارادې په وسيله څرګند شوي دي :

هر کله چه دانسان اراده آزاده ده اوله خپل ځانه اختيار لري نو ويلي شو چه انسان آزاد دي او آزادي يو حقيقت دي . مګر مونږ به دمخالفينو آواز ته همدغوږ و نيسو ځکه وايي چه «هرڅوک چه په يوائې سرقاضي ته ورشي خوښحاله بېرته را ځي .»

دسپينوزا په عقيده، انسان مختار فاعل بلل او دده اراده مطلقه او آزاده ګڼل دغفلت يا ناپوهۍ له امله ده . اراده بالکل وجود نه لري او يو بې معنی لفظ دي . هغه څه چه حقيقت لري جزئي ارادې دي

یعنې داچه څوك یو کارته قصد کوي لیکن هر قصد یو موجب اوعلت لری که هغه علت نه وای ، هغه قصد به هم نه وشوی اوهغه علت هم دیو بل علت معلول ګڼل کیږی. سپینو زاوایی ، « خلك له دې امله خپل ځانونه آزاد اومختار ګڼی چه له خپلو ارادو اومیلونو څخه خبردی لیکن دد ې امیالو او ارادو له علتونو څخه خبرتیانه لری . »

برګسون فرانسوی فیلسوف داپورته نظریه په دې ډول تر دیدوی چه دعلت اومعلول سلسله دجماداتو اوغیر حیه موادو په مورد کښې صدق کوی اماد انسان په برخه کښې دمعینیت پرنسیپ نه شو تطبیقولای ځکه چه انسان همیشه متحول او متغیر دی اویو متحول شی تریوه معین قانون لاندې نه شو راوستلای . فردی خواص دقانون له تاثیر څخه تښتی. نوله د ې امله ویلی شو چه آزاد ې ممکنه ده ځکه چه په فرد ی تصمیم پورې اړه لری .

همدارنګه برګسون دروحی جبریونو په مقا بل کښې چه وایی دانسان آراده دخا رجی محرکاتو په وسیله یوې ټاکلی خواته سوق کیږی اودقوی محرکاتو متابعت کوی. داسې ځواب ور کوی چه دلبز اوزیات یاقوی او ضعیف اصطلاح په فزیك کښې استعمالیږی (مثلاً کله چه پریوه جسم باندې له یوې خواپنځه کیلو ګرامه قوه راشی او له بلې خوا پر ې در ی کیلو ګرامه قوه وارده شی هغه جسم به ددرې کیلو ګرامی قوې خواته حرکت وکړی ځکه چه لومړی قوه زیاته ده) مګر دنفس اوشعور په برخه کښې دااصطلاح مورد نه اری ځکه دنفس احوال چه یو ډول کیفیت دی له مادی شیانو سره چه کمیت بلل کیږی کوم مشابهت اوورته والی نه لری . دمثا ل په توګه ویلی شو چه دنفس احوال متنوع دی امانه شو ویلای چه متعدد دی ځکه دشمېر اوتعدد دپاره افرادلازم دی امادنفس په احوالو کښې افراد اواجزاء نه شو تشخیص کولای. برګسن دخپل مطلب دتوضیح دپاره مادی مثال راوړی که څه دده په عقیده ښایی چه دمعنی د پاره ماد ی مثال را نه وړل شی خو بیاهم د(لامناقشة فی المثل) په استناد وایی چه تاسې یو آوار په نظر کښې ونیسی ، چه دسندرغاړی له حنجر ې څخه ر ا و ز ی او تر یو وخته پورې دوام کوي، بې له دې چه آواز قطع شی سندرغاړی خپل آواز کله زیر او بم کله زیږ او پوست یا ټیټ او لوړ کړی . ویلا ی شو چه آواز مختلف او متنوع حالات درلودل مګر داسې ا د عاء نـه شو کولای چه آواز متکثر اومتعد دو. همدار نګه برګسون وایی چه ډېر خلك له دې ا مله کیفیت له کمیت سره اشتبا ه کو ی چه کیفیتو نه یو پربل پسې متو الی او سره پراه پسې راځی چه دزمانې په تیریدو کښې پېښیږی او ز ما نه ځینی خلك کمیت ګڼی.

دبر ګسون پرخبرر به یوځل بیانظرواچوو ه دې وایی چه دلبزاوزیات یاقوی اوضعیف اصطلاح په فیزیك کښې استعما لیږی اما دمعنوی حالاتو په برخه کښې دااصطلاحات موردنه لری نوځکه نشو ویلی چه دانسان اراده به دقوی محرکاتو متا بعت وکړی. دبرګسون خبره به په عملی ژوند کښې تجربه کړو اوپه لا براتوار کښې به یې تطبیق کړ وکه څه هم چه د ی به له لا براتوارسره هم مخالفت وکړی، که مونږ یوه سړی ته چه ډېرزیات وږی وی په یو پیشقاب کښې سالن او ډوډۍ راوړو اوپه بل پیشقاب کښې یو کاڼی ورته کښیږدو . دغه وږی به کوم یو وخوری . طبعاً که دانسان زوی وی نوډوډ ۍ به وخوری ، مګر ښاغلی برګسون په دې برخه کښې حتی یو نسبی قضاوت هم نشی کولای چه دغه وږی به کاڼی وخوری که ډوډۍ؟

ځینی فیلسوفا ن عقیده لری چه دهرچا اراده آزاده اودهغه شخص پرسجیه باندې متکی ده اوهر څوك دخپلې سجیې پراساس مختلفو اعمالو اوحرکاتو ته اقدام کوی .

مګر روحی ډټرمینستان (جبریون) دا خبره نه منی او وایی چه د هرانسان سجیه هم د هغه د وراثت

محیطی شرائطو اونورو محرکاتو محصول بلل کیږی اوزموږ دتصمیم په شان معینه شوي ده . انسان نه وراثت اونه محیط په خپله خوښه انتخاب کړی دی اوله همدې امله دخپل ځان دپاره سجیه نشی ټاکلی.

برګسون بیا هم دې خبرې ته ځواب ورکوی او وایی چه انسان کولی شي دوراثت ، محیط اوتربیتی اوضاعوپه خلاف قیام وکړی ،محیط ته تغییر ورکړی او تربیتی وسایل بدل کړی مګر بنایي چه دبرګسون په مقابل کښې هماغه پخوانی ځواب یوځل بیاتکرار کړی شی هغه داچه هو! انسان محیط ته تغییرورکولی شی مګر همدغه دتغییر ورکولو مفکوره هم ورته دمجبوریت له امله پیداشوې ده او په حقیقت کښې دغه تغییر دمحیطی شرائطو په مقابل کښې یوعکس العمل دی، که محیط نه وی ده ته به دمحیط په باب دتغییر ورکولو فکر هم نه وپیداشوی . انسان تربیتی وسایل هم بدلوي شی مګر کله چه یو علت موجود شی او که څه مجبوریت نه وی هیڅ دلیل نشته چه تربیتی وسائل دې بدل کړی .

سره له دې ټولو آیا بیاهم آزادي شته؟ د آزادی طرفداران وایی چه هو! آزادی شته او هیڅ ډول اثبات او دلیل ته احتیاج نه لری ځکه موږ آزادي احساس کوو او انسان په خپل نفس کښې د آزادی پر وجود باندې مستشعردی. آزادی اثبات کیږی نه، بلکه تثبیت کیږي. هر څوك په بداهت سره پوهیږی چه زه آزادیم .وایی کله چه دکارت خپله مشهوره مقوله «فکر کوم-یم» ایراد کړه منطقیانو پرې اعتراض وکړ چه دمنطق له مخې ددې نتیجې دپاره دوې مقدمې لازمی دي او دا دواړه مقدمې باید اثبات تهور سول شي.لومړی ، ثابته کړه چه ته فکر کوې دوهمه دا، ثابته کړه چه هر څه چه فکر کوی وجود لری.دکارت مجبورشو چه ووایی زه په بداهت سره پوهیږم چه فکر کوم او دامقدمه کوم اثبات ته اړه نه لري .سره له دې دآزادی طرفدار ان د آزادی دپاره ځینی شرائط او محدود یتونه منی لکه عضوی اوارثی شرائط ،اعتیادات ،کسبی او ځینی نو رسجیوې قابلیتونه،محیطی او طبیعی تضییقات کله کله دانسان آزادي له منځه وړی .

مونږ به دآزادی په باب د دې مضمون په پای کښې ساینس ته مراجعه وکړو مګر پخوا تردې به دریمې ډلې فیلسوفانو نظریات وڅیړوچه وایی انسان نه مطلق آزاددی او نه بالکل مجبور بلکه هغوی دا دواړه مخالفې عقیدې سره پخلا کوی .

دارسطو په عقیده هغه کار چه یوسړی په خپله اراده کوی او دده اختیار پکښې هیڅ دخل نه لری ښه او بدیې ده ته نه دی راجع او د ده کار ور ته نه شو ویلای مثلاً که یوزور ورباد یو سړی کومې خواته یوسی یا یې څوك لاس اوپښې و تړی نود لته اختیار نشته مګر که څوك دخپل شرافت دساتلودپاره کوم کارته اقدام کوی او خپل عزة النفس یې مجبور وی نو دغه راز مجبوریت دجبر له قانون لاندې نه راځی.یاکه یو سړی دجنګ په وخت کښې دمرګ له وېرې تښتی او خپل ځان مجبور ګڼی دارسطو په نظر دغه معقول عذر نه دی ځکه چه خپله شجاعت یو ډول اخلاقی فضیلت دی او هغه کولی شی چه دننګ او تښتې به منځ کښې انتخاب وکړی یعنی که یوسړی ددوو شیانو په منځ کښې انتخاب وکړی شی،ویلی شوچه دده اراده آزاده ده اوپه هر ځای کښې چه یو چاته دانتخاب حق حاصل نه وی هلته مجبور ګڼل کیږی .

لایبنیتس دانسان داعمالو په نسبت نه جبرته قائل دی او نه دمطلق تفویض او اختیار طرفداري کوی. په دې ډول چه مطلقه آزادی دعلت او معلول له مخې

(لکه چه پخوا موویل)تر دیدوی اوپرمطلق جبرهم معتقدنه‌دی بلکه وایی چه‌انسان مختاردی ځکه‌مختار هغه چاته ویل کیږی چه‌دده فعل‌دشعورله‌مخې‌وی اوبل څوك یې مجبور نه کړی او هغه فعل ممکن وی نه هند سی واجب(۱) او داد رې واړه شرطونه دانسان په اراده کښې موجوددی.په‌دې کښې شك نشته چه انسان عقل ـشعوراودتمییز قوه لری که څه هم‌زیات او کم پکښې شته او محدوده ګڼل کیږی. بل څوك یې هم نه مجبور وی ځکه چه هرانسانی نفس یو ځانګړی جوهر دی اوپر جوهر باندې له خارج نه تأثیر نه رالحی اوهر اثر چه دده په وسیله منځ ته‌رالحی دده پرباطنی قوه پورې اړه‌لری. خوهرکله چه انسان مخلوق دی نوله دې کبله محدود دی او دخالق تعالی په شان بشپړقدرت نه‌لری.هغو کارونو ته چه اراده کوی البته ممکن کارونه‌دی‌یعنی کولی شی چه سرته یې ورسوی اویایې پریږدی. په نتیجه کښې ویلی شو چه انسان مختار فاعل دی که څه هم دده اختیار دخدای (ج)له اختیاره سره پوره توپیر لری .

ایما نوئل کانت هم دهغو فیلسو فانو له ډلې څخه دی چه له‌یوې خوا دمطلق نظری عقل له مخې انسان مجبور ګڼی اوله بلې خوا د عملی عقل له مخې انسان مختار بولی .دده دعقیدې توضیح په‌لنډ ډول دادی چه په کائناتو کښې دعلت‌اومعلول سلسله جاری ده او دطبیعت کارونه دحتمی قوانینو تابع دی په نتیجه کښې ویلی شو چه دانسان اراده هم دعلیت دقانون پر اساس ازاده نه ده لیکن همدغه مطلق عقل کله چه نظری جنبه پریږدی او په عمل کو تې پورې کړی نو بې له کوم دلیل اوبرهان څخه بنا لبدا اهه حکم کوی چه‌انسان له یوه سره دطبیعت د امورو تابع نه دی بلکه‌دده په نفس کښې بې له عوارضو او حادثاتو څخه یو بل شی هم‌شته چه هغه عملی عقل دی .نظری عقل که څه هم دغه حقیقت له درك څخه عاجز دی او اثبات ته یې نشی رسولی خو سره له‌دې له هغې څخه انکار هم نشی کولی.

دکانت په عقیده ددې تنازع سبب دادی چه دانسان په وجود کښې دوه قوې شته یو. طبع‌اوبل عقل .دطبعې له مخې د طبیعت په عالم پورې مربوط دی او کوم اعمال چه له هغې څخه پیداکیږی‌پیښې او عوارض بلل کیږی چه دعلت اومعلول دقاعدې تابع‌دی‌که دانسان په‌وجود کښې یوازې طبع وای او عقل یې نه درلودای نودده ټول اعمال به‌موجب او دمجبوریت له امله وو اواختیار به یې نه لاره اما انسان عقل لری او دهغه په سبب دمعقولاتو په عالم پورې تړلی دې کوم چه په زما نه‌پوری اړه نه‌لری اوله پیښو او عوارضو څخه مستقل اوآزاددی عقل که څه‌هم‌قانون‌اوقاعده لری‌اما دغه قانون هم دده مخلوق اودده په وسیله منځ ته‌راغلی دی. خوهر کله چه دانسان په وجود کښې طبع هم شته‌نوځکه‌یې‌ټول کارونه‌دعقل‌پر قانون برابر نه‌دی.

(۱)ـدهندسی واجب مثال دادی لکه دیوې دائرې قطرونه‌چه یو تر بله مساوی دی او هغه دائره چه قطرونه یې سره مساوی نه وی دهغې‌فرض کول یو متناقض اوممتنع کاردی چه حتی دخدای (ج)په علم کښې هم صورت نه پیداکوی‌اماد دائرې پیدا کول یو ممکن او اختیاری کار دی که خیر اومصلحت وې پیدا کوی یې او که نه وی نه یې پیدا کوی.له‌همدې‌امله حکیمان وایی‌چه‌خدای(ج)یوه محال کارته اراده نه کوی لیکن په‌ممکنو کارونو کښې مختار دی .

دهګل فلسفه دتنا قضا توپر بناولا ړه ده نوځکه دادتعجب خبره نه ده که ووایو چه انسان هم آزاداو هم مجبوردی. دهګل په عقیده حقیقت دعالم هستی اودموجوداتو ژوند له تنا قضا تو څخه ترکیب شویدی . هستی په نیستی کښې ده اونیستی په هستی کښې دا اضداد یوتر بله جمع کیدای شی. دمثال په ډول که مطلقه رڼاوی هیڅ شی هم نه لیدل کیږی دمطلقې تیارې حکم لری.

موږ هغه وخت شیان لیدلی شوچه ر ڼاله سیورې سره یوځای شی.

نوځکه حقیقت دتنا قضاتوله ترکیب څخه پیدا کیږی داترکیب Synthesis (سنتهز) له تهز Thesis او انتی تهز(Anti-thesis څخه منځ ته راځی

د هګل په نظر دجبرمرحله (تیز) اود آز ا دی دوره (انتی تیز)اوددې دواړو له ترکیب څخه انسان ته یو نسبی اختیار لاس ته ورځی. له یوې خواپه طبیعت کښې جبری قوانین جاری دی. له بلی خوا انسان د خپل عقل په واسطه له دغوجبری قوانینو څخه استفاده کوی دزمانې او تاریخ دنیادمطلقیت دنیانه ده بلکه هر څه تحول کوي اوداحرکت له جبر څخه داختیارخواته روان دی .دطبیعی جبرله برکته انسانی اختیارمنځ ته راځی

دهګل په فلسفه کښې داضدادواجتماع اود نسبیت نظر یه له علمی موازینو سره مطابقت کوی مګر کله چه یو مطلق عقل یاعقل کل دجهان یا هستی حقیقت ګڼی اودجبر اوآزادی موضوع دهغه په وسیله حل کوی دده فلسفه له علمی حقائقو څخه لری کیږی .

دآزادی په باب مودفیلسوفانو نظریې وڅېړلې مګر پخوا تردې چه دعلمی جبر مبحث ته ور ننوزو بنایی چه په لنډول سره دجبراو اختیار موضوع د مذهب له مخې هم مطالعه کړوځکه چه په مذهب کښې د جبر اواختیار موضوع فلسفی رنګ پیدا کوی خوالبته یوه داسې فلسفه چه اساس یې هماغه دینی نصوص دی او ددین په دائره کښې دننه ددینی احکامو پراساس مطالعه کیدای شی.

مذهبی معینیت :- دجبراواختیارموضوع له ډیرو پخوازمانو څخه په یهودیت، عیسویت، اسلام او ځینو نورو ادیانو کښې تربحث لاندې نیول شوې ده. دواړه خواوې دخپلو عقاید و دتائیداواثبات له پاره پردینی نصوصو استنادکوی مثلاپه اسلام کښې داختیارد عقیدې پیروان ددې آیت له مخې چه(ایس للانسان الاماسعی) انسان مختار بولی اویاداآیه (اناهد ینا سبیلا فاما شاکراواما کفورا)یعنی موږ انسان ته لار ور وښوو له که هغه شکر کوی او که ناشکری کوی دانسان داختیار دلیل ګڼل کیږي له بلی خوا جبریون ځینو نو روایتونو ته متو سل کیږی، لکه (ختم الله علی قلوبهم وعلی سمعهم وعلی ابصار هم غشاوة ولهم عذاب عظیم) اویاد آمبار که آیه(ومارمیت اذرمیت ولکن الله رمی)یعنی تاغشی و نه ویشت کله چه تاغشی وویشت بلکه خدای (ج)و ویشت دانسان دمجبوریت دلیل دی مګر په عمومی ډول په ادیانو کښې دغه مسأ له دا سې طرح کیږي، هرکله چه خدایتعالی په خپل قدیم علم سره له راتلو نکی څخه خبروی نودی پوهیږي چه زه به څه وکړم اوهرڅه چه کوم دده له ارادې اوغوښتنی سره موافق دی ځکه که خدای(ج)ونه غواړی زه هغه کار نشم کولی او کله چه هر فعل دده په اراده کوم نوځکه آزاد نه یم یعنې زه باید هغه څه انتخاب کړم چه خدای،(ج) غوښتی وی البته ځینې خلک و ایی چه په دې کار کښې دخدای اراده شته مګر رضا یې نه ده نوددې خبرې معنی داده چه خدای (ج)کله کله داسې کارو نوته اراده کوی چه پرې خوښ اوراضی نه دی .

په هرحال کله چه دینی معتقدان دخدای علم قدیم ګڼی اوانسان هم مختار بولی ددې مسألی حل او فصل له ډیرو مشکلاتو سره مخامخ کیږي مګر داسې وایو

چه خدای تعالی قدیم علم لری خو زموږ په کارونو غرض نه لری او دا هم دالله تعالی دصفتو نو منافی ګڼل کیږی دپورته مسألې دحل کولو دپاره ځینې مذهبی فیلسوفان داسې دلیل راوړی چه حال او استقبال نسبی او اضافی مفهومونه دی او دبشر دفکر محصول ګڼل کیږی، الله تعالی دابدیت په حال کښې دی. دده دپاره د حال او استقبال مسائل لکه څنګه چه دبشر په باره کښې یې فکر کوو نه طرح کیږی نو ځکه وایو چه باری تعالی په خپل ابدیت کښې زموږ پر اعمالو نظارت کوی،.....

علمی جبر، دعلومو له ژورې مطالعې څخه د وې کلی نتیجه لاس ته راځی، لومړی داچه هر معلول ځانته علت لری. دوهمه داچه دطبیعت ټولې پیښې په یوه قانون پورې تړلې دی. نو دهمدغو اصولو پر بنا ټولې طبیعی پیښې دعلیت پر اساس او دیوه ټاکلی عمومی قانون له مخې واقع کیږی. پخپله انسان هم دطبیعت یو جزء دی او هماغه طبیعی قوانین پرده باندې هم حاکمیت لری. جهان دیوه ماشین په شان دی او ددې ماشین ټولې پرزې دیوه کلی نظم او قانون متابعت کوی. حتی انسان هم له دغه نظم او قانون څخه سرکشی نه شی کولی موږ دغه قوانین دتجربې له مخې پیژنو او د همدغو قوانینو په متابعت له هغو څخه استفاده کوو مثلا کله چه موږ و ربشې کرو له هغې څخه دغنمو توقع نه لرو. هیڅوک به هم دا انتظار ونه لری چه مثلا دتوت ونه دې ډو ډی ونیسی. یا دې له یوې چرګې څخه انسان وزیږیږی هغه چه دخلکو په نظر «اتفاق» او یا «خارق العاده» پیښه بریښی هغه هم په حقیقت کښې دټاکلو شرایطو او عمومی قوانینو محصول وی چه اکثر خلک دهغې پر علت باندې نه پوهیږی. دا درسته ده چه تر اوسه دډیرو پیښو علتونه په صحیح ډول نه دی څرګند شوې مګر داخیره د دې معنی نه لری چه هغه پیښه دې بې له کوم علت څخه منځ ته راغلی وی. هر څومره چه دپیښو شمیر لا یتناهی دی په هماغه اندازه دعلتو نو شمیر لایتناهی دی دعلم وظیفه داده چه دغه قوانین له طبیعی او اجتماعی پیښو کشف او استخراج کړی.

هر کله چه پر جهان باندې جبرې قوانین حکومت کوی او بشری ټولنې او افراد چه هغوی هم د طبیعت جزء ګڼل کیږی دهمدغو ثابتو او لایتغییرو قوانینو تابع دی نو ځکه ویلی شو چه انسان له خپل ځانه اختیار نه لری که موږ داسې فرض کړو چه دانسان اراده آزاده ده په حقیقت کښې موږ داخبره منلې ده چه دده اراده علت نه لری او په نتیجه کښې دعلت او معلول له قانون څخه چه دعلم اساس ګڼل کیږی انکار کوو. یا داچه ووایو دعلت او معلول سلسله صحیح ده مګر انسان یو خارق العاده او مافوق الطبیعی موجود دی چه دقوانینو رعایت ته څه اړه نه لری.

دعلمی جبر د توضیح دپاره به ځینې ژوندی مثالونه راوړو ځکه چه دعلم اساس پر مشاهده او تجربه باندی ولاړ دی. فرضاً بریالی اراده لرې چه یوه راډیو واخلی، دښاغلی بریالی اراده په حقیقت کښې دراډیو له وجود څخه پیدا شوې ده ځکه که راډیو نه وای له ده سره په هیڅکله هم دراډیو اخیستلو اراده نه وای پیدا شوی که موږ دپنځوسوو کالو پخوا تاریخ ته مراجعه وکړو هلته هیڅ یو فرد نشو موندلی چه دراډیو اخیستلو اراده یې کړی وی او یا یې راډیو اخیستې وی.

داولې؟ هر څوک په آسانی سره پوهیدای شی چه په هغه وخت کښې راډیو نه وه نو دراډیو اخیستلو اراده به له کومه شوې وای؟؟.

نو له دې پورته مثال څخه داسې نتیجه په لاس راځی چه زموږ اراده دخارجی شیانو له وجود څخه پیدا کیږی. له بلې خوا یو څوک به دا پوښتنه هم وکړی چه د انسان اراده

وهغه له نفسي غوښتنو څخه منځ ته راځي مثلاً ښايي چه زموږ په مخکښې دډوډۍ پر میز ډول ډول طعامونه اوراز رازې میوې لوشر بتونه پراته وي مګر کله چه زموږ ګیډه مړه وي او نفس ونه غواړي موږ به هیڅکله هم څه شي ته لاس وراوږدنه کړو امادې ځواب اسان دي هغه دا چه د نفس غوښتنه چه په حقیقت کښې یو بیولوژیکي تعامل او ضرورت دي د انسان دارادې علت ګڼل کیږي نو بیا هم اراده معلول او د نفس غوښتنه (چه هغه هم یو فزیکي وجوب دي) علت شمېرل کیږي.

دغه جبري قوانین نه یوازې په افرادو کښې تحقق هومي بلکه اجتماعي ټولنې هم د دغو جبري قوانینو متابعت کوي د دغو قوانینو مطالعه په تاریخي جبر پوري اړه لري چه محترم لوستونکي د هغې تفصیل د تاریخ په فلسفه کښې مطالعه کولی شي.

(پای)

نوټ: په دې مضمون کښې له لاندې مآخذو څخه استفاده شوې :

(۱)- په اروپا کښې د حکمت سیر- مئولف محمد علي فروغي
(۲)- د فلسفې تاریخ- مئولف ویل دورانت
(۳)- جبر و اختیار د دکتر تقي اراني تالیف
(٤)- د اخلاقو فلسفه- فلسین شاله.
(٥)- غوره نثرونه د ګل پاچا الفت
(٦) د جبر او اختیار د یالکتیک دوږمې له مجلې څخه

قبر او ګل

قبر سره ګل ته ویل :

اې د عاشقانو ګله ! هغه د اوښکو څاڅکي چه هره شپه د چرغبز او سحر له سترګو ستا په ښکلې بڼه راتوئیږي ته پرې څه کوې ؟؟

ګل وویل :

اول ته راته ووایه هغه چه ته یې هروخت خپلې ګیډې ته ننباسې څه ورسره کوي؟؟

قبر وویل : ګله ! زه له هرې اروانه چه ماته یې سپاري پرښته جوړوم او اسمان ته یې لیږم .

ګل وویل : قبره ! زه دغه اوښکې ورو ورو د عطرو او عسلو په صورت تبدیلوم او خلقو ته یې ورکوم .

(هوګو)

دواسعی اختصاراو ترجمه

له ثقافته الهند څخه

ژبه، توری، لیك

کابل مجله دښې ډیرې مودې راهیسې دژبنیو موضوعاتو په شاو خوا کښې خپرونې کوی او ځینې ښاغلی په همدغه چوکاټ کښې ترمختلفو عنوانولاندې لکه پرګرامر، ژغپوهنه- دژبې پیدایښت دژغونو تقسیمات -- (ژغویشنه) اوپه نورو داسې مسایلو کښې دتحقیق اوتتبع قلمونه ښوروی چه دژبنی مطالعاتو متتبع ته دخوندا وذلچسپی څخه خالی نه دی. په همدغه مناسبت ترپورته عنوان لاندې مقاله چه دهند دیوه فاضل شخصیت پروفیسور همایون کبیر په قلم لیکل شوې ده ما ترجمه کړه اوکابل مجلې ته مې دنشر دپاره ورکړه .ممکنه ده چه دامقاله دې دځینو هغو ښاغلو د نظریاتو مرسته وکړی کوم چه دژبې هجاء اولیك په شاوخوا کښې په تتبعاتو اخته دی اوکابل مجلې یې له دغه نوعې مضامین خپاره کړی یا یې ښایی وروسته خپاره کړی مترجم

زیاترو خلکو ته دژبې -ت ورو واود خط حقیقت نه دی معلوم ،اوددې دروحقایقو امتیاز ته نه دی ملتفت ددوی ترمیانځ علاقې چه یوله بله یې سره لرې په اشتباه کښې اچولی دی تردې اندازې چه ځینو ګمان کړیدی چه هره ژبه یوازې پخپل مخصوص لیك لیکل کېدای شی اوبې له هغه لیك څخه په بل یوه امکان نلری .لکه ځینې چه بیا تردې هم وړاندې تللی دی داسی ګمان کوی چه توری اولیك دیوې ژبې سره لازمی او ضروري شیان دی بلکه لا ینفك اجزاء یې بلل کیږي .

دا بیخی واضحه ده چه کوم شی چه د ژبې سره رابطه اوشدیده علاقه لري په هغه شی کښې یو عاطفوي اغېزه پرته وی اودا خوهم هرڅوك منی چه کوم وخت چه دژبې یاد تورو یادلیك خبرې یادې شی موږ لږ یا ډیرتر عاطفوي تاثیراتو لاندې راځو، خو موږ ته وروسته ترلږشانته څېړنې دا واضحه څرګندیږی چه ژبه اودژبې هجایی توری بیخی سره بېل اودومره سره لرې دی لکه لمر خاته او لمر لو ېده او کوم ارتباط چه ددوی ترمیانځ لیدل کیږی هغه صرف وهمی اوزموږ دتصور تخلیق دی اوپه دې کښې څه شك هم نشته ځکه چه په نړۍ کښې داسې ژبې نه دی لږ چه نه لیك لری اونه هجائی حروف -نړۍ لاڅه چه په موجوده هند کښې ډیر قبایل شته چه هره یوه قبیله ځانته ژبه لری خوکوم خاص خط یامخصوص توری نه لري .سره له دې چه داژبې ښایسته وړاندې تللې اودپرمختګ برخه یې هم لږ نه بلل کیږی دشعری عواطفو اوخوند ورو احساساتو تعبیرات پکښې موجود دی.

دا یومنلی حقیقت دی چه مترقی اووړاندې تللې ژبې عموماً لیك اوهجائی حروف لري ځکه چه ددوی وړاندې تګ اوترقی ددوی دتمدن باعث شوی وی اودهمدغه جهته علوم، معارف ،فنون اوعواطف دومره پکښې زیات شوی وی چه د بشر دذاکرې قوه په ستومانه شی اونوریې په د ماغونو اوزړونو کښې ساتنه نه وی ممکنه نودلیك اوتورو په ذریعه وساتل شی.

دا هم دتاریخ هر څېړونکی ته معلومه ده چه بشریت دعلو مواو معارفو په ساتنه اودیوې پیړۍ څخه بلې پیړۍ ته دهغو په ورکونه اوانتقال کښې دذاکرې

څخه کار اخیستی دی اودیوه قرن د ثقافت نخښې بل قرن ته دلیك اونقوشو په ذریعه نه دي نقل شوي بلکه دبشری ذاکرې اوحافظې له خوا عملی شوی دی. حروف اونقوش سووونه کلونه وروسته داحساساتو اوعواطفو داظهار او دعلومو اومعارفو دساتنې دپاره راووتل چه وروسته بیاد کاغذ اوطباعت اختراع هم وشوه .

اوس چه موږ غواړو دژبې ماهیت ته ځیرشو او داوسپڼو چه ژبه څه شی ده داراته څرګنده شی چه ژبه دانسانی کورنۍ تر ټولو ستره اوزړه ته ور تېره پنګه ده ـ ژبه دبشرسره ډېر ټینګه رابطه لری اودانسان په رګونو کښې دوینې غوندې ګرزی راګرزی تردې اندازې چه دژبې سره مجادله او ورسره مقابله دانسانی شخصیت سره مجادله اومیرڅی ګڼل کیږی دفلاسفه وو یو ووړ ټولګی په دې باب کښې داسې تفسیر کوی ژبه عبارت ددقیقو فلسفی اصطلاحاتو څخه ده څوك بیاوایی ژبه دبشري فکر دتخلیق یوه مجموعه ده داسې چه سم د موضوعه قوانینو سره یې تعدیل امکان ولری دهمدغې نظریې په اساس دنوی ژبو دجوړونو په لار کښې کوښښو نه شوی دی خو آخر دا نوعه کوښښونه ناکام شویدی لکه د انسانی ژوند تاریخ چه ددې خبرې واضح شاهد دی .خوکوم پوهان او علما چه د ژبې پیدایښت اوسمسور تیا د عواطفو نتیجه بولی حق اوحقیقت ته نژدې دی ځکه چه دژبې دروزنی لومړی زانګو هغه درسونه دی چه یوووړ ماشوم یې له خپلې موره څخه اخلی ـ او داخو دفکراوتأمل زمانه نه وی یوووړ ماشوم چه دمور په غیږه کښې لاس اوپښې وهی هرڅه چه ځینې روی دارودنې دفکراوتأمل له خوانه وی بلکه یوعاطفوی یووالی د دوی ترمیانځ هغه بنسټ قایم کړی، دی چه د رابطې مزی یې د مینې او سپېڅلتیا څخه جوړ شویدې .

همدغسې دمور دقهر اوغضب په وخت کښې چه خپل واړه ته ودردیږی دغه شعور اوهمدغه عاطفه موجوده وي ـ لکه دماشوم ژړا الی ځلې چه دلوږې یادبل یوه سببه څخه ورپیښې وي، هم له دغه مشابه شعور اوعاطفې څخه خالی نه وی اودتفکیر او نظراړخ هیڅ نه پکښې لیدل کیږی همدغه دعواطفو لار هغه ده کومه چه واړه اوماشوم پرهغه لار ژبه زده کوی او یوازې همدغه سبب دی چه د مور ژبه د هغې خوږې او اسانې طریقی د پاره اصطلاح ګرزیدلې ده کله چه څوك یې د زړه د غوټې دپرانیستلو (دمافی الضمیرداظهار) دپاره استخداموی.

په نړۍ کښې یوازې دانسان ژبه ده چه د احساساتو اوعواطفو داظهار قوت پکښې موجود دی اود څارویو د ږغونو غوندې مجردا صوات نه دی یوازې دانه چه داحساساتو څخه تعبیر په ممکن دی بلکه بدیع بیان لفظی اومعنوی صنایع هم پکښې ځائیدای شی ،

له همدغه ځای څخه انسانی فکردژبې په وړاندې بیولو اووده ورکولو کښې خپل رول لوبوی او اساس یې داخبره ده چه فکر هرکوم شی چه په لاس ورځی یاکومه تجربه اواز موینه چه ور حاصلیږی باید پخپل ماحول کښې خپره کاندی اوعمومیت ورکړی دا یوله هغو احساساتو څخه دی چه قدرت په ټولو پیداو کښې یوازې انسان په ممتاز کړیدی هغه دا چه ده ته داقدرت ورکړه شویدی چه د موقف تحلیل او تفکیك وکړی او وروسته مفید نتایج ځینې واخلی او بیا هغه نتایج په مناسبو ظروفو کښې چه لازم وبلل شی تطبیق کاندی .په دې کښې څه شك نشته چه دا احسان ټوله دژبې له خوا اوددې له پلوه بلل کیږی ځکه چه دژبې پر مختګ د ټولنې او دهغې د افرادو د وړاندې تګ نخښه ده یعنې په هره اندازه چه ژبه پرمخ تللې وی هغومره جامعه اووګړی وړاندی شوې اومترقی بلل کېدای شی .

ددې ټولو اوږدو خبرو څخه لنډیز د اراوزی چه دژبې بنسټ دعاطفوی تاثیر اتوڅخه را پاریږی اوترقی اووړاندې تګ یې د انسان فکری وسعت او

دبشر دعملی کامیابی ګانو نتیجه ده خو کله کله ژبه هسکه شی او دعواطفو او فکر تر حد وړو ګام واړوی یعنی دفکراو عواطفو ترمابین یوه رابطه اووا-طه غوندی لحینی جوړه شی اوداسی وګرزی لکه ددوی دواړو (فکر اوعواطفو) دپاره هم محیط او په عین حال کښی واسطه وی -نو په دغه حالت کښی دژبی محیط ډیر ارت او ډګر یی زښت وسیع شی لحکه چه پهدغه فرصت کښی دژبی ددغو دواړومجموعه جوړه شی یعنی ژبه(کل)او دا دواړه یی اجزأوی نوکل خو هر وخت تر اجزا ووسیع اومکمل وی.

او س نو دا دواړه غونډ یوه روحی مجموعه ګڼل کیږی اوژبه دروح دپاره هغه موهوب نعمت بلل کیږی چه انسان یی دخپلی روحی دتعبیراوپخپلو همنوعانو کښی دنشر اوخپرولودپاره استخداموی.

دژبی دمفهوم او حقیقت دپاره کهموږدغه پورته بیان شوی تفسیر ومنو پهدی کښی بهخهشك نشی پاته چه دژبی تعلق اورابطه دانسان سره خوراډیره ده او ارتباط یی تر نورو ټولو شیانو دبشر سره مستحکم دی بلکه بیلتون یی ورڅخه غیر ممکن او انفکاك یی ددی کورنی څخه محال معلو میږی او دایوه دشك څخه وتلی مسئله ده -لحکه چه یوسړی له هرشی څخه لاس اخیستلای او دلحانه څخه یی لیری کولای شی که مادی وی که معنوی څه فرق نهورته لری او پرشخصیت یی کومه مهمه اغیزه نکوی مثلا یو بهای سړی که خواړ شی شخصیت یی تغییر نه کوی دغه رنګه کهخو ازبهای شی سړیتوب یی نه تبدیلیږی همدهسی که یو فرد هر څومره خپل پوزیشن، خپل اوضاع ،خپلهدژوندطریقهاوطرزواړوی دسړیتوب دحیثه به هغه سړی وی- کلهکله یوه فردته دخپلو افکارو او نظریاتو تغییر او یوه پلا د خپل وطن تبدیل خونده ورپه نظر ورشی زوړ تا بعیت پریږدی نوی ملیت قبول کړی مګر سړی هغه سړی وی هیڅ فرق نه وی پکښی راغلی-داسی هم پیښیږی چه یوڅوك خپل دین پریږدی اوبل دین ته ورشی لکه په افراد و اوټولنو کښی چهساعت وګړی لیدل کیږی خوپهدی ټولو تغییر ونو او تبدیلونو کښی سړی هغه سړی وی او ستر انقلابات یا کوم مهم بدلون نه راولی.

دا لووښتنی او الیشونی اسانه دی،خو دا ډیره ګرانه ده چه یوڅوك تر خپلی ژبی تیر شی او خپله مورنی ژبه پریږدی مګر بیا دی هم دیهغه دیخوا سړی او پر پخوانی شخصیت پاته وی هو- هغهصمیمی علاقه او دزړه لهکومی مینه چه دخپلی ژبی سره موجوده ده له پردی غیرمورنی ژبی سره که څه هم دسړی بنه زدهوی او مهارت هم پهکښی ولری نه پیدا کیږی اونهدمورنی ژبی دمینی اومحبت لحای اشغالولای شی.

که موږدتاریخپاڼیراواړوودا حقیقت بهراتهڅرګند شی چه جغرافیوی اومملکتیحدود دزمانواو قرنونو راهیسته په تغییر او تبدیل کښی دی یعنی پرسیاسی اوضاعوهرډول افات نازلیږی اوټکیپرلویږی. بلکه عقاید - مذاهب ، ادیان لاهم له دغسی ازمیښتونواو افتونو څخهپرآرامهنه دیمګر کوم امتیازاتاو فوارق چه پهانسانی نړی کښیدژبیپه واسطه اقواموتهحاصل دی - اوهغه حدود اوجغرافیوخطوطچهدژبود اختلاف له کبلهتشکیل شویدی، تراوسه پوری پر خپلاولنی حالت پاته دی هیڅ تغییر او تبدیل یی نه دی منلی او هر څه کوښښونه چه دژبوپه محویت او فنا کښی شویدی هغه غیر موفق اومطلق ناکام پاته شویدی که څه هم داکوښښونه اعلی درجی ته هم رسیدلی وی. که ژبه سیاسی یااقتصادیفشارونومحوه کولایشوای نوبه هالینډی ژبی لاکله له نړی څخه کډه ګړی اومحوه شوی به وای او اوس بهیی پرنړی نوم اونخښه هم نه وه موجوده ددی مقصدیو واضح شاهد عبرانی ژبه هم ده.

لنډه داچه دژبې سلسله نه تراو سه قطع شوی اونه به رورسته قطع شی . یعنی دیوی ژبې نو م او نښان له میانځه نه ورکیږي- اوداسې نشی کېدای چه هیڅ اثراونخښه دې هم پاته نه وی.

نواوس داثابته شوه چه دسړی ژبه د دې قابله ده چه دده څخه نه بېلېدونکی اوغیر قابل انفکاك وبلله شی او داد تورو (د حروف هجاء) کارنه دې- ځکه دداسې کسانو شمېرملیونو نوته رسیږی چه په خپله ژبه په ډېرطلاقت کړیږی مګردایې خواآو خاطرته هم نه ورګرزی چه کوم بل شی چه حروف هجاء یې بولی ددوی دژبې سره ارتباط یا دنی اړیکې لری همدغسې دیر ستراوهسك شعراء موجوددی چه په دې راوسه پوه قدر هم نه دی چه ددوی د اشعارو خوند ورې میوې اوخوږې نخښی په خپرولواوعمومیت کښې داسې شیانوته احتیاج لری کوم چه هغه په حروف هجاء مشهور دی .

راغلودهجاء حروفو (تورو) ته : دازماپه عقیده په یوه ژبه کښې دهغو مسموعواصواتوویشنه ده داسې اجزاو(برخو) ته کوم چه دهغوڅخه دموضوعه اصولو سره موافق پرمخصوص ترتیب یوثابت اومنظم تنظیم قایم شوی وي . خوداصول پخپل مابین کښې لوړ ؤ ځوړ اوتوپیرسره لری- اودتوپیر سبب همد اوی چه دځینو تنظیم غوره او فنی ترتیب یې دقیق وی .نو لکه موږچه وویل حروف صرف اجزاء(داصواتوبرخی) دی اوعمومی ژب غړاندی (اهل لسان) خورا لږ په مقید دی- اوپه کوم اهمیت او ارزش چه دوی ورته قایلیږی هغه بېخی لږاوډېر جزوی دی .

حروف دژبې څخه نه دی ؛ موږ په پوره جرئت ویلای شو چه حروف که څه هم د ژبې سره ټینګه علاقه لري خودژبې دحقیقی اجزاوڅخه نه بلل کیږي یعنې یوه ژبه دبلې ژبې په حروفولیکل کېدای شی اودایوه غیرممکنه مسئله نه ده .مثلادیونانی- عربی اوسنسکریټ ژبو هجاوې یوله بله سره جلادی مګربیا هم یوه دبلې په تورولیکل امکان لری- نوله دې څخه داڅرګندیږی چه حروف دژبې په حقیقت او ماهیت کښې داخل نه دي اوکوم اساسی ارتباط نه سره لری هره ژبه کولای شی چه په هر ډول نقوشو کښې ځان ونغاړی اوخپله بڼه نوی نسل ته په بله څېره څرګنده کړی خوکه نوی نسل اوراتلونکی پېړۍ دا مصلحت وبولی چه ژبه دزاړه پوښه څخه راوباسی اوبل نوی پوښ په واغوندی هم امکان لری او کېدای شی او دثقافی تطور او ادبی تجدد په حکم دا اقدامات بېخی جایز اوبالکل طبیعی بلل کیږی .

دحروفواوژبې ترمیانځ اړیکی اوارتباط :

ددې څخه انکارنه کیږي چه هجایی حروف دژبې سره لږو ډېراړیکی لری که څه هم دااړیکی هغونه چه زموږ په نظر قوی راځی او مهم راته ایسی قوی اومهم نه دی. خبره داده چه لیك ځانته علیحده او یو مستقل شی دی اوپه ډېرتکلیف به یې دژبې یاحروفو سره ټینګ اړیکی پیداکیږی.

دا ځکه چه حروف خوفقط د زغونو رمزو نه او اشارات یانخښې دی اوخط خودهغو رسمونو مجموعه ده کوم چه هغه کلمات دی او د حروفو څخه سره ورغلی دی نورورسته تردې داهیڅ عجبه نه بلل کیږی چه موږ ددغوحروفو پرځای چه غیرله نقوشو بل کوم حقیقت نه لری بله نوعه حروف (هجاګانی) وټاکوا و دزغوند دپاره یې نخښې وبولو .

لاتینی حروف چه په زیاترو اروپایی ژبو کښې رواج دی کوم اشکال اونقوش چه په دوی کښې لویو او وړو حروفوته وضع شوی دی داټوله په دغو ژبو کښې یوله بله سره مختلف اوځانته ځانته دی مګر بیاهم په عین آختلا ف کښې هرشکل اونقش په یوه ژبه کښې دهغه زغ او هغې معنی رمزدی کوم چه په هغه بله ژبه کښې ورله وضع شویدی او هیڅ کوم حرف

داسې تقدس اوخصوصیت نه دی حاصل کړی چه هغه دی بل کوم حرف اونقش حاصل نکړای شی .

نواوس به تردې کومه بله عجیبه نه وی چه دیوه هېوادوګړی دیوه مخه له دې فرقونوڅخه بې خبروی اوهغه ضروری فرق چه دژبې اودژبې دتورولودژبې دلیك ترمیانځ موجود دی دو ی تـه سخت اودشوار واقع شوی و ی .

داخوهرڅوك په سترګو وینی اوپوره ورته واضحه ده چه ژبې ټولی دحروفوپه درلودلو کښې سره متحدی یعنې هرې ژ بې لحانته توری ټاکلی دی خوداتوری په اشکالواونقو شوکښې سره جلا دی نوتردې وروسته بیاددې خبرې ترخوله راایستل غلط اوبیځایه ښکاریږی چه دپلانی ژبې پلانی لیك یادهغې ژبې سره هغـه لیك داسې لزوم اوعلاقه لری چه کوم بل یوبې نشی ورسره درلودلای .

نوچه لیك اوتوری دژبې څخه دونه سره لیری اوپه دې اندازه مد هش واټن بې ترمیانځ پروت وی نو زموږ څخه دلیك په مسئله کښې څله د و مر ه غټه اشتباه اوستره بې ذوقی څرګنده شوې ده لحکه په دې کښې څه شك نشته چه توری یوغیر طبیعی اوله لحانه جوړشوی شیان دې اوزدکړونکی یې په زدکړه کښې زیاراوزحمت وینی یعنې دپلا را وښوونکی له خوا ورو ته تررې وتکلیف په زده شی . مګرژبه خوماشوم دموردشیدوسره یوځای وزیږیږی اوپه روحی الهام یې دخپلې مور څخه زده کړی په دا سې حال کښې چه د روفو زده کړه مکتبا و ښوونکی غواړی اویوخاص عمراوکلونه ورله په کاردی .

داخولاڅه چه لیاقت او مهارت پکښې موندل او ماهرخطاط له لحانه څخه جوړول ربړونه اوتکلیفونه په مخ کښې لری چه په عمومی صورت و یلای شوچه دتورو دپېژندلو اوزده کړې چاره او بیا دلیك سره لشناکېدل اودخطاطی درجې ته رسېدل داټوله یوازې دانه چه اسانه نه دی بلکه ددرنوزحماتو اوتکالیفو ګاللوته سړې اړباسی که څه هم وروسته خوزې نتیجې اوخوندروې ثمرې لحنې حاصلیږی .

د وینا په آخر کښې بایددا بیاو وایوچه ژبه یو دهغو شیانوڅخه ده چه دبشری شخصیت څخه یې پریکړون محال اولړیکی یې له تورو-ره بېخی لېز اونه څه د ی او دهغوتوروشمېر لېزدی چه په رښتینی توګه داصواتو ترجمانی اونمایندګی کولای شی. خولیك چه دد ې درو دریم دی ددوی څخه بېخی لیرې دې اوزښته لحنې پردی اوبې اعلاقی دی-اودا کېدای شی چه هره ژبه په هرډول توروا وروسته په هرډول لیك ولیکل شی اوکه دکومې ژبې څښتنان دخپلې ژبې دتوروتجدید وغواړې یعنې دژبې دښکلا اوتو ر اوو راند ې تګ دپاره دزړو توروبدلون په نو وتورو لازم وبولی بالکل یوجائز بلکه حتمی او ضروری اقدام بلل کیږی همدغه رنګه دلیك مسئله هم ددوی په اختیارکښې ده او واك یی خپل د ی .

نواوس موږویلای شوچه دلیك لویه ممیزه یوازې همداده چه دمعنی توضیح په کیږی اوفهم یې اسانه کوی اوپه محیط کښې دافکارودخپرولواو نشرولو یوه داسې طریقه ده چه تراوسه پورې موږبله کومه دغسې طریقه نه ده موندلی اوبل کوم ارتباط دژبې سره نه لری .

پای

ماخذ: اساسي معلومات دټولو دپاره

ترجمه دمیر اکبر

دنړۍ ادبیات

-٦-

داولسمې او اتلسمې پېړۍ فرانسه

دنړۍ دادبیاتو برخه په دغې ترجمې سره پای ته رسیږي دغه مطالب له یوه انګریزي کتاب نه پښتو شوي نوم یې «اساسي معلومات دټولو د پاره دي» چه د بشري اوطبیعي ساینس ټولو اړخونو کښې بیل بیل فصلونه او اساسي معلومات لري لیکونکي یې هغه نومیالي او وتلي پروفیسران او پوهان دي چه زیاتره یې دلندن او اکسفورډ دپوهنتونو استادان دي دادب دبرخې لیکونکي یې یې ښاغلي ج. ډبلیو. ماریوت دي، چه لیکنه یې دمجلې په:

(٤٥٩)-(٤٦٠)-(٤٩٤)-(٤٩٥)-(٤٩٥)-(٤٩٦)-(٤٩٧)-او(٤٩٩) ګڼو کښې راوتې.

لوی لوی عنوانونه یې دادي:

دادب تعریف -دچین اوهند ادب -دمذهب برخه په ادب کښې -دیونان اوروم میراث- د منځنیو پېړیو رومانونه -دایټالیې ادب -دفرانسې اوهسپانیې ادبي نهضت -دپخواني انګلستان سهم -دالیزابتي، پوري تهانو -او ریفارمیشن ددورو ادب اودغه اوسنۍ ترجمه. له دغو عنوانو لاندې دادب عمومیات اودجهاني وتلیو اونو میالیو لیکوالو -اوادیبانو شاهکارونه را وړل شوي چه لوستل یې هر ګوره سود من دی په دې چه دلوستونکي ادبي جهان پراخه کوي. او په معلوماتو کښې یې ارومرو زیاتوالی راولي نو که څوك غواړي چه دنړۍ اوپه تېره بیا دلویدیځ ادب په تاریخ ځان پوه کړي او څنګه والي اوسیر یې ځان ته څرګند کړي اوله ادبي دورولو لیکوالو او دهغوی له آثارو سره اشنایي پیدا کړي باید دغه لیکنه ارومرو ټوله ولولي.

«اداره»

هغه وخت چه په فرانسه کښې رنسانس مخ په خپرېدو شو فرانسې دخپلې ژبې په سوچه کولو لاس پورې کړاوو یې غوښتل چه ځینې هغه غیرعلمي الفاظ له فرانسوي ژبې څخه وباسي چه له نورو ژبو څخه فرانسوي ژبې ته ورننوتلي وو. ددغه کار مقصد داوچه خپله ژبه دافکارو اونظریاتو دافادي واقعي وسیله وګرزوي فرانسو یانو تل دخپلې عقیدې په صحت او منطق ویاړلي دي.

دوي دهغو صورو اوقواعدو شدید احساس کوي چه دارسطو له خواوضع شوي دي. دمثال په ډول دوي په ډرام کښې ددریو «وحدتونو» په قاعدې پورې کلك نښتي دي په داسې حال کښې چه په انګلستان او هسپانیې کښې دغه قواعد له نظره لویدلي دي،

دفرانسې ډرامه لیکونکي د انګلستان دننداروو دعلاقمنو په منځ کښې لږ شهرت لري. خو ځینې خلکو ته په خواشینۍ سره ورپه یاد یږي چه دشاګردۍ په وختو کښې دوي مجبورو وچه په ښوونځي کښې دفرانسې ډرامه لیکونکو په باره کښې څه ولولي مثلا په ۱۶۳۶ع کال کښې د لومړي ځل دپاره په پاریس کښې د «له سید» په نامه یو ډرام وښودل شو چه لیکونکي یې (پیر کورنیل) نومیده ددغه ډرام موضوع د یوه

هسپا نوی لیکوال له آثارو څخه اخیستل شوي وه د غه عمل په (سیویل) کښې واقع شوی دی موضوع ډیره ډراما تیکده. ددرام قهرمانه یوه ښځه ده چه په داسې سړی باندې مینه شوې ده چه له یوې خوا یې ددې پلار وژلی او له بلې خوا یې هیوادته نجات ورکړی دی.

(کورنیل) نورې ډرامې هم لیکلې دی خو تو لې په همدغه اساس دی.

په دغو پېړیو کښې د فرانسې بل ستر ډرامه لیکونکی (راسین) دی چه په (۱٦٦۷) ع کال کښې یې د (اندروماك) په نامه خپله لومړی ډرامه ولیکله او وروسته یې نورې ډرامې د (بریتانیکولس) (برینیس) او (ندر) په نامه ولیکلې دعهد قدیم دا نجیل دوه تراجیدی ډرامې لکه «رستر» او «اتالی» دده په قلم د کلاسیك نمونو په اساس لیکلې شوې دی. (مولیر) چه له دوو پور تنیو ډراماتیستانو سره ډیر توپیر لری د فرانسې بل ډرامه لیکونکی دی چه څه نه څه څلوینت مختلف کومیدی ډرامونه یې لیکلی دی تر ټولو مشهورې ډرامې یې دادی: بورژوازی جنټلمین، دښځو ښوونځی، خیالی ناروغ، دانسان دښمنی.. د (مولیر) بورژوازی جنټلمین دیو دولتمند سړی حال څرګندوی چه غواړی د ثقافت جنټلمین شی. او ددغه مقصد دپاره د نڅا، موسیقی، نیز ه بازی، فلسفې او داسې نورو مضامینو درس لولی.

مولیر د خپل عصر له ډیرو اصلی کومیك لیکونکو څخه حسابیږی.

د انګلستان د تلسمې پېړۍ نثر

د تلسمې پېړۍ په لومړیو وختو کښې د (ادیسن) (ستیل) او روسته (ګولدسمت) او (ساموئیل جانسن) په شمول زیات شمېر نثر لیکونکی په انګلستان کښې راپیدا شوه د (ادیسن) نثر ونه د تماشاچې په نامه د انګلستان د نثر لیکنې ډیره ښه نمونه ده دغه پارچې په ډیر تفریحی سبك چه د عصر له ممیز اتو څخه وې لیکل شوې دی.

د سبك د لوړوالی له کبله هیڅوك د (ډین سویفت) پایې ته نشې رسیدای دده «د ګولیور سفرونو» هغسې شهرت ومو ندلکه چه (دون کیشوت) مینه لی ویعنې د (ګولیور) مسافرتونه خلکو ته د کو چنیانو افسانې ښکاره شوې په ظاهره کښې دغه اثر ر ښتیا چه تفریحی افسانې ښکاریږی خو په حقیقت کښې یې اهمیت له افسانو څخه ډیر زیات دی او په ځینو وروستیو برخو کښې د انسان په طبیعت باندې وحشیانه حملې شوې دی.

سویفت له نارینه سره څه مینه نه لرله دا چه له ښځو سره یې مینه لرله که نه، یو بیل بحث دی اما «ستیلا» ته د هغه مکتوبو نه د ساتنې اوسا تلو وړ دی.

دده بل اثر چه (تیل اف ای تب) نومیږی دا یو هجوه ده چه په کلیسا لیکل شوې او اوس یې څوك نه لولی.

دی په اصل کښې د (ایرلند) واوغو ښتل یې چه روحانی شی هغه وخت چه زوړ شو ځینې عصبی حملې پرې راغلې یوه ورځ یې یوه ملګری ته په مرکه کښې وویل دهغې ونې په شان به د سر له خوا ومرم. دده دا پیش ګویې رښتیا شوه او د (۷۷) کلنی په عمر دلیونتوب په حال کښې مړ شو. جوزف ادیسن ده ته د ملت د ستر نابغه لقب ورکوی.

جانسن او باسویل، هر کله چه موږ دا تلسمې پېړۍ ادبیات ترڅېړنې لاندې نیسو نشو کولای چه دې له کټر ساموئیل جانسن له لوړ شخصیت څخه پټې سترګې تېرشو ښاغلی جانسن ته ادبی اتو کرات (مطلق العنان) هم ویل کیږی دا کټر جانسن د خپل وخت په ځینو نامتو شخصیتونو کښې لکه ګاریك (ممثل) رینولدز (ارتیست) او ګولدسمت (شاعر) او داسې نور لکه باسویل (بیو ګرافر) د مرکزی شخصیت حیثیت درلود.

د جانسن آثار دا دی رامبلر، راسیلدس د شاعر ژوند (جانسن راسیلاس) نومی اثر یو ناول دی چه په ډیره بیړه سره یې د خپل مور د جنازې د لګښت د پوره کولو په غرض ولیکه دده اصلی شهرت له دې کبله دی چه په یوازې ځان یې یوه ډیره مشهوره ډکشنری ولیکله. سره له دې چه هغه ډکشنرې له استعمال څخه اوید لې ده خو د را تلونکو لیکوالو د پاره یې لاره پرانیستله.

داد تعجب خبره ده چه د جانسن شهرت دهغې بیوګرافی له برکته ډیر شو چه دده دوست باسویل لیکلې ده . دباسویل د ((جانسن ژوند)) او د لوکهازټ د((سکاټ ژوند)) نومې بیوګرافی دانګریزې ژبی دادب دوه ډیری ښې بیوګرافی دی. باسویل، هغه څه وکړه چه سویفټ یې یه کولو تظاهر کاوه باسویل د هغه مکالمو نو ټونه تیار کړل چه اوریدلی یې وو او بیا یې دیو کتاب په صورت ترتیب کړل .

دجانسن دمکالمې دغه واقعی سبک ـ او په زرګونو معاصرو په زړه پورې موضوعاتو باندې دده نظریاتو او په هر مخالف شخص اوشی باندې دده کلکې حملې ددې سبب شوې چه دده دپاره دایمی ژوندوګټی په داسې حال کښې چه دده دلیکنو زیاته برخه هېره شوې ده .

داتلسمې پیړۍ نورنامتو شخصیتونه دادی :

دانیال دیفو چه دډیرو کتابو مؤلف دی او ترټولو نامتو کتاب یې « رابنسن کروسو » دی ګیبون مؤرخ چه « د روم دامپراطوری انحطاط او زوال » نومی کتاب یی له کلاسیکو آثارو څخه ګڼل شوې دی. « بورکی » سیاست مدار چه دفرانسې په انقلاب باندې دتفکر، نومی کتاب مئولف دی . خو ترټولو مهم شی دادې چه دده په وخت کښې دانګریزې ژبی ناول دلومړی ځل دپاره د یو ادبی صنعت په شکل منځ ته راغی.

پخوانی ناول لیکونکی

کله کله دا پوښتنه منځ ته راځی چه دانګریزۍ ژبی لومړی ناول کوم دی څوک وایی چه د ریچارډسن « پامیلا » یا « دفضیلت پاداش » دی . دغه کتاب نه یوازې په انګلستان بلکه په فرانسې کښې هم ډیر احساس تولید کړ . داکتاب د (پامیلا) له خوا داو زدو لیکنو په شکل لیکل شوی دی (پامیلا) یوه مزدوره نجلی وه چه دیوه فاسد اشرافی په مقابل کښې دخپل ناموس دفاع کوی. البته دانجلی په خپلې مجادلې کښې کامیابه شوه خو ددغې مجادلې او دناموس دساتنی پاداش یې ددار په سرولید دې کتاب په متوسطې طبقی کښی ښه نوم وګاټه او هر چا به خپلو خویندو او لوڼو ته وړاندې کاوه . ددې کتاب ټول توهینونه داشرافو طبقی ته متوجه وو . دریچارډسن بل ناول (کلاریسا هارلو) نومیږی چه هغه هم دیوې بلې قهرمانی په هکله لیکل شوی دی چه دپامیلا په اندازی موفقه نه وه ددې قهرمانې پای ډیر په غم لړلی و .

ریچارډسن ته به دښځو له خوا ډیر لیکونه رسیدل ځینو به تقدیر اوه او ځینو به په خپلو چارو کښې له ده نه سلا مشوره غوښتله. غالب ګومان دادی چه ده له دغو شیانو سره مینه درلوده . خو نارینه وو دومره علاقه ورسره نه درلوده او دې یې متظاهر او متقلب ګاڼه .

ددې پیړۍ بل ترټولو ستر شخصیت (فیلډ نګ) دی ، چه دده (ټام جونز) په رښتیا سره یو ډیر لوی ناول دی . سره له دې چه په اوسنیو معیارو دغه ناول ته په دې سترګه کتل کیږی چه ډیره لفاظی په کښې شوې ده خو بیا هم تراوسه پورې دنړۍ دافسانې له شهکارو څخه شمېرل کیږی . دفیلډ نګ بل اثر (جوزف اندریوز) نومیږی او دریچارډسن په پامیلا باندې د یوې رسالې په شکل لیکل شوی دی .

په دی اثر کښې دی ښیی چه څنګه یو پیاوړی انسان له یوې ماهرې ښځې سره مجادله کوی .

پرافسانه لیکونکو کښې دوه نور دیادونې وړ شخصیتونه عبارت له (سمولت) او (لارنس سټرن) څخه دي

داتلسمی پیړۍ شاعران

اتلسمی پیړۍ ډیر شاعران منځ ته راوستل . ددې پیړۍ شاعران هم دیو قسم کمال لور ته متوجه وو. دغو شاعرانو په شعر کښی دوزن او قافیی ډیر مراعات کاوه ، له دی کبله د دوی اشعار ډیر مصنوعی ښکاریدل ، او د ژوند له واقعاتو څخه تر یوې اندازې جلاوو . په دې دوره کښې نظم یو خاص او قیمتداره شی و .

پوپ ـ ډرایډن ـ ګولډ سمت ـ ګرې ـ نامپسن او کاوپر ټول داتلسمې پیړۍ شاعران وو .

(بلیك) هغه هنرمند او صوفی و چه چندان د کلاسیکی ذهنیت خاوند نه و « کلادونیا بارد » روبرت برنس هغه څوک و چه څه به یې له خپل احساس سره سم لیکل او دا هڅه یې نه کوله چه په خپلو لیکنو کښې د نورو پیروی وکړې.

درومانتسزم بیا ژوندی کیدل :

ددې پېړۍ په پای کښې یو داسې انقلاب منځ ته راغی چه په پورته نامه یاد شو .

ددغه انقلاب لارښوونکی مشران (وارډزورت) او (کالریج) دی چه د (شیلی کیټز) او (بایرون) له خوا ورسره مرسته کیده (وار ډزورت) په دې عقیده وچه باید شعر په هغه ژبه ولیکل شی چه عام خلك هره ورځ پرې ګړیږی .

(وارډ زورت) ځینې ډېرلوړ اشعار لیکلی دی لکه د(ابدیت اعلان) او نورې قصیدې .

(وار ډزورت)دطبیعت اوساده څیزونو سره ډیره مینه لرله ،او په دغه صفت هرچا پیژانده (کالـریج) دما ورای طبیعی شیانو خواته ډېر متمایل و د هغه «پخوانی ماری نر» یوه جذابه، ښکلې او خوږوونکې کیسه ده .دده په(کرستابل) کښې هم ځینې ښایسته کرښې پیدا کیږي خودده ډیر لوړ شعر عبارت له (کو بلای خان) څخه دی چه په خوب کښې کمپوز شوی او په ویښه کښې راټول شوی و.

ددې دورې نورشاعران عبارت له(سکـاټ) او (مایتوار نولډ)څخه دی .سکاټ ځینې اوږده شعرونه لکه دجیل میرمن او «مارمیون» ولیکل . خو کله چه یې ولیده چه عام ذهنیت (بایرون) ته لومړی او ده ته دوهم مقام قایل دی نوله نظم څخه یې لاس واخیست اودداسې ناولو نو په لیکلو یې لاس پورې کړ چه بې رقیبه وواو لومړی مقام یې در لود .

دنولسمې پېړۍ په وروستی بر خـه کښـې د د روزیتی- موریس - سوین بورن ، الیزابت بارټ او هوسمان په شان ډېرښه شاعران منځ ته راغلل خو د ټینسن او برونینګ نومونه د شهرت لوړې پا یې تـه ورسېدل ټینسن ډېر شهرت درلود .دده ډیرستر اثار دادی ،میموریم-ماډ-دکنګ ار تر افسا نې ا و ځینې رزمی شعرونه لکه انتقام .

دبر وننګ اشعار دالفاظو دښکلا او غوره آهنګونو له کبله نسبت دټینسن اشعاروته ټیټ وو خود فکر په لحاظ ډېر ژور او عمیق وو، بروننګ له ډېرو لحا ظو ټینسن باندې تفوق درلود خو هیڅکله د هغو مره شهرت خاوند نشو چه لاریټ درلود . بروننګ دالیزابت بارټ دپلار دظلم له لاسه هغې سره ایټالیې ته وتښتېد او تر ډېر و کلو یې هلته ژوند کاوه .

دنولسمې پېړۍ افسانه

په ټولې نولسمې پېړۍ کښې افسانې ډېر اهمیت درلود او تراوسه پورې دهغه وخت افسانې دادب په شکل په زیاته اندازه لوستل کیږی . ددې دورې په ابتدا کښې (سروالټر سکاټ) دخپلو پورونو داد اکولو په غرض په ډېره چټکۍ سره پرله پسې نا و لو نه لیکل دډېرو کلو دپاره دده دشهرت سیوری په ټول هېو اد کښې خپورو.مګر په اوسنیو کلو کښې یې شهر ت مخ په کمېد ودی . دا باید وویل شی چه دده تاریخی معلومات چه په ډیره بیړه یې لیکلی وودستاینې وړدی. (والټر سکاټ)دتاریخی ناولونو په لیکلو کښې لومړې سړی دی اوددغه کار افتخار ده ته ورپه برخه شویدی.

لیکوالې میرمنې

دسکاټ معاصرې -جین رسټن ډېرلږ شیان او په ډېر احتیاط سره لیکلی دی ددې ټولې لیکنې دخپل کورپه آرام محیط اودهغو شخصیتونو په هکله لیکلې شوی دی چه داورسره مخامخ شوې ده. هغو لوستونکو ته چه دهغې لیکنې یې نه دی لوستلی داتو صیه کیږ ې چه لومړی ددې(غرور اوتعصب)نومی اثرو لولی بیا به ددې شوق پیدا کړی چه دهغې نوراثارهم ولولی ددې دورې نورې لیکوالې میرمنې دادی .جارج ایلیوټ شپار لوټ برنټ -دهغې خوراومیرمن ګاسکیل. جارج ایلیوټ ترټولو ستره میر من وه .دې د نا رینه دماغ درلود .ددې اثار ادم بیډاومیډل مارچ نومیږی .

اصلاح غوښتونکی ناولستان

نولسمه پېړۍ دډېرو سترو اجتماعی نارامیو دوره وه ـ له همدې کبله دا د تعجب ځای نه دی چه د دغې دورې زیات شمېر لیکوالو د اصلاح غوښتلو احساسات درلودل په دغې جملې کښې ډېر غوره شخصیت (ډیکنز) دی. ده په نړۍ کښې ډېرې بې عدالتۍ لیدې او ډېره شدیده آرزو یې وه چه دغه بې عدالتۍ اصلاح کاندی ـ حتی په خپل ډېر ستر شهکار فکاهی کښې یې چه «بکویك پېپرز» نومیږی په انتخاباتو کښې دبډ واو رشوت په کار باندې سختې حملې کړیدی، او دهغه وخت کرکجن زندان ـ (فلیټ پریزن) یې سخت غندلی دی په (الیور ټوسټ) کښې یې دکار خانو په سیستم او دغریب کړولو ته بد ویلی دی په (کوچنی دوریټ) کښې یې دپور وړو زندان مارشالسی باندې حمله کړې ده په (بې نوره کور) کښې یې دقانون په اجرا باندې بدویلی دی ـ ډیکنز یو سترانسان پرست وچه خپل بذله ګویی یې یو خاص مقصد ته وقف کړې وه دکرکټرونو (ممثلینو) په تخلیق کښې یې ډېر استعداد درلود دده کرکټرونه (ممثلین) له خلقونه او دخلقو په ژبه وو او په هر کور او کلی کښې دخلکو په ژبه باندې وو. خو هغه وخت چه یې کوښښ وکړ چه یوه قهرمانه خلق کاندې په دی کوښښ کښې ناکام شو.

ستر کاروان

خو دا ممکنه ده چه د افسانو دهغه ستر سیلاب په هکله یو ډېر ناقص عدالت تأمین شی. (میریډټ) او (هارډی) نسبت خپلو معاصرو لیکوالو ته دډېر لوړ شهرت خاوندان شویدی. خو نن د (میریډټ) اثار ډېر لږ لوستل کیږی او د (هارډی) اثار دتر اژیك والی له کبله ترك شویدی دده په ټولو اثارو کښې دده دوه کتابونه ډېر مشهور وو.

نولسمې پېړۍ پرته له افسانه لیکونکو د (ماکالی) او (توماس کارلایل) په شان تاریخ پوهان (دډاروین) او (هکسلی) په شان ساینس پوهان مقاله لیکونکی لکه (لامب) ـ (تیونسن) او (پتر اودرسکن) په شان منقدین ـ د (میل) په شان منطق پوهان او د (نیومان) او داسې نورو په شان مذهبی اشخاص منځ ته راوستل. برتانیې په شلمه پېړۍ کښې هم ځینې لوړ ناول لیکونکی درلوده. دهغو له جملې ځینې هغه نومونه چه په دې وختو کښې مړه شویدی په خاص ډول دیادونې وړدی (ارنولډ بینیټ) (جوزوف کونراډ) (جان ګالسورتی) ـ (جارج مور) ـ چ ج ویلز ـ او جیمز جایسن.

دفرانسې دنولسمې پېړۍ ادبیات

داله امکان څخه وتلې خبره ده چه په فرانسې کښې دبرجسته شخصیتونو په باره کښې عدالت وشی (الکساندر دوما) د (سکاټ) ډېره لمانځنه کوله او دتاریخی رومانو په لیکلو کښې یې دهغه دسبك پیروی کوله د (دوما) (دری توپك والا) او (کرستو کونټ) په انګلستان کښې ډېر شهرت لری. کولای شو چه (ویکتور هوګو) له (ډیکنز) سره مقایسه کړو. په تېره بیا دهغه په ډېرو ښو ناولونو کښې لکه دبیوزلی او ګوژ پشت نو تردام ـ دغه مقایسه په ډېر ښه شان سره کېدای شی (بالزاك) چه څه نه څه دسلو ناولونو مؤلف دی لکه پیری ګوریو ـ او یو جینی ګرانډت ـ له پیو دوچاګرین غوښتل یې چه د کلاسیکی اصولو او قیمتونو څخه یو مخ ځان کناره کړی او ادبیات دعامو له فهم سره برابر کړی. هر کله چه ده کولی شو چه دفرانسې د ټولنې دهرې طبقې ممثلین په ډېره ښه توګه تصویر کړې نو په عامولو ستونکو کښې یې ډېر شهرت وګاټه.

دفرانسې داتلسمې پېړۍ مؤلفانو صورو او سبکونو ته په ډېره درنه سترګه کتل او په کلاسیکی ایډیالونو پورې نښتی وو. خو ددې پېړۍ په څوورو ستیو کلو کښې د فرانسې انقلاب پېښ شو او وروسته دهېواد په ادب کښې یوه مړه دوره راغله په فرانسې کښې هم دانګلستان په شان داتمایل پیدا شو چه د

کلاسیسیزم له قید څخه ځان خلاص کړي او رومانتسزم ته پاملرنه وکړی .

دنولسمې پېړۍ په شروع کښې ځینې نومونه ډېر شهرت لري لکه مادام دی ستایل ـ دایوه منوره ښځه وه او کلاسیسیزم یې له موده لویدلی شی باله شانو بریان ـ غو ښتل دهغه وخت دریشنلزم (دعقل اصالت) په مقابل کښې د عیسویت ملاتړ اومدافعه وکړی اوڅونور شاعران ـ پهدوی ټولو کښې ـ لامارتین ـ الفریدوویګنی ـ ویکتورهوګو ـ اوالفریدوموسې ـ ډېرشهرت لری .

په وروستیو نثرلیکونکو کښې دوه ته داستثنایی اهمیت خاوندان دي . لومړی (فلابر) چه دهغه ـ مادام دوبواری ـ دنړۍ له شهکارو څخه دي ـ دوم (دادیت) چه (تارتارین دوتاراسکان) یې لیکلی دی .

ددماپازان لندې کیسې دادب مرغلرې وې .

دفرانسې په ادب کښې ځینې نورد یادونې وړ شخصیتونه هم شته لکه ـ ستندال ـ لوتی ـ ماریمی ـ پروست اوزولا خوددوی اثاردومره شهرت نلری چه دفرانسې له حدودو څخه د باندې ووزی .

موږ (اناتول فرانس) ته دیوستر منقداوهجو نویس په سترګه ګورواو ـ زولا ـ ته کلک ریالست وایوخو په اوسرو ختو کښې په فرانس کښې داتمایل پیدا شویدی چه ممثل له رو حیاتی پلوه تر کتنې لاندې نیسې .

(پروست) او (ګاید) دلاشعوریت اعماق کشف کړل لکه چه داکار په برتا نیې کښې (ویرجینیا ولف) او (داروتی ریچاردسن) کړی و .

دالمان ادبیات :

تراوسه پورې موږ دالمان داد بیاتو په هکله هیڅ نه دی ویلی . خوکه چېری موږ (مارتین لوتر) اوپینه دوزشاعر (هانس شالس) لری کړوهلته ترنژدې وختو پورې بل داسې څوك نه و .

دالمان دادبیاتو ډېره ښه دوره دنولسمې پېړۍ ـ دشروع شااوخواحساب شوې ده چه په دې دورې کښې تر ټولو ستر نوم (ګویتی) د (فاست) مولف دې چه دی یوستر شاعر دی اوبین المللی شهرت لری . نورامتو لیکوال عبارت له ځینو فلاسفه وڅخه دی لکه (لیسنګ) ، (شوپن هاور) او (هیګل) ، شاعران لکه (شیلر) او (هاینی) ـ ډراماتسټان لکه (هاپتمان) او (سوډرمان) ؛ دالمان دنورلحې نامتو ناول لیکونکی (توماس مان) دی .

د روسیې لیکوال :

ترنولسمې پېړۍ پورې روسیې دا همیت وړاد بیات نه درلوده ـ خود (۱۹۱۷ ع) کال له انقلاب نه وروسته روسانو په ډېره بېړه داهڅه کړې ده چه په زیاته اندازه ادب خلق کړی . پخواله انقلاب څخه په روسیې کښې لومړی درجه مهم نومونه داوو ـ تولستوی ـ داستایوسکی ـ تورګینف ـ چخوف ـ ګورکی .

دتولستوی سوله او جنګ او ـ اناکارینینا دنړۍ له سترو ناولونو څخه شمېرل شوی دی . دده نور اثار لکه ـ (محشر) او (کریوتزر سوناتا) دوهمه درجه اهمیت لری . کریوتزرسوناتا یې دیومتعصب کریکه ده .

دداستایوسکی ډېرښه اثار دادی ـ جرم او جزا ـ دیوقاتل قصه ده چه په ډېر قوت سره لیکل شوې ده ـ دکارامازوف ورونه ـ او احمق ـ دتورګینف شاړې مخکی نومی اثرواقعی شاهکار دی ـ همداشان دګوګل (مړه ارواح) بې شکه یو شاهکار دی .

چخوف یوستر ډرامه لیکونکی دی . دده ډرام قهرمانان اوممثلین داسې ښودل لکه چه په واقعی ژوند کښې وی دالوچو باغچه ـ او (سی ګل) دده دسبك سوچه نمونې دی .

د امریکی برخه

دشلمې پېړۍ ترشروع پورې امریکایی مؤلفینو کوم مهم شی منځ ته کړی نه دی . مګر نن په ډېرام ـ ناولونو ـ اولنډو کیسو کښې دامریکی برخه دنړۍ په ادبیاتو کښې له نورو کمه نه ده .

په نولسمه پېړۍ کښې د امریکی نامتو شاعران دادی ـ لانګفیلو ـ لاویل ـ وتی یر ـ

اووالټ وایټمان -- پرته له والټ وایټمان نه د نورو ټول اثار تقلیدي دي .

دامریکی ناول لیکونکی مشهور وو لکه فنیمو ر -- کوپر - ناتایل - هاتورن - برتهارت - هاریت بیچرستو او داسې ډېر نور - د هاتورن - (سکارلټ لټر) یوښه اثر دی . خود نورو اثاریې نن لوستونکی نلری . نور د اهمیت وړ شخصیتونه دادی - ادګار الن پوچه - په لنډو کیسو کښې استادو -- (وایت ملویل) د (ما بی ډک) مئولف او انسان دوست (ماک ټوین) د - ټام - ایر اود (هکلبری فن) مولف دمنقدینو -- مقاله لیکونکی او نورو لیکوالو له جملې څخه د توریو - امریسن - الیوروینډل هولمرز - خو امریکی دنیاته دوه داسې - ترمور خین وړاندی کړیدی چه له کارلایل او ګیبون سره سیالی کوی لومړی یې (پرس کاټ) دی دده دمکسیکو فتح او د پیرو فتح دوه ډېر مهم اثار دی . په دې فصل کښې د ژوندیو لیکوالو د نومونو له یادونې څخه دامکان تر حده پورې ځان ژغورل شویدی .

اما د پاره د دې چه د نړۍ په ادبیاتو کښې مود امریکی برخه په ښه شان ښوولی وي دا ضروری ده چه د ځینو داسې ښځو او نارینه و نومونه یاد کړو چه د اهمیت وړ اثاریې وړاندې کړیدی دمثال په ډول د نن ورځې په ډرامه لیکونکو کښې هېڅ نوم د - ایوجن او نایل او المر رایس ، ماکسویل اندرسن ، جارج کاو فمان ، مارک کونل -- فلیپ باری او پال ګرین - تر نومونو لوړ نه دی .

دافسانې په برخه کښې د یادونې وړ نومونه ډېر شته خود لته د یادونې د انتخاب کار سخت دی ځکه چه که یو یاد شی امکان لری چه د بل په حق کښې بې عدالتی وشی په هر صورت یو نوم باید وا خلوا وهغه (سنکیر) دی چه د امریکا یې ژوند په هکله یې ډېر کتابونه لیکلی دی .

پای

ادب او محبت

پام یې نه وددې په ځای چه په ډېر ادب راته (تاسو) ووایی - په ډېره مینه یې راته وویل (ته) .

په دغه وخت کښې د خوشالۍ او خوشبختۍ خیال زما مضطرب او پریشانه روح ونمانځه او عاشقانه مچه یې ترې وا خستله .

زه اوس دهغې په مخکښې ولاړیم او یوه شیبه ترینه سترګې نشم اړولی .

په خوله وایم - اې ښکلې پېغلې (تاسو) څومره په ادب یاست .

مګر په زړه کښې وایم : ته په ما باندې څومره ګرانه یې .

«پوشکین»



الفت

آزادی

شهرت د عقل له نامه د افلاطو نه نه ځی

دآزادی مینه هېڅکله له پښتو نه نه ځی

که هرڅه لاړشی له دې د هر اوجهانه ځنې

دبل له جغلاندې ژوندی وینس ملتونه نه ځی

دازادی معراج ته نه رسیږی هغه کسان

چه دغیرت او ننګ په لار کښې یې سرونه نه ځی

په توره باندې چه مړنه شی څوک یې نه پېژنی

داسې مزارته پښتنې ملالې نجو نه نه ځی

سرومال ځی دعشق په لار کښې خاوری کیږی زړونه

دلیلی مینه پس له مرګه له مجنو نه نه ځی

بینوا

دلیونی ترانه

زه یم لیونی غمجن لڅې پښې صورت یمن
نشته د کمیس لمن نه مې پر خولی چکن
پورته کښته لخلم همیشه دی دا روزګار زما
نشته په چا کار زما

✲ ✲ ✲ ✲

نه مې زړه کسالی دی سم نه مې شته دنوی غسم
خپله خپل ګریوان څیرم کله یې په بل ګډم
خوښ دافلاطون ترفلسفې دی خپل ګفتار زما
نشته په چا کار زما

✲ ✲ ✲ ✲

اورم منتو نه زه ګالم زحمتو نه زه
څټ باندې زخمو نه زه وینم ستمو نه زه
هیڅ اثر پرې نشی لوې ځګردی باربر دارزما
نشته په چاکار زما

✲ ✲ ✲ ✲

ګرزمه په لرو بر نه یم په دنیا خبر
خوشی وایم پیل وغر نشته ترما څوک بتر
ژوندمې د تقلید دی تل په بل پسې رفتار زما
نشته په چارکار زما

✲ ✲ ✲ ✲

ورک لنسا نیت وینم هر چیری وحشت وینم
ظلم د قوت وینم ضعف ملامت وینم
هیڅ متاع مې نشته رانه څه غواړی اغیار زما
نشته په چار کار زما

✲ ✲ ✲ ✲

خادم

د شاعرانو الهامات

کار او ژوند

کار کوه کار کوه - چه کار ژوندون دی هغه چه کار نه کوي ژوندي زبون دی
کار وظیفه ده له حرصه پاکه چه هېر دي نشي عالي مضمون دی

ځوان او قوم

ځوان د قوم سرمایه ده هاي افسوس که شی راکده !
لا بتره به تري داوی چه راکده شی فاسده !

پردی رنګ

ځان ته خپل تیاتر جوړ کړه د بل چا سینما څه کړي !
په پردی رنګ کښې رنګ نشې که د قامه سره ښه کړي !
پردی رنګ سړی بد رنګ کا که لږ فکر باندې وکړي !

د قام سره مینه

بې تاثیره چه تري خوک خلا صېدی نشی یوه ژبه ، بل مکتب ، بل سینما ده
که پردي وی، په پردی رنګ کښې راغلی دا خیزونه د یو قام په ځان بلا ده
خپل لباس او خپل اساس درته په کار دی که دي مینه د خپل قام سره رښتیا ده

خپل اس

درته نه وایم چه خپل خره باندې ټینګ شه تري راکوزشه، خو په خپل اس باندی سپورشه
پردي کټ د نیمې شپې دی که یو هېږي ته خاوند د خپلې مېنې اودکورشه

صنعت او تجارت

په صنعتی د نیا کښې زیاته نه ده که تصنع په کښې څه زیاته شی هم !
تاجر له بنایی چه دی ګټه وکی که د رښتیا خواڼه میراته شی هم !

قومی وحدت

پس له مرګی مې یوزل سر کړی اوچت ګوندي افغان چېرې یوشوی وی ټول !
څو مره به ښکلې د وطن وی فضا چه په پښتو سره جوړ شوی وی ټول !

د ژوند مزه

شان دا افغان چه هسکولی نشی په اوږو ټیټ سر ګرځولو نشی
بې له پښتونه دژوندون څه مزه ؟ « خادم » په دغې پوهېدلی نشی

ژواك

دمینې لیونی

ما ته د مینې لیونی وایه شی خیر که ګیلې لرې
چیرې زما زړه چیرې صبر سکوت پوه شوم ته دغه غواړې
کوره! رانه څه غواړې چه کوای نه شم

دغه اقرار منه- په واك مې نه ده بو هیږم - نه یې - منې
خاندم بی واکه ژړاهم راځی په ما دا مینه کوې
راشه! که مې پوښتې دزړه احوال دغه دی

داته د قهره راته سره ولې یې ځان ګوره نه پوهوې
له ما نه صبر غواړې ستا به وی همدومره حیا پریږده پېغور دې منم
په ما - دمینې داغ دمینې تورهم منې

وایی چه تا سره سوداوی څه شته دا چه بد نامه نه شم
هر څه درواغ منې خو مینه په رښتیا سره وی سلا د زړه دغه ده
واوره! پښتنې مینه رښتینی ده پټوې یې څله

موږ ته له عقله بیګانه وایه شی قانون د مینې منې
فرق دمجنون او افلاطون ډېر شته دی موږ لیونی یو کنه
ګرانې! مینه رسواده رسوا کیږ وګوره

توربه د مینې په شریکه ګالو بر خه د دواړو دغه
دچا خندا به خندنی بولو تل ځکه بې درده دی ټول
دادې- په ژوند کښې موږ سره دژوند رازو نیاز

باور رحیمی

لوګریم لوکومه

لوګریم لوکومه ـ لوګریم لوکومه حاصل مې پوخ دی خپل فصلو نه ټولومه

✲ ✲ ✲

ملا مې تړلې دعزت ده خپله خپله مې مځکه دخپل ځان خدمت کومه

لا رمې نیولې دعزت ده خپله خپله مې مځکه دخپل ځان خدمت کومه

✲ ✲ ✲

په سر سرتور غرموته ګرځمه زه لوړ وژور وکښې هم غرځمه زه

کله ولاړ او کله پر زمه زه په بسم الله په سر خولی نه ټینګومه

✲ ✲ ✲

په نیمه شپه کښې ولاړ یږمه زه په کار و بار پسې ټکیږمه زه

په سره غرمه کښې لا کړ یږمه زه زه شرین عمر په غفلت نه تیرومه

✲ ✲ ✲

خوب او خوراك مې واړه کار دی دغه مې عزم او اختیار دی

پټی مې ډك دخس او خار دی لور مې په لاس کښې خس اوخارهم پریکومه

✲ ✲ ✲

لور مې تیره دی لوکوینه لیلی مې وږی ټولوینه

زما زړګی خوشحالوینه وکړه (باور) په دغه حال شکر کومه

مرحوم ملنګ جان

خدایه وکړم څه؟

خدایه وکړم څه؟ په تصور لاړم
دې اختر ته وخاندم که وژاړم؟

دلته خوشحالی ده زړه مېلې غواړي هلته زمونږ کونډې یتیمان ژاړي
چورت او خیال کښې مخ په پېښور لاړم
دې اختر ته وخاندم که وژاړم؟

دلته ماڼو ماڼو ته ناز ونه دی هلته مې ور پرې سر تور سرو نه دی
خوله کښې یم موسکی په زړه پرهر لاړم
دې اختر ته وخاندم که وژاړم؟

دلته نری شرنګ دچنګ رباب راځی اخوانه شرنګاری د غوراب راځی
زه ددې خوښی نه لاس په سر لاړم
دې اختر ته وخاندم که وژاړم؟

لاړم یو محفل ته، وو خانان پکښې ومې لید تصویر د باچا خان پکښې
سترګې مې شوې سرې په ژړا سر لاړم
دې اختر ته وخاندم که وژاړم؟

خلک کړی، مېلې ماته ژړا راځی روح د شهید آنسو نه حیا راځی
زه ملنګ جان ګوښې مرور لاړم
دې اختر ته وخاندم که وژاړم؟

عبد القدیر ساپی

زما ارزو

چه انصاف لري په خپلې تا جر ی کښې
با زارو نو کښې د ارنګه تا جر ا ن را
بې له شك ا و تردد چه کړی کارونه
دو ایرو کښې په دا شان میر ز ا یا ن ر ا
چه د عدل نمو نه و ی محکمه کښې
په مسند د نبو ی و لاړ قا ضیا ن ر ا
د پا کی ا و نظا فت چه مراعات کړ ی
په د وکا ن د نا ن وا یا نو نان وا یان را
چه دډېر احتیاط نه کار آخلی ښارو کښې
په قا نو ن باندې مطیعه مو تـر و ا ن ر ا
چه د حق اود باطـل امتیاز کا ند ې
تل د حق طر فدا ری ته حا کما ن را
چه په ظلم سره زیاته دا را ئی کړ ی
د د ې هسی دا را ئی ښې ا مـا ن ر ا
چه‌دجنګ میدان کښې توره د الماس وی
په ار دو کښې با همته جنر ا لا ن ر ا
چه تشخیص د مرضو کـو لی و شـی
په هر شق کښې ښه لا یقه ډ ا کټرا ن را
افا ده چه په صحیح صو رت کو ی شـی
معار ف کښې په داشا نې معلما ن را
چه د حق په ستر ګه مر یوه ته ګو ری
حق پر سته معارف کښې استا د ا ن را
چه ظا هر او باطن د سړ ی یو وی
ای « قـد یره » داسې ا شنا یا ن را

بختاني

دخپلواکۍ سندره

زړی دتورو خاورونه دلمر رڼا اوتودوالی پسې سرهسک کړ .
دبوټی دګورو پاڼو اوتېرو اغزوله منځه غوټۍ پورته شوه
او ویې خندل .
دتورو ورېځو له تورتم څخه یوڅاڅکی وو ت .
اودګل پر مخ توی شو .
دبلبل بچوړی دهګۍ سپین اوپاخه دېوالونه لاپخوا مات کړی وو .
دلومړی ځل دپاره دګلو په څانګه نا سته وه .
دخپلواکۍ سندره یې غبزوله .
ددې سندرې یوه کړۍ داوه :
دخوارۍ له خاورې سرهسک کړه !
دخپلواکۍ له لمرنه رڼا وا خله !
دژوندانه له تېرواغزونه ځان وبا سه !
خوله بېرته کړه!
دومره وخانده چه دهسک نه سپینې مرغلرې درباندې تو یې شی او دمینې استا زې ستایه غولی کښې
دخپلواکۍ سندره ووا یی .

ژوند

دامه وایه چه ژوند یودایمی بزم دی ځکه چه داخبره احمقان کوی .
داهم مه وایه چه ژوند تل ترتله مصیبت دی ځکه چه دادبې زړه اوضعیفو خلکو خبره ده .
لکه چه دونو شنې څانګې په پسرلې کښې له خوشالۍ ریږدې خانده. لکه چه دسیند موجونه په لویو
ګټو لګیږې اوفریاد کوی ژا ړه .
دجهان ټول خوندونه وڅکه اوټول دردونه وزغمه بیاووایه هرڅه چه دی ډېر دی مګرله خوب اوخیال
سره شباهت لري .
«پادیامانتو بولس»

حبیب الله تبزي

نوی ژب پوهنه

او زړي خبر ي

ژبه او لیك :

په تېره ګڼه کښې مادلیك اوژبې د ارتبا ط په برخه کښې داخبره - ترممکنه حده پورې وخېړله چه ژبه او «لیك» یوله بله رټ سره بیل دی او باید سره ګډ نه شي .

دغه ډول مې - دپورته خبرې په اساس - داهم څرګنده کړه چه «توری» او «ویيز زغ» کاملاً یوله بله سره جلادی - یعنې یو «زغ» دی او بلد «زغ» رسم چه په دې ترتیب باید دژبې په مطالعه کښې په یوه دبل خیال ونه شي. دغسې مې په پای کښې دهمدې پورته خبرو او ځینو نورو دلایلو له مخې - دا یادونه هم وکړه چه موږ باید دژبې دمطالعې په برخه کښې - وروسته له دې خپل اصطلاحات سره کړو او دا سې اصطلاحات لکه « تحریری ژبه » له استعمال څخه وغورځوو. (۱)

دادی په دې ګڼه کښې - د وعدې سره سم - خبروته دوام ورکوم او کوښښ کوم چه دلیك اوژبې دارتباط په موضوع کښې ځینې نور هغه سوا لونه او حکمونه هم پرله پسې وخېړم چه مې ددې لړ مقالو په لومړۍ برخه کښې رااخستی وواو یوله هغو حکمونو څخه داوچه ځینې خلك وایي: «لیك ترژبې څخه اساسی دی .» اما ځینې خلك حتی تردې څخه هم وړاندې ځي اووایي چه : «د ژبې اساسی بنسټ لیك دی. »

---

(۱) دغه ډول دالفاظو دسره کولو په برخه کښې ننني ژب پوهان د «زغیز توری» Vowel letters او ((چوپ توری)) Consonant letters اصطلاحات هم (له دې امله چه توری Letters د ویيز زغ رسمونه یادالفبا اجزاء بلل شوي دی) لږ څه سره کوی. یعنې کله چه اوس په انګلیسی کښې واولز Vowels ویل کیږی مطلب ټول ویيز زغونه دی نه هغه دالفبا توری یا رسمونه چه تر اوسه واولز ګڼل شوی دی لکه a,e,i,o,u یا کله کله هم w او y .

په همدې ترتیب باید په پښتو کښې هم دژبې دتشریح په برخه کښې داسې اصطلاحات لکه ((زغیز توری)) او چوپ توری چه ما پخپله هم بنایی دمخه تردې استعمال کړی وی له استعمال څخه وغورځوو. ځکه له یوې خوا - څرګنده چه په پخوانی ګڼه کښې وویل شو - مطلب له توری څخه دالفبا جزء یا دویيز زغ رسم دی چه په دې صورت کښې ((زغیز توری)) ویيز زغ نه بلکه الفبایی توری یا دزغ رسم افاده کوی او له بلې خوا موږ غواړو چه لیك اوژبه یا توری او زغ رټ سره بیل کړو یعنې موږ داسې اصطلاحات پیدا کړو لکه په ننني ژب پوهنه کښې فونیم Phoneme او ګرافیم Grapheme (وروسته به توضیح شی) چه یو یې مطلق ویيز غبز افاده کوی او بل دویيز غبز رسم .

چه داخبره یوا زې دلته نه بلکه په نوره دنیا کښې هم ډېر ځله اوریدل شوې ده لکه دا چه پرو فیسور «ها کټ» دامریکې دمتحده ایالا تو معا صر ستر ژب پوهاند دخپل هغه کتاب په لومړۍ برخه کښې چه ما په تېره ګڼه کښې ددې لړمقالو دماخذ په حیث وښود- دې مو ضوع ته دانتقاد ګوته نیسی اولیکی ؛ «ځینې خلك لیك ترژبې څخه زیات اساسی بولی حال دا چه حقیقت خلاف ددې دې ». دغه ډول کله داهم له ځینو کسانو څخه اوریدل کیږی چه ؛ «څرنګه چه موږ دلیك کارد ژبې څخه نه شو اخستلای نوله دې امله لیك ترژبې څخه مهم دی » .

مثلاً خبرې هسې غبزونه دی چه په اصطلاح باد یې وړی . مګر لیك هغه نقشو نه دی چه دزر هاوو کلو نو د پاره باقی پاتې کیږی یا د ا چه ژ به له یوې ګړنۍ ټولنې څخه تر بلې پورې توپیر کوی مګر لیك دیوې ژبې په ټولو لهجو کښې یو ډول دی.

البته په دې کښې هیڅ شك نشته چه لیك پخپله په انسانی ژوند کښې ډېر زیات اهمیت لری او حتی کله کله دلیك په واسطه داسې کارونه سرته رسیدلی شی چه دژبې په واسطه امکان هم نه لری . دمثال په توګه لیك کولای شی زموږ مطالب داسې برخوته ورسوی چه نه موږ غ و ر رسیدلای شی او نه پخپله ورتلای شو. یعنې کېدای شی چه دې دنړۍ د ډېرو زیاتو خلکو افکار اومطالب په کښل شوی، توګه له یوه براعظم څخه بل ته سره ورسیږی . په داسې حال کښې چه دغه لیکوال پخپله اویایې خبرې په ژوند کښې هم له یوه براعظم څخه په بل کښې ښایی وانه وریدل شې دغه ډول انسان کولای شی چه خپل افکارد لیك په واسطه له یوه نسل څخه بل ته ور ورسوی مګر دژبې په واسطه یې (په تېره بیا دځینو عصری وسایلو دنشتوالی په صورت کښې لکه ټایب ریکارډ ریاټیکلی اوداسې نور) نه شی وررسولای . مثلاً هغه افکار اومطا لب چه دلرغونی یونان - مصر- بین النهرین - چین- هند ایران اویازموږ دخپل هېواددستروکسانو دمغز محصول دی پرته دلیك څخه هېڅکله هم ترموږ پورې نه شوو رارسېد لای. نوله دې امله باید ووایو چه که لیك نه وای نو یقین دی چه انسانی تمدن به دې نننی عظمت ته نه وای رارسېد لی . ځکه همدا لیك دی چه یې دزاړه نسل پوهنه اوتجربه - دکره کولو د پاره-نوی نسل ته وررسولې ده ،

بر سېره پردې په نننی ژوند کښې هم لیك ځینې داسې کارونه سرته رسوی چه د ژبې څخه نه دی پوره . لکه دحساب اوریاضیاتو په برخه کښې.

البته په دې کښې څه شك نشته چه نن پرته دلیك څخه ځینې نورمخابراتی وسایل هم لکه تلیفون تلګراف - راډیو اودا سې نور - منځ ته را وتلی دی. اماداوسایل هم دخپل څرنګوالی ددرنښت له کبله دانه شی کولای چه دې دلیك ځای ونیسی .

مګرداټولې خبرې بیاهم ددې معنانه لری چه ګوندې «لیك» تر«ژبې» څخه مهم یااساسی دی . بلکه باید وویل شی چه لیك خپله دلیك په حیث ډېر زیات مهم دی .

ځکه کله که زموږ قضاوت مقایسوی بڼه غوره کړی په دې صورت کښې نو بیا ویلای شو چه لیك څه داساس اوتاریخی قدامت له نظره اوڅه په نننی ژوند کښې داستعمال اواهمیت له نظره هېڅکله هم دژبې څخه نه شی مهم کېدلای اونه دا کېدای شی چه دې «لیك» ترژبې څخه زیات اساسی شی. اماددې دپاره چه خبره پوره روښانه شی دا دی دلته یې په ټو لو خواوو په پر له پسې ډول په تفصیل سره غبزیږو.

(۱) - داساس له نظره ؛

په دې برخه کښې خوڅرنګه چه دمخه ګڼه کښې هم وویل شو- خبره رټه ښکاره اوهغه داده چه لیك (له ګړیز اوسیلابی لیك څخه نیولی تر الفبایی لیك پورې) له اره په مستقیم اویاغیر مستقیم ډول سره - پرژ به بنادی - یا په بل عبارت «لیك» دژبې پراساس د ژبې

دښودلودپاره جوړشوی دی نه داچه ژبه دلیك پراساس اویاد لیك دښود لودپاره . امادا موهم باید په زړه وی چه په عمومی ډول سره ټول لیکو نه داسې جوړدی چه ژبه څرنګه چه ښایی هتسې نه شی افاده کولای . حتی دمعمولو الفبایی لیکو نو څخه هم تراوسه پورې هېڅ لیك دانه شی کولای چه دې یوه ژبه د خپلو ټولو خصوصیاتو سره افاده کړی . حتی نو ر ممیزات څه چه د یوې ژبې لومړنی او څرګند فو نیمونه Phonemes (۱) هم درست نه شی ښود لای. مثلا دپښتو په معمول «لیك» کښې هېڅکله هم دا قدرت نشته چه دې ټول پښتو فونیمونه افاده کړی .

دمثال په ډول د «پټول» کلمه له اره داوو «۷» فو نیمونو څخه جوړه ده مګر ظا هراً یې یوازې څلور فونیمونه په (پ-ټ-و-ل) سره ښودل کېدلای شی او بس. له همدې امله موږ هغه ځینی ارغونی ژبې چه لیکل شوی اسناد یې تردې وخته پورې رارسیدلی دی- که څه هم چه په الفبایی لیك لیکل شوی وی- په درست ډول سره نه شو اوستلای.

دغسې موږ همدا اوس هم په پښتو رسم الخط کښې دتل «عمق» او تل «همیش» فرق په ځانته ډول سره نشو کولای.

البته کوم فونیمو نه چه پورته دمثال په توګه راوړل شو وهغه ټول واولز Vowels وو .

خو باید و ویل شی چه کله کله کا نسو ننټس Consonants هم په څرګند ډول سره نه شی افاده کیدلای. مثلا په انګلیسی کښې د «u» توری یادننی ژ بپوهنې په اصطلاح ګرافیم Grapheme (۲) کله یو «فونیم» ښیی او کله بل. دغه ډول هم «t» او «h» په یوازې یوازې صورت کښې یو ډول فونیمو نه ښیی او کله چه یو ځای «th» ولیکل شی بل ډول فونیمونه .

دغه ډول په ننني معمولو لیکونو کښې ډېری زیاتې نیمګړ تیاوې موجودې دی چه زه یې دلته له تفصیل څخه تېر ېږم او بیا به کوم بل وخت مفصلې خبرې پرې وکړم. ځکه دلته اصلی مطلب داوچه وښیو چه لیك یوه هغه نیمګړی وسیله ده چه دژبې دښودلودپاره را ایستل شوې ده او له اره په ژبه بنادی. دا خبره برسېره دا جتماع پر تاریخ د اوسنی ژوندله مخې هم ډېره ښه څرګند ېدلای شی. ځکه هرماشوم لومړی ژبه زده کوی او بیا (که وغواړی) لیك. یعنې ترڅو چه ژبه نه وی ترهغو پو رې دلیك سوال ابداً هم منځ ته نه شی راتلای ،

دادی- ددې دپاره چه خبره ښه پسې روښانه شی ژ به اولیك دتاریخی قدا مت له نظره سره پرتله کووا وګو رو چه څنګه چل دی.

(۲) تا ریخی قدامت .

دژبې اولیك دتاریخی قدامت دسره پرتله کو لو په برخه کښې ښکاره موږ دې خبرې ته رسیږو چه لیك په سلګو نو زرو کلونو ترژبې څخه وروسته منځ ته راغلی دی. ځکه له هغو څېړ نو څخه چه دنړی- ستروپوهانو کړې دی نه یوازې دا څرګند ېږی چه «ژبه دا نسا ن لومړنی اختراع ده» بلکه داهم وایی چه «ژبه د ټولنې دپیدا ایښت سره یو ځای منځ ته راغلی اود اجتما ع دتکامل سره یو ځای تکامل کوی اود ټولنې دمرګ سره یو ځای مری او بهر دټولنې نه ژبه اصلاً درك هم نه لری . »

(۱) په لنډ ډول سره «فونیم» هغه دمتمایز ویږزغ واحد بلل کیږی چه په بدلون سره یې د «کلما تو» په معنا کښې تغییر راځی. مثلاً په پښتو کښې د «کور» او «مور» کلمې هر یوه درې «فونیمه» لری چه لومړنی فونیمونه یې یوله بل سره توپیرلری. دتفصیل دپاره وګوری:

An Introductron to Descriptive linguistics-by.Gleason.

(۲) ځینی ننني اروپایی او امریکا یی ژب پوهان د «فونیم» رسم ته «ګرافیم» وایی .

دتفصیل دپاره وګوری: همدا د «ګلیسن» مقد مه چه دمقالې په پای کښې هم دمأخذ په حیث ښودل شوی دی.

حتی ځینې پوهان تردې څخه هم دمخه ځی «ژبه دفکر واقعیت» بولی او وایی چه «افکار پرته له ژبې څخه وجود نه لري.» نو په دې ترتیب سړی ویلای شی چه انسان د ټولنې د پیدایښت دلومړی سر نه ژبه لرله مګر لیک یې بیا ډیر وروسته اختراع کړی دی.

البته په دې برخه کښې کله که موږ «الفبایی لیک» په نظر کښې ونیسو نو دلیک تاریخ په مټ کښې درې نیم زره کاله ته رسیږی. ځکه تر ټولو نه لر غونی الفبایی لیک هم هغه فنیقی لیک دی چه د زر یا یو نیم زر قبل المیلاد په شاوخوا کښې جوړشوی دی (۱) اما کله که هیروغلیف او میخی لیک معیار ونیسو هلته نو بیا دلیک تاریخ یوڅه وړاندې ځی. خو بیا هم له څو زره کاله نه ها خوا نه ځی. په داسې حال کښې چه انسان له ډیرې اوږ دې زمانې نه له پنځو سو وزرو کلو نو څخه تر یو ملیو ن کلو نو پورې راپه دې خوا ګړیږی او ګړیدونکی حیوان دی. کله که موږ داسې فرض کړو چه انسان له پنځه سو زره کاله نه راپه دی خوا په ګړیدا پیل کړی دی او لیک پنځه یا شپږ زره کاله دمخه منځ ته راغلی دی نو ددې معنا داده چه دانسان دلیک لرلو مهال دده د ګړیدلو دمهال سلمه برخه کیږی. یا په بل عبارت دلیک او د ژبې د تاریخ نسبت یو پر سل کیږی اما کله که تردې څخه هم په مخ ولاړ شو او دلیک شروع ۸۰۰۰ ق م فرض کړو نو په دې صورت کښې بیا داویلای شو چه انسان له لس زره کاله څخه را په دې خوا لیک لرلی دی. مګر په دې ترتیب بیا هم دلیک او د ژبې د تاریخ نسبت یو پر پنځو کیږی.»

لنډه داچه دلیک تاریخ د ژبې له تاریخ څخه ډیر زیات راوروسته دی یا په بل عبارت بایدوویل شی چه په انسانی ټولنه کښې لیک دا سې وخت منځ ته راغی چه پرژبه سلګو نه زره کلونه تیرشوی وو. امادلیک اختراع او تعمیم کښې هم څه خبرې شته ځکه دلیک پیدایښت او تعمیم دا سې نه دی لکه د ژبې چه یې له پیدایښت نه را په دې خوا دهرې ټولنې نورمال غړی پرې ګړیدلی دی او ګړ یږی بلکه دلیک زده کړه او تعمیم د ټو لنو او افرادو تر منځ ډیر ریات توپیرلری «په ځینو هېوادونو کښې لکه چین- مصر او بین النهرین لیک زر ګونه کاله دمخه. رائج ومګر په ډیرو زیانو ژبو کښې چه نن ویل کیږ ی لیک یا نسبتاً په دې وروستیو وختو کښې تطبیق شوی دی او یا تراوسه لا هیڅ لیک نه لری ډیرزیات مهال - اندچاپ تروخته پورې لیک او لوست یوازې څو تنو ته ورپه برخه و» حتی په لرو پاکښی هم دچاپ تروخته پورې لیک یوازې دلوړې طبقې او یا روحانیو نومال واونور اکثرو لس ورسره نااشنا و «مګر ژبې ټولې دخپل تاریخ په ټوله دوره کښې دهغو خلکو ترمنځ ویښ شوې دی چه یې لیک او لوست نه دی کړی.»

دانسان په تاریخ کښې ډیر داسې اولسونه تیرشو ی دی چه یې ژبې هیڅ نه دی لیکل شوې مګرد ټولو څخه هیڅ داسې ټولنه هم نشته چه دې یې ژبه نه وی لر لی. په آسیا- افریقا- منځنی اوجنوبی امریکا کښې اوس هم دهغو خلکو شمېر چه په لیک او لوست نه پوهیږی له حده زیات دی مګرداسې خلک هیڅ ځای هم نه لیدل کیږی چه ژبه دې ونه لري.

(۳) دورځنی اهمیت او استعمال له مخې:

په دې برخه کښې تر ټولو نه مهمه خبره داده چه د ژبې استعمال ترلیک څخه ډیرزیات دی او زموږ دا حکم ان په ډیرو مترقی ټولنو کښې هم پوره صدق کوی داسې چه کله که موږ یو پلاټول خلک ګونګیان فرض کړو. نو یقین دې چه زموږ ورځنی ارونه او فعالیتونه به په همدې مدنی او تخنیکی دنیا کښې هم داسې حد ته ورسیږی چه تقریباً د سکون حکم به ولر ی.

ځکه پرته د ژبې څخه مو ږ مجبور یو چه - دلیک په واسطه دیوه کوچنی کاردترسره کولو، دیوه له مطلب

(۱) په دې برخه کښې دمفصل معلومات دپاره و ګورئ دنړی دالفبایی لیکونو مور ددی مقالې د لیکو نکی لیکنه کابل مجله د ۱۳۳۸ کال ۲ کڼه

دپوهولو د پاره دومره زیات وخت تیر کړو چه سړی یې اټکل هم نه شی کولای .

لنډه دا چه کله که موږ لیك نه لرلای نو بنایی چه انسانی تمدن به دې ننني پرتم ته نه وی رارسیدلای اما کله که ژبه نه وی نو به اجتماعی ژوند ناممکنه وی .

دلیك بدلون :

دد ې لړ مقالو په لومړۍ برخه کښې ما د ځینو نورو پوښتنو او مسألو په لړ کښې داخبره هم یاده کړې وه چه « ځینی خلك دلیك بدلون د ژ بې بدلون ګڼی . »

دادی اوس ګورو چه دا حکم درست دی که یه ؟

په د ې برخه کښې ځینی خلك د عنعنه پسند ی د ډیرقوی احساس او ځینو نورو بیځایه خیالاتو له امله اکثر دخپلې ژبې دلیك د بدلون مسألی ته - ولو که چه یې د ژبې معمول لیك ډیر ناقص هم وی - نه حاضر یږی . بلکه د ې کارته په ډیره کرکه ګوری . اما د و ی په دې برخه کښې یوازې په ګرکه هم اکتفا نه کوی . بلکه خپل دغه منفی فکر ته -لکه څرنګه چه تل شوی دې منطق هم تراشي اووایی چه دپلانی لیك اوژبې ترمنځ یو طبیعی ار تباط موجوددی . مثلا په اولسمه پیړۍ کښې و ن هلمونت د « طبیعی الفبا » په نامه یو کتاب ولیکه . ده - څرنګه چه پخپله یهودو - داویل چه عبرانی لیك په جنت کښې دبابادم دخولې دجوړښت له مخی جوړشوی دی(۱) نو له دې امله ددغه لیك اوژبې ترمنځ یو طبیعی ارتباط موجوددی .

دغه ډول ځینی او سنی لیکوال هم په دې برخه کښې بلاکوی . ځکه دوی نه یوازې د اچه د لیك اوژبې یاد «ویبزغ» او «توری» ارتباط طبیعی ګڼی بلکه نژا داولیك هم سره لازم اوملزوم ګڼی .

مثلاً دپښتو ریوتن بناغلی لیکوا ل چه دپښتون دنژاد په برخه کښې تراوسه هم لادسامی توب له زاړه فکر څخه نه دی خلاص داسې لیکی :

« موږ باید ترهر څه دمخه پښتون قوم ته ځیر شوا وو ګورو چه دا قوم له اره دا ریایی نژاد څخه دې او که دسامي نژا د څخه . که داریایی نژاد څخه وی نوهلته بیاباید اریایی لیک دخپلې ژبې د پاره استعمال کړی ا و که دسامی نژاد څخه و ی نو سامی لیک.» (۲)

دغه ډول ځینی نورخلك دی چه هغوی بیا لیك مقدساتو ته ورکشوی اووایی چه پلانی لیك زموږ ملی یامذ هبی لیك دی . نویی له همد ې امله بدلون ګناه بولی .

«یوه ډ له - له د ې خلکو څخه پرهغې کیسی استنادکوی چه وایی خدای جهان پیداکړ. ځمکه یې پیداکړه - د عد ن بڼ یې پیداکړ حیوانات - کبان او ګلان یې پیداکړل . ادم او حوایی پیدا کړل او زموږ دالفبا ... توری یې پیداکړل . نوله دې امله باید هغه الفبا چه یې دخپلې ژبې دپاره استعمالوونه بدله کړواونه یې باید پرته له دا موجوده بڼې څخه په بله بڼه ا ستعمال کړو .»

دادله خلك په دې برخه کښې دومره ټینګار کوی چه دخپلو ځینو مقد سو کتابونو اویاد مقد سوژبو؟» لیکل پرته له معمول رسم الخط او یالیك څخه په بل رسم الخط یا لیك ستره ګناه بولی .

امادې ته یی فکر نه دی چه دغه مقدس کتابونه او «مقدسې ژبې؟» دمخه تردې معمول رسم الخط اولیك څخه یی بنایی په نورورسم الخطونو اویالیکونوهم لیکل شوی وی .

په همدې ترتیب دوی دې ته هم باید متوجه شی چه دوی دغه «مقدسه ژبه» دځینو نورو مقد ساتو له مخې

---

(۱) حقیقت د اد ی چه عبرانی لیك هم دنورو ټولو الفبایی لیکونو په څېر دفنیقی لیك څخه راوتی دی.

(۲) دلته دبنا غلی لیکوال مطلب داریایی لیك څخه «لاتین» او مطلب د «سامی» لیك څخه موجوده عربی رسم الخط د ی . خوله بده مرغه ده ته دانه ده څرګنده چه نه یوازې «لاتینی» بلکه ټول اریایی معمول لیکونه هم سامی ا لا صل یعنې د همغی فنیقی الفبا څخه راوتلی دی .

مقدسه بولی . امادې ته نه ګوری چه په یوه زمانه کښې دا «مقدسه ژبه» هغو خلکو هم ویله چه ددغو خلکو له مقدساتو سره دمرګ ترورځې جنګیدلی او له همدې امله ددوی له خوا په ډیرو بدو نومونو یاد شوی دی .

دغسې هم دا ډ له خلك دې خبرې ته ډیره لبزه توجه کوی چه هغه لیکونه چه د لومړی ځل دپاره ددوی مقدسات پرې لیکل شوی دی. دغه ددې کتابونو ترلیکلو څخه دمخه هم رایج وواو هغه څه پرې لیکل کیدل چه دد وی په نظر رټ منفورا ومرد ود او یالبز ترلبزه منسوخ دی .

البته زموږ داخبرې هم دڅه را وروسته مراحلو په برخه کښې دی . ځکه کله که لبز څه دمخه ولاړ شو نوهلته بیا وینو چه ټول معمول الفبایی لیکونه فقط دیوه لیك څخه راوتی دی چه هغه فنیقی الفبایی لیك دی او موږ وړاندې هم پرې وږغیدو .

اماداهم باید وویل شی چه دهغو عنعنه پسندانو او محافظه کارانو څخه چه دمخه یادشول یوه بله ډله بیا لیك ته دملی قدسیت رنګ ورکوی اودملیت دعناصرو سره یې ګډوی . مثلا دوی بیا لکه څنګه چه دمخه هم وویل شوه دلیك بدلون دژبې بدلون او ژبه دملیت جزء بولی. نو په دې اساس وایی چه کله که موږ خپل لیك بدلوو نومو په ژبه کښې هم بدلون راځی. یعنی کله که لیك بدلیږی نو ژبه هم بدلیږی او دخپلې ملی ژبې بدلون یا پریښودل یوه ملی ګناه ده . خوددوی دلایل هم په دې برخه کښې هم هغه دلایل دی چه وایی د هرې ژبې او لیك ترمنځ یو ډول طبیعی ارتباط موجوددی او په دې اساس پرته دهمدې معمول لیك څخه بل لیك زموږ ژبه نه شی افاده کولای . یاداچه وایی څرنګه چه موږ د پلانی نژاد یو نوله دې امله باید هغه لیك دخپلې ژبې دپاره غوره کړو چه له اره دهمدې نژاد لیك وی نه دبل.

اماځینی عنعنه پسند ان تردې څخه هم لا یو څه خپل نظر تنګوی او نه یوازې داچه دلیك او یا دیوې ژبې دمعمولی الفبا رټ بد لون د ژبې بد لون بولی بلکه یوازې په همدې معموله الفبا کښې څه اصلاحات او یا په اصطلاح «املایی» بدلون هم نه شی زغملای او وایی چه:

« د night,fight,light پرځای nite,fite,lite لیکل دژبې حیثیت ته صدمه رسوی .»

یاداچه وایی :

«کله که دخرد-خرسند او خشنود کلمات په واو یعنی خورد-خورسند او خوشنود لیکو داپاړسو ژبه ګډوډوی. »

یاوایی چه : «داصلی فرانسوی د Chaud دپاره Shôd لیکل یا د Mauviase د پاره mo-VEZ لیکل دفرانسوی ژبې مقام راټیټوی. »

یا داچه وایی : «کښې - په بله بڼه یعنی - کې- لیکل په ژبه کښې ګډوډی ده .»

اماڅرنګه چه دمخه ګڼه کښې هم ویل شوی وو اصل حقیقت دادی چه: «ژبه لیك نه دی، بلکه یوازې دژبې ثبتول دی په یو ډول نښو چه په سترګو لیدل کیږی» .

«ژبه دلیك په هر ډول سستم چه ولیکل شی عین هم هغه ژبه ده . لکه څرنګه چه دیوه سړی هر ډول «عکس» واخستل شی سړی عین هم هغه سړی دی او د «عکس» په واسطه دده اصل کښې کوم بدلون نه راځی.»

«جاپانیان دلیك درې سستمونه لری او څاورم یې هم دمنځ ته راوتلو په حال کښې دی. ترکانو په ۱۹۲۸ کښې دعربی دالفبا پرځای لاتینی الفبا تطبیق کړه اما ګړیدایې هغسې پاتی شوه لکه دمخه چه وه او دالفبا دبدلون سره هیڅ بدلون هم پکښې رانه غی.»

داوې هغه خبرې چه مادلیك او ژبې دارتباط په باره کښې وکړې. هیله ده چه په بله ګڼه کښې به ددې لړ مقالو په لومړی برخه کښې ځینی نور ذکر شوی سوالونه او حکمونه رامنځ ته کړو او مفصل به پرې وږغیږو .

نوت: ددې لړ مقالو په دې برخه کښې مې برسیره پرهغو اثارو چه په تیره ګڼه دماخذ وپه توګه وښودل شول دلاندې اثارو څخه هم استفاده کړې او ښایی چه ددې لړ مقالو په راتلونکو برخو کښې هم ورڅخه استفاده وکړم.

(۱)- مارکسزم درزبانشناسی د-ای - و-س-لیکنه دتهران چاپ ۱۹۵۳ .

(2)An Introduction to Descriptive Linguistics.by:Henry .A. Gleason. New.york.1960

پښتانه او پښتونواله

لیکونکي قدرت‌الله حداد

تاریخي څېړنې :

د پښتون کهول

ښاغلی حداد

توت پاخه شوی و. ګرمی ښایسته ډیره وه، ملګرو وویل چه د توتو مهال به تیر شی او په مړې ګیډې به موتوت نه وي خوړلی. یوه غبز کړه چه چهل د خترانو کښې ښه توت دي نیازاکامې آشنادی. راځی، چه ورشو. دا خبره ټولو خوښه کړه او رهی شوو.

چهل دختران د چهاردهی جنوبی خوا کښې تقریباً پنځه میله لیری پروت دی او دغې سیمې کښې نژدې سل کوره منګل پښتانه پراته دی. ماویل چه د دې سیمی نوم باید منګل کوټ وای ملګرو وویل چه هلته به دا خبره هم وکړو،

هلته چه ورسید وچټ پښتانه په کښې ښکته پورته ګرځیدل هر یوه به ستړی مشی راکوله یو سړی موچه یوه کور سره ولاړ وو پوښتیده چه د نیازاکا کور کوم دی؟

- ویل همدغه یې کور دی.

موږ سره یی په غیبز پوښتنه وکړه او کورته ننوتلو. څوکسه نور هم را ننوتل هر یوه به په غیبز ستړی مشی کوله سمدلاسه چای، شیدې او مستې را ورسیدلې وږې هم وو ښایسته څه موو کړه. دمه چه جوړه شوه پوښتنه موو کړه چه نیازاکا چیرته دی؟

- اوس به راشی.

یوه شبیه وروسته نیازاکا را ننوت له خوشحالی په کالیو کښې نه ځاییده خورا د مینی روغبړ موو کړ د نیازاکا جامه خواره وه او کور کښې لویې ښې قالینې هوارې وې او بډای سړی بریښیده یوه ګړی د خوند جمه (۱) موو کړه د منګل کوټ خبره موهم یاده کړه یوه پښتانه چه توره ګڼه زیره یی درلوده او په ځان هم ښه جوړو وویل، هغه وخت انګریزان منځنی افغانستان ته راغلی وو نو دغو سیموته هم را ورسیدل له دغی ویالې څخه چه را پوری وتلی، دغه ویاله ښکته بهیږی او عالمونه او به کوی نو کوزې سیمې انګریزانو ونیولې دلته څلو یښتو پیغلو لاس یو کړ او په انګریزانو باندې ئې او به وتړلې.

نو دا نوم له هغو پیغلو پاتې دی او هغوی ښایی پاړسی ګړیدل نو موږ نه غواړو چه د نه نوم بدل کړو او د هغوی نوم ورک کړو.

موږ بیخی قانع ؤو او په زړه کښې مو هغه څلو یښتو پیغلو ته سلامونه استول. او دغرور ساګانې مو ښکته پورته کولې.

نیازاکا وویل جمه خوندوره ده راځی، چه هغی بلې کوټی ته ډوډی له پاره لاړ شو.

- هغه بله کوټه چیرته ده؟

- څو کوره هاپلو!

(۱) د پکتیا په لهجه کښې صحبت مجلس او اختلاط ته ویل کیږی.

موږ وپو هیدو چه دا کور دنیازاکا نه دی .

هغه لومړنی سړی ته مې چه په عمر پوخ ښکار یده مخ واړاوه او پوښتنه مې وکړه چه تا خوویل دغه دنیازاکا کوردی؟ (ده له نیازاکا سره هیڅ خپلوی نه درلوده) هغه په خندارا ته وویل چه ورو ره ګله! پښتون یو کهول دی!!

پښتون یو کهول دی!! دا خبره مې زړه ته ولویده رښتیا خبره داده چه هیڅ پښتون د بل پښتانه کره پردې نه دی او پښتانه که هو څو مره ګڼ وی دیوه کهاله زامن دی. پښتنی میرمنې د هر پښتون بچی څخه جاریږی او خپل دمینی په غیږ کښې یې نیسی هره پښتنه میرمن د هر پښتون ترور او توړی ده چه هیڅ ډول استثنی نه لری.

دپښتون کهول یو کمکی کهول نه دی شل ملیونه وګړی په خپل کور کښې پراته دی دیارلس ریاسته په هند کښې دی ددوی معلوم اقلیت په سیلون کښې شته دری نیم زره کوره استرلیا کښې دی امریکا کښې هم شته ...

ښاغلی غبار دبیلو انګلیسی (نامتو مؤرخ) له قوله لیکی: «دتاریخ دعلم څیړونکو له پاره دپښتنو په هیواد کښې دڅیړنې یوه لویه پاڼه پرته ده او عجیب اسرار په کښې میندل کیږی» .

(بیلو) ورسته له هغه چه درې زره کاله دپښتنو دوم دساتنی بیان کوې او بیا هغه ورته والی د (هیرودت) له خبرو سره ښیی داسی لیکی «هیرودت» دیوه بیخی بیل هیواد یادونه دپاکتیا په نامه دآرمینیا په ولایت کوې چه دنامه له حیثه دافغان پاکتیا سره منطبق کیږی سربیره پردې ګرانه نه ده چه دغه نوم دجنوبی اروپا په هیوادو کښې وغواړو لرغونی (پکتوی ایم) او نوی (پواتیرز) په فرانسه کښې او (پکتس) دانګلینډ په جزیرو کښې کټ مټ دافغان له پاکتیا سره تطبیقیږی او څرګندورته والی لری .

د «کمبرین» دخلکو نوم چه پخوانی برطانیی کښې اوسیدل او دکمباری دقلات دخان له خانوادی لږ اوډېر دپکتیا (پښتونخوا) له کاماری او کامیر خیل سره چه افریدیو څانګه ده مطابقت لری دغه راز د (لاګرین) نوم په لرغونی برطانیی کښې له (لوګری) سره تطبیقیدای شی او دغه ورته والی دومره اوږدو مسافو کښې دحیرت وړدی» بهر له افغانستان څخه تاجیک لرغونی پښتانه دادیکانو څخه دی او دیګان خیل (شرخبون څانګه) او تاجیک دلته هم پراته دی سکائی، ساکار اموکا = سکستان، سیستان دننه او سکائیان سکیان په ماورألنهر کښې، سیکی (توری څانګه) سرکاڼی (الکزی څانګه) او سکتوی (داورمړ څانګه) او ساک د (ملهی خیل څانګه) او ساک، سرکی زایی (لودی څانګه) یو د بل مشتقات او تحریفات دی .

ښاغلی غبار لیکی: «دګرجی او ګرجستان نومونه له غرجستان، غور ګرجی زی (دبرک زی اولاده) سره نژدی اړیکی لری» دغه راز بیلووائی: وروسته به ډېر حقایق په دې برخه کښې ثابت شی چه دپښتانه له ټبر څخه څومره خلک په نړۍ کښې خواره شوی» له دغو کنتو داسې څرګندیږی چه پښتانه له خپلی سیمې و تلی او اوترفرانسی او انګلستان پوری رسیدلی ځکه د دوې نومونه دمدیترانی پرڅنډو ترانګلستان پوری لیدل کیږی او دا خبره څرنګه چه ښاغلی غبار لیکلی دفرانسی او انګلستان لرغون پیژندونکو څیړلې ده دبرتانیی اسلامی انسیکلو پیدیا په حواله لیکل شوې چه چه دپښتنو اوسنی نسل ترلاهور پوری څنګ په څنګ پروت دی او بیادننه د هند په ریاستونو کښې خواره شوی او دیارلس ریاسته له دوی څخه جوړیږی سیلون او نورو جنوبی اسیائی هیوادو کښې میشته شوی دزمانی له تیریدو سره یی ډېر و سیمو کښې خپله ژبه هیره کړی او نورې محلی ژبی یې زده کړی.

دژبی بدلید لوله پاره فقط دوه نسله کفایت کوی دلته اوس موږ وینو چه پلار پښتو غږیږی اوز وی نه شی غږیدلای .

(پاتی په ۵۱ مخکښی)

دافق ژباړه

راډیو او مارکونی

هغه وخت چه تلګراف او تیلفون اختراع شول زموږ (انسانانو) په ژوند (خبرې کولو-لیکلو-لیږلو را لیږلو) کښې یو ښکاره تغییر ولیده شو، چه د دغه تغییره سره سم بیا (مارکونی) راډیو اختراع کړه. دراډیو اصلی تاریخ هم له دغه وخته څخه راشروع دی.

مارکونی د خپلې اختراع په وخت کښې برقی امواج په کار اچولې دي - البته چه ده به د خپل ضرورت پر بنا نوموړی امواج استعمال کړی وی خو ترهغه وروسته نن او ترنن لاوروسته سبا به د خپل زیات ضرورت پر بنا د نوموړو امواجو څخه ډیره ډیره ګټه واخستله شی. یعنې طبیعی قواوې به پرې کنټرول شی- په بحرو کښې به خطرنه وی - هوائی لارې او هواپیمائی به اسانه شی مرګ، ناجوړې او نور افتونه به هم پرې وساتل شی.

دغه موجونه (چه دراډیو اصلی مفهوم دی) چه موږ لوړیاد کړه دنور په شان چابك دی او په کشف کښې یې دالاندی درې کسه ښه برخه لری.

(ماکسویل-هرټز او مارکونی)

که څه هم لحینو نورو خلکو ددغه کشف دپاره زحمتونه ایستلی دی خو که رښتیا وی مارکونی راډیو اختراع کړیده.

(ماکسویل) راولاړشو دبې سیم موجو پیشګویی یې وکړه او دهغه دپاره یې یوڅه قوانین وتراشل.

(هرټز) بیاد بې سیم هغه امواج وڅېړل چه چاپې کشف نه شوی کولای.

کله چه (مارکونی) ته وارورسیده هغه نوددغه علم دپاره الات او اسباب جوړ کړه دعمل پرمیدان یې راوایستل چه ګواکی ننني راډیو د مارکونی اختراع بولو.

موږ وویل چه د دوی څخه پرته نور خلك هم په دې فن کښې داخل شویدی مثلاً یوسړی چه (اولیورلوج)

نومیږي کوشش یې کړیدی چه راډیو مینځ ته راوباسی دهرټز برقی امواج یې وڅیړل-خبرې اترې یې ډیرې پرې وکړې- امادیوه بل شغل په واسطه یې داکار پریښود.

پروفیسر (ریهی) چه د مارکونی استاد وو په لابراتوار کښې یې د مارکونی دبرقی موجو اقتدار تثبیت کړیدی .

(اولیودهیویساید) چه په انګلستان کښې دتلګراف انجینر وودبې سیم موجوتوان یې په خورا حقیقی ډول سره ښکاره کړاودایې وویل چه نوموړی امواج په فضا کښې په میلو میلو د مځکې د سطحې څخه لیرې دی

ماکسویل په کال ۱۸۳۱ کښې دانګلستان په خاوره کښې زوکړل شوی دی- علمی مقام یې لوړوو اوله نیوټن سره په صف کښې ځای ورکړه شویدی .

دماکسویل یوه مهمه نظریه داده چه وایی:-نور اوبرق دیوه اساسه څخه دی خوپه وروسته کښې تغیر خوری . اما داخبره دهغه وخت په علمی ساحه کښې ګرانه وه چه یابرقی موجونه کنټرول کړی اویا نورو امواجوته پیمانه وضع کړی .ده داعقیده درلوده چه دبرق انرژی دنور دا نرژی په څیر دموجوپه شکل حرکت کوی . دبحرو موجونه یو په بل ننوځی دآوازوموجونه په هواکښې ښوری-ایسته دورې کیږی امادبرق اونورامواج په فضاکښې یود بله اوړی را اوړی چه ددغه اخری موجواندازه کول دهغې زمانې تروس وتلې خبره وه - ځکه دا سې آلات نه ووچه نوموړی امواج کنټرول کړی خوصرف ماکسویل خپل فکر دپیشګویی په شکل وایند ه نسل ته پر یښوده دده خوشحالی اوفخر داوو چه ویل یې .

دنورا وبرق موجونه په یوه سرعت سره حرکت کوی یعنی دواړه موجونه په یوه ثانیه کښې (۱۸۶۰۰۰) میله سرعت لری .

د(ماکسویل) څخه وروسته هم دغه موضوع هیڅ نه ده سره شوی اوله ده څخه وروسته ۲۳ کاله (هینریچ هرټز) دده نظریه تعقیب کړه اواثبات ته یی ورسوله چه برقی موجونه داسې حرکت لری لکه دطبیعت نور موجونه چه یې لری .

دابه وولیو چه دده په وخت کښې فکری وسعت زیات شوي وواوعملیات هم لوړ تللی وځکه چه دبرقی جریاناتوامتحان یې کولای شوای البته چه ددغوتجربو ساحه وړه وه .

(هرټز) چه پخپل لابراتوار کښې تجربې کولې اوزحمتونه یې ایستل مقصدیې داوو چه ګوندی یوه اله جوړه کړی، کومه چه دهوا موجونه داکشولای شی اوغټولای یې شی . بیایې هم خواری بی ځایه ندی تللې اوڅه نه څه یې دا مواجوپر کشف باندی لاس څرخیدلی دی . هغه ووچه ایټالوی (مارکونی) دغه کشف پسې پوره کړاوددې نوي اختراع تاج یې پرخپل سرباندی کښیښو د .

دمارکونی پلارایټالوی وو پخپله یوخوراځیرك اوپه ژبه پوه هلکی وو دده ټوله خواری اودربدری دڅه دپاره وه چه خپل ټول ژو ند وقف کړی ولی؟؟ ایاویلای شوچه دده غرض څه وو ؟؟

هو! دده مقصد د راډیو اختراع وه چه نن او سبابه انسانان د خپل انسانیت په ساحه کښې ددغه نامتو مخترع (مارکونی) زیات زیات قدر او عزت و ساتی .

پروفیسر(ریهی) چه دده د فزیك استادوو ده ته یې د برقی امواجو په باره کښې بیانونه ورکړیدی او تجربې یې ورته کړیدی .

ده داموجواپه باره کښې داسې ورته وویل چه برقی موجونه ټول په مځکه کښې تیریدای شی اماپه «فضا» کښې غورځی اوجمپ خوری .

تجربی یې په لاندې ډول سره کړیدی :

(۱)

یو دوه سیمی کویله (۱) یې راواخستله او په یوه فاصله کښې یې سره کښېښوده. دیوه کویل سیم یې یو څوانچه چاك کړی وو په دغه وخت کښې یې ودغه چاك کویل ته برق ورا یله که که یې کتل چه ددغه درزه څخه یوزغ د لمبی سره وخوت په هغه آن کښې دغه جرقه پیښه شوه دستی په دستی هغه دوهم کویل دغه اواز کش کړ او مخزن ته یی ورساوه .

دپرو فیسر نوری تجربې هم و لوړی تجربی ته شویدی خو په دغو ټولو کښې یې غرض داوو چه برقی موجونه په فضا کښې غور ځی تګ کوی او سیمانو ته هیڅ نه دی اړ چه دیوه ځایه څخه یې وبل ځای ته یوسی وروسته له دې څخه (مار کونی) هم په تجربو ګوتې پورې کړې زحمتونه یې وایستل چه باید دلوړو اساساتو پر بنا راډیو اختراع کړی .

نو یې یوه ورځ دیوه باغ (چه دده دپلاروو) په پای کښې یو سیم چه چاك هم لری تیر کړ دخپلی تجربی دپاره یې دمورس دکلی څخه هم کار واخست او دټیلفون ریسیور یعنی آخذه یې هم په کار واچوله وروسته له هغه یې و سیم ته دبرق جریان ورایله کړ (چه دغه جریان دمورس په کلی سره کنټرول کیږی) که ګوری چه د تیلفون رسوونکې اله هغه دمورس ټکی په خور اوضاحت سره رسو لای شی دې تجربې ترجمانی داده هغه وخت چه به دمورس کلی په ډاټ ډیش ووهله شوه دغه برقی جریان په دغه شکل سیم تیراوه څو چه یه دسیم ودرز ته ورسیده هغه به آواز وکړ دغه اواز به دتلیفون (ریسیور) کش کړ اوورو به یې ساوه

مارکونی چه په داسې تجربو کښې خپل ځان کامیابه ولیده نو یې وویل دغه برقی موجونه په غرور وواو غو ندیو هیڅ باك نه کوی تر هر څه راتیر بدای شی او ور تیر یدای شی خبره داده چه باید یوه اله جوړه شی کومه چه آواز ونه اوسګنا لو نه ښه اوصاف ور سولای شی (مارکونی) چه دغه اله جوړه کړه نو یې داواز دصافوالی د پاره یو ایریل (هوایی سیم) هم ور جوړ کړ چه ښه کافی اوږد وآلی یې درلود هغه یی نیم په مځکه کښې ښخ کړ او نیم یی وهوا ته ور کړ،

اوس چه مارکونی خپله اختراع په دغه شکل پای ته ورسوله نو بیا په کال (۱۸۹۶ع) کښې انګلستان ته ولاړ او دهغه ځای له حکومته څخه یې اجازه وا خسته چه خپله اختراع وښیی پس له یو څو کاله یی یوه کمپنی دبی سیم تلګراف په نامه جوړه کړه .

هغه وخت چه ده د (سالسبری) په میدان کښې کار کاوه نو یې دهغه ځایه څخه د (برستل) ترکانال پورې خواته یو پیغام واستاوه په کال ۱۸۹۸ع کښې دانګلستان بحری قواوهم له دغې اختراع څخه پوره کار واخست.

مارکونی وار په وار فاصلې لنډې کړې او داوږدو واټنو سره په تماس کښې شو چه دې کامیابی ښه مشهور که خصوصا مارکونی هغه وخت ښه مشهور شو چه ویکټوریا د (ویلانس) شاهزاده ته یو پیغام واستوه هغه چه په بحر کښې د کښتی پر یوه تخته ناست وو .

هغه وخت چه (ګینګ سټارن) کښې د کښتیرانی مسابقه شروع وه نو داحوال اخستلو دپاره به دغه نوی اله ښه په کار ولویده

مارکونی چه دغه دموجو مسئله ثابته کړه او را ډیو یې تری وایسته نو ډیرو خلکو استقادم ځینی وکړه اما یو تعداد خلك ووچه دا خبر یې نه شوای منلای ځکه دوی ویل چه د مځکی انحنا دنو موړو موجو مخ نیوی کوی او راګرځوی یې .

مارکونی چه په (کارنیوال) کښې د علاماتو اوسګنالو یو سټشن راویوست نو یی خوراکار چوك وو په کال (۱۹۰۱) کښې) (نیوفوند لینډ) ته ولاړ هورې یې هم کار

۱- سیمی کویل (WIRE COIL) هغه سیم ته وایی چه سیم دیوې الغی په شکل وپیچل شی

کار چوك وهرڅه چه به یی ترتیب کړه په خورا کامیابی به ترهغه ترتیب وتی.

دهلهره ځایه سره مخابره درلوده په بحرو کښې یی دکښتیو سره خبری کولای شوای په وچه کښې یې دغرو اورغوسره هرڅه ویلای شولی

مارکونی وویل چه که دغه برقی جرقې پهدرې زره میله کښې ثبت شی بیا نوهرڅه اسانه دی .خو هغه وخت چه دهدغه تجربه په (نیوفوند لینډ) کښې وکړه خورا کامیابه وه اوپه زړه پوری نتیجه یی ورکړ .

په (۱۹۰۳) کال چه دبحر یوی کښتی د بې سیم سنګنا اونه ثبت کړه بحری خطری هم ګواکی لهدغسی خوتوڅخه مخ پر ورکیدو شروع کړیده .

پش لهدغه نودوچې اولندې مفاهمه خورا اسانه او کامیابه وه په کال (۱۹۲٤) کښې مارکونی خپله اختراع (راډیو) دقوانینو پهغیږ کښې وپیچله بعضی نوری خبری یی پسې ور زیاتې کړې چه په دې ترڅ کښې یې دلهم وویل دبی سیم امواج ټول دیوه مستقیم خطپهشان تیریږی داخبره، نواوس لازمه دهچه ووایو دبی سیم امو اجو څخه پرون چندانی استفاده نهده شوی اونن هم هغسې لکهلازمه چهده ګټه نهده ځینې اخستل شوی خوسبا بهددې انرژی څخهډول ډول ګټې واخلی اوپهدغه راډیو یې امواجو به مځکه اوبه هوااوټوله شیان کنټرول کړی دغه وودراډیو اوبرقی موجو بیان چه په کشف کښې یې (مارکونی) کامیابه برخه اخستی ده

(پای)

(د٤۷ مخ پاتی)

داد موضوع یوه خواوه ، موضوع بلهخواهم لری هغه داده چه له بلې خوا ټول خلك په پښتو پوهېږی ځکه چه په وروسته کلونو کښې پښتوته پاملرنه شوی خپله زماپهیاددی چه مابه دپښتوخبری نوروته ترجمه کولې اوڅوك نه وربا ندی پوهید ل مګر اوس دا نقیصه له مینځه تللې ده .

ددې مقالې مطلب داوچه پښتون یوکهول دی . اودغه کهول یوکمکی کهول نه دی وروسته به دعلم اوخیړنې لاس له ډېرو حقایقو پرده پورته کړې او ورو ورو به ټول خلك داخبره ومنی؛ دټولو پښتنو به دې خبری ته پامشی چه ځینو عواملو هغوی جبری خواره کړی. پښتانه چه دنړی په هر کوټ کښې اوسی زمونږ سکه ورونهدی- اویوه ورځ به خپل کور کښې سره راټول شوو.

(پای)

د افغانستان دختیځو او مرکزی برخو د کوچیانو

اجتماعي حالت

ښاغلی محمد عزیز کاکړ - په کال ۱۳۳۹ کښی هغه وخت چه دادب په بوهنځي کښې دڅلورم ټولگی محصل و ،له ښاغلی کلوس فردیناند- د نمارکی انتر وپولوجست سره یې، د افغانستان دختیځو اومرکز ی برخو دکو چیانو دمطالعې دپا ره په سفرپیل وکړ ،دوی په دغه سفر کښې چه دوه نیمی میاشتې اوږدو ، دغلجیو اومخصوصاً داحمد زیو کوچیانو دلیږدلیکه پسې ونیوه، اوله هغوی سره یوځای دننگرهار له سره رودنه ،کابل ، لهوگرد ، میدان ، داونی کوتل ، هزاره جاتو ،دکوچیانو دگم اوبا زارونو ، چغچران ، اوغوراتوته پسې پورته وختل. کوچیانی ژوند ته یې ملاوتړله ،اوپه کډوبار کښې یې برخه واخیسته اوپه دې ډول یې خپل مطالعات وکړل لاندې د ښاغلی کاکړ ، دافغانستان دختیځو اومرکزی برخو کوچیانو په نامه تالیف هغه برخه ده چه دهغو په دود دستور ، اوذهنی اواجتماعی ژوند پوری اړه لری . اداره

عزیز کاکړ

دکور مشر

پلار دکور مشردی ،دی په کور کښې په ټولو باندې مطلقه حاکمیت لری . دخپل کهول له پاره خوراك، پوښاك او نورشیان برابروی، راکړه و رکړه او نورې معاملې دپلار په واسطه کیږی په غم ،ښادی او جرگو کښی برخه اخلی .

موردننه په کاله کښې دکور دتنظیمو لو له پاره مؤظفه ده. په زامنو ،لوڼو اونگیند وباندې حاکمه ده ،لوڼې اونگیندې مجبوری دې چه له موراو خواښې نه تل هدایت واخلی .

دمشراو کشر ترمنځ سلوك

کشران تل دمشرانو مطیع دی او هغوی ته چه هرڅه مشران ووایی په هغه ساعت پخواله دې چه کوم عکس العمل وښیی عملی کوی یې. وړوکی هلکان مشرانو ته په انتهاد رجه مؤدب وی او دهغوی دامرا وفرمان مطیع دی. مشرهم په خپل وار په کشرانو دروند بار نه ږدی او که چیرې کشر غلطی او یاچیغې پیغې وکړی مشرپه ډیره پسته ژبه هغوې ته غږ کوی اوپه نرمه لهجه ورسره گړیږی. کشران دومره دخپلو مشرانو مطیع دی چه که چیری راغلی او نا آشنا سړی راشی ددوی داطاعت له مخی به دپلار، تره اومشرورووترمنځ فرق و نشی کولای . ورور له خپل ورور سره په ډیر احترام سلوك کوی . په کور کښې چه هرڅو مره وروڼه او دو اده خاوند ان وی په ډیر ورین تندی او اتفاق له یوې کیږدی لاندې ژوند کوی او شپې ورځی تیروی .دوروڼو په منځ کښې دنیوی متاع دیوه خس قدرهم اهمیت نه لری ،په ور ور گلوی باندې یوازې دننگ اوناموس او پښتنولی پت اووقار ساتل اغیزه لری .په وروڼو کښې دهرچا حدود، حقوق او کار

دموـاخیلو دکام سپین ږیري لهخپلو څلوروزامنو سره

معلوم وی خوسره ددی هم هریوچه برابرشی دبل ورور کارکوی اوله مرستی نه ځان نه سپموی .

دنارینه و موقف

دنا رینه وجود په دوی کښی فوق العاده اهمیت لری دغه اهمیت لا هغه وخت پوره معلوم وی چه لاماشوم دمور په گیډه کښې وی . گرد کهول خوشحالی کوی پال وینی، نز رونه اوروژی په ځا ن ز د ی چه که نارینه زوکړ ل شی دد ی علت واضح دی . په دوی کښی بدئ اوو ینی تو یول بی شمار د ی نو یوازی نر اولاد کو لای شی چه دخپل نیکه، پلار ، ورور او د نورو خپلوانو انتقام اوپور واخلی.

په بد یواود ښمنیو کښی شتمنی او دولت رول نه لری .هغه کورنی چه دنارینه اومیړوله خواغنی وی په تربگنی اودښمنیو کښی لاسونه یی بروی اومیدان وړی دهلك په پیدا کیدلو خوشحا لی کیږ ی او ټوپکونه ویشتل کیږی . زوی ته په دور کښی نسبت لو رته خا ص اهمیت ور کول کیږی هلکان په ډوډی خوراك کښی دپلاراو نورنارینه و سره ناست و ی حال دا چه لورته هیڅکله داسی حق نه ورکول کیږي اونه

دعیسی خیلوښاغلی نوروزاکا

هغه نجلۍ ماشومه ددی جرئت لری چه دپلار غیبزی ته په زغرده ورشی .

درمو پیول واښه راوړل دهلکانو په لاس وی. پلار یوازې دخپلو ځامنو سره در مود لوشلو په وخت کښې برخه اخلی د میبزولوشل دنرانو وظیفه وی ښځې او جنکی میبزی کنډ رته ننه باسی او دلوشلو له پاره یې غاړی نه نسی

دښځو موقف

په عمومی صورت ښځې د حقوقو له نظره محکومې دی په کور کښې دنجلۍ پیدا کیدل دبدشګومې نتیجه ده. ګرد کهول او نور خپلوان پرې خواشینی کیبزی او خجالت احساسوی. که دلور دپید اکېد وزېری واوری شرمېبزی او عار یې ګڼی نارینه واوځینې و ړوکیو هلکانو ته دوړکیو نجلیو په غیبز کښې اخیستل عار دی پلاردې ته نه حاضریبزی چه خپله لور په غیبز کښې واخلی لور له پلار سره بیخی پردی ښکاری .

ښځه دمتاع او تجارتی مال حیثیت لری کوم وخت چه نجلۍ پیغله شی پلار یې که سپین زیری او یا وړوکی هلک ته ورکړی لور حق نه لری چه خپل نارضائیت ښکاره کړی که چیری نجلۍ په دې کار ناراضه وی او یا په بل سړی ناری کړی او یا ورپسې وتښتی دپلار ګڼی له خواوژله کیبزی که نجلۍ دکومی بدی او قصد تر سره کو لو له امله میړه ته ورنکړه شوه هغه مجبوره ده چه خپل سر سپین کړی او دپلار په کور کښې واوسی ښه او ښایسته پهلوانه پیغله دهغه سړی ده چه ښه شتمنی ولری ډیر سپین زیری ملکان شته چه درې او څلور چټې پیغلې ځانته کښینولی له بلې خوانور تکړه مجرد ځوانان ډېر دی چه دولور د ورکولو توان نه لری خواشینی او بې ښځې ګرزی.

ښځه دمیراث داخیستلو ادعا ګرد سره نشی کولای داسی واقعه پېښه شوی نه ده چه ښځې میراث اخیستی وی دپیغلو له ښځو نه له ورا فرق کیبزی نجلۍ چه واده شی دهغه ور بل له منځه ولاړ شی سراوبی او کوڅی ګوی یې او هم داصی کوته په کیبی پرتوګ بدلوی.

ښځه دکور مسئوله ده چه باید خپل اولاد وروزی سوکړک پوخ کړی او په راوړی دمیبزور اوستو په وخت کښې له میړه سره مرسته وکړی او دلوشلو په وخت کښې میبزی ونیسی شړومبی وشاربی کرت او غوړی جوړ کړی دکډو کولو په وخت کښې ښځه خپل خاوند سره دبارولو او بار کوز لو په وخت کښې سمه نیمایی برخه اخلی دکیبزد یودرول او پیڅولو غوړول مخصوصاً د ښځو کار دی .

په دې حساب پهلوانې پیغلې چه ښه مال بارولی شی او ددرنو کارو له تاوانه وتلی شی، ډیرولور پرې ورکول کیبزی. اندامه ورې او پهلوانې پیغلې په حسینو او ښایسته پیغلو ترجیح لری. که څه هم چه ښځه دنارینه و په نظر دیوه مال حیثیت لری مګر د میړه او عورتې په خبرو کولو او ژوندانه کښې مطلقیت او استبدادنه لیدل کیبزی میړه او عورته په پاک او بی الایشه زړه ژوندون کوی ښځه کولای شی په ډیرې زړه ور تیا چه یو عالم

دکوچیانو دوه واړه ماشومان دسباورځی دځوانی په انتظار

صداقت، سادګی په هغه کښې مضمره ده د خپل خاوند سره خبری وکړی داسې بریښی چه د میره او عورتې ترمنځ دیوه خواز ه ملګر یتوب او همکاری ژوند دی او یو بل ته د مشاور حیثیت لری په ښځې باندې د خپل څښتن لوی اعتماد او باور دوی پښتنی سپیڅلو صفاتو پاک لمنی توب زړه ورتیا به سلوک او ازادی ته سوق کړیدی .

میلمه پاله

میلمه پاله د ګردو پښتنو یوه خاصه ممیزه ده خو په احمد زیو کښې خاص اهمیت لری . میلمه پالنه او دهغه عزت کول خپل خاص د پښتونولی ـ ایمانی ـ و جدانی او مذهبی وجیبه ګڼې په میلمه ډیر خو شحالیږی او هغه ته د ډیر قدر په سترګه ګوری .

اشنا او نا اشنا میلمه د کور د نورو غړو په شان ښځو سره ګډ کښینی دوی کوښښ کوی چه میلمه ځان بردی سړی حس نه کړي میلمه سره په ډیر پراخ اوورین تندي خبری کوی د کور واړه اوزاړه له میلمه سره داسې په خبرو بوخت شی چه میلمه هیڅکله ځان پردی نه بولی .

تردري ورځو پورې د میلمه رسم او تعظیم کیږی ترڅو شاوخوا ځایو او خلکو سره بلدشی ترهغه وروسته تشریفاتی وضع له هغه سره قطع کیږی او د کور د یوه غړی په حیث پیژندل کیږی میلمه که اشنا او یا نا اشنا وی خو چه د کور د میرمنې نظر پرې ولګیده پخواله دې چه د خپل څښتن نه او یا له میلمه نه د خوراك څه و پوښتی څه چه په کور کښې اړی هغه راوړی او په ډیرورین تندی یی د میلمه په مخ کښې زدی میلمه حق نه لری چه د ډوډی د نه خوراك او یا د نه اشتها خبری وکړی کور به به ډوډی راوړی میلمه مجبور دی چه هغه وخوری او که نه لاس به په کښې ووهی ترڅو نور خلاص شی او که داسې و نه شی نو د کور به په طبیعت بنه نه لګیږی کور به هغه وخت له میلمه نه ډیر خوشحال وی چه میلمه په ډوډی کښې سستی و نکړی او ډوډی ته بنه کش ور کړی . کور به په تمامه معنې ځان د میلمه د ساتلو مسئول ګڼی ترڅو چه میلمه د هغه په سیمه کښې وي کور به ځان ده رنګه مالی او ځانی تاوان مسئول ګڼی تر سر ومال او نا موس پورې ولاړ وی چه د میلمه عزت او پټ په ځای کړي په سوونو خونړی بدی د کور نیو او کامونو په منځ کښې خاص د میلمه د ساتنی او دهغه د پښتنی پټ او انتقام د ګټلو لپاره پېښې شوې دی .

د دوه نه و جګړې

د کو چیانو او اوره او سر ګردانه ژوند چه کله دلته او کله هلته وی دوی ته ددې موقع نه ور کوی چه خپلې نښتې او پېښې د قضا او محکمې له لارې خلاصې کړی او ځان په دې مجبور کړی چه د دغو تر خلاصیدو پورې تل محکمی ته حاضر وی او د اخبره د کوچیتوب د ژوند سره منافی دی په دې اساس خپلې ټولې د عوی د پښتنې قوانینو او جرګو په اساس فیصله کوی .

کله چه د دوو سړیو او یا کامونو تر منځ کومه خبره پېښه شی نو د ریم سړی چه پرې خبرشی د نورو کامونو په پېښ زیرو ګرځی سپین زیری د کام مشران او یوه خلك د خبراند ینې او د تیږی د اینودلو له پاره را ټول شی د اکامی هیئت په اوله کښې له دواړو خوانه مدعیان پوښتی چه دوی له ناموس نه په پرته د هغوی د ځانی او مالی تاوان وکیلان دي او که نه وروسته له هغه چه له دواړو خواونه اقرار واخلی هیئت بیا په اقد اماتو پیل کوی .

پښتون کوچی د ساز او مینې په دنیا کښې

که چیرې دکام مشران یادجرگې هیئت مستقیماً په واقعه خبرنه وی نود شاوخوا خلکونه ایمانی او وجدانی پو ښتنی کوي خپل معلومات پوره کوي چه هیڅ اشتباه په کښې پاته نه شی وروسته له هغه مسئله منځ ته اچوي اودرایې په اکثریت یې فیصله پرې عملی کوی مدعی اومدعی علیه ضرور باید دجرگې فیصله ومنی که چیرې کومې خوادجرگې له فیصلې نه سروغړاوه اوبې پروایی یې وکړه سم دلاسه نظر دخبرې اهمیت ته له لسونه نیولی ترشلو زرو روپو پورې دجرگې بداخیستل کیږي او په جرگه والاوویشل کیږی متخلف دکام نه ویستل کیږی دی د خلکو په نظر مردوداود ښتو نولی دگرد وحقوقو څخه محرو میږی ددې له پاره چه بل څوك بیا پښتنې جرگې ته سپکه ونه گوری او دکام مشران بې عزته له خپل ټغر نه جگ نه کړی تیری کوونکی هغه وخت بښل کیږي چه هریو سپین ږیری ته عذر او ننواتی وکړی پسو نه حلال کړی ډوډی ورکړی او دجرگې شرایط هم پرځان ومنی په پښتو کښې پور اخستل واجبی او ضروری دی که دغه په جرگه وشی قوانین یې دادی .

(۱) که سړي ووژل شی ضرورت دی چه پور یې واخستل شی نو که موقع ورته په لاس ورنغله یا یې دمقابل سړی زورنه درلود اوخبره یې په جرگه فیصله شوه نو بد به یې دوه ښځې (پیغلې) او پنځه ویشت زره روپۍ وی

(۲) که په جنگ کښې ددواړو له خوا مړی وشی نو درورستنی سړی خپلوان به خپل مدعی ته دجرگې اومرکې په اساس بدور کوی دا بد به ښځه او یا دیوې ښځې نیم ولور اویا اته کلنه نجلی وی نجلی تر پیغلتو به دپلار په کور کښې وی .

(۳) که کوم سړی په غیر عمدی صورت مړیا کلك زخمی شو بدبه یې یوه پیغله وی

(٤) که پیغله په خپله له کوم سړی سره وتښتیده که نر او ښځه گیر شول ددواړو وژل حتمی وی او که ښځه په زور تښتول شوی وه او گیر شول سړی وژل کیږي او ښځې ته څه نه ویل کیږی او که چیری وروسته دښځی رضا له سړی سره وه ښځه گیر ته ورغله وژل کیږي او که خبره په جرگه تمامه شوه بدبه یې دوه پیغلې او شل زره روپۍ وی .

(٥) که چیرې میړو ښه ښځه وتښتول شوه اودواړه گیر شول دواړه وژل کیږي که څه هم دښځې رضا نه وی او په زوره تښتول شوی وی سړی په هر مهال او هر وخت چه وشو وژل کیږي او که ښځه گیر ته ورنه غله تراوو میړونو پورې یې وژل روا بولی .

د میړ و ښې ښځې تښتول او جرگه اوروغه گرانه خبره ده او که چیری په جرگه رضا شول بدبه یی څلور پیغلې او څلویښت زره روپۍ وی .

(٦)- که پرهار په داسې ځای کښې وی چه ظاهراً په ترگو ولیدل شی لکه په مخ غاړه لاس بدیې یوه ښځه ده - که چیرې پرهار په پټ ځای کښې وی ملهمانه به یې پیسې وې او هغه به لږ او ډیر نظر پرهار پورې وی .

(۷)- که سړی دچا له لاسه معیوب شی یعنې لاس ماتی - گوډ - ړوند شی یا یې د مخې غاښ نه یو غاښ ووځی بدبه یې یوه پیغله وی .

(۸)- په عمومی صورت د ځوان په فقره کښې که روغه وشی بدبه یې درې ښځې او پنځلس زره روپۍ وی دسړی ښځې او ماشوم تاوان یوراز دی او که جوړه ونشوه خپل پور به ضرور اخلی .

(۹)- که پرهار په سر او دخولی لاندې وی بدیې عذر کول او یو پسه وی .

(۱۰) که ددوو مدعیانو په منځ کښې نښته وشی په بدور کولو کښې ددواړو خواوو مړی شمیرل کیږي او زخمیان که هر څومره ډیروی، په حساب نه راځی،

(۱۱) که له یوې خوا نه مړی وشوه او له بلې خوا زخمیان شوه مړی ته بد ورکول کیږی او زخمیانو ته هم نظر ژوبلیدو ته بیل بیل بد او ملهمانه ورکول کیږی

(۱۳)- که ددواړو خواوونه زخمیان شول مر که نظر زخمی کیدوته ددواړو خواوو دپاره بد ټاکی.

(۱۴)- دښی لاس د کچی ګوتې پر یکر لو بد زرافغانی ،ددویمې ګوتې بد ۱۵۰۰- افغانی -د د ریمې ګوتې بد ۲۰۰۰- افغانی او دڅلور مې اوغټې ګوتې بد بیل بیل یوه پیغله سره دڅه پیسودی .

دکین لاس دقرچې ګوتې بد ۸۰۰- افغانی ددریمې ګوتې بد ۱۳۰۰- افغانی -ددریمې ۱۷۰۰ افغانی او د څلورمې اوغټې ګوتې بدهر یو یوه پیغله د .

(۱۵)- پیغور ډیر بد بر یښی که چیری احمد محمود وواهه او احمد محمود ته بد ور کړ که کوم وخت داحمد زوی محمودزوی ته پیغور ور که نو که چیری دمحمودزوی په مقابل کښې هرڅه اقدام و کړ جرګه داحمد زوی ملامتوی اوورته وایی چه دمحمود زوی درته پښتون نه ښکاري ځکه چه ورته پیغورور کوی

دمقالې لیکونکی دوزې په لوشلو کښې له عمراخان کوچی سره مرسنه کوي

(۱۶) دچاچه ښځه ولاړه وی اوخاوندته یې څوک دښځې ښکنځل وکړی یا به هغه سړی وژنی او یا به ښځه خوشی کوی.

(۱۷)- که چیرې اوښ یامیږه غلاشول اویاپه قصد سره ووژل شوه غلا اویاوژل پرې ثابت شو نوغل یا وژو نکی به ګردسپین ږیری دمال والاکورته په عذر بیایی نه چنده تاوان به هم ورکوی .

(۱۸)- که چیری دچاکورغلووواهه اوغل ونیول شو غل به له سپین ږیرو سره قران په سر عذرته ورځی.

غلاشوی مال به بیرته ورکوی او ۳-۴۶۰ افغانی درې واری څلور سوه شپیته به بدهم ورکوي او که چیری غله اعتناونه کړه غل به هم وهی اونه چنده تاوان به هم ترې اخلی اوکه په غله یې زورنه رسیده نو د زور ور سړی کورته ننوځی هغه سړی دپښتنی غیرت په اساس پناه راوړونکی ګټی اوتاوان به له غله څخه اخلی.

(۱۹) کونډه دمیړوښې ښځې حکم لری هرپښتون باید خپله کونډه خپله کړی کونډه هیڅ نه شی کولی چه پردی سړی میړه کړی کونډه د نژدې خپلوانو ملکیت دی- که چیری نژدې خپلوان وړوکی یو کلن هلک هم وی کونډه به دهغه وی اوهغه باید خپل-رورته سپین کړی، که کونډې وویل چه زه میړه نه کوم اوپه کونډتون قانع یم په دې صورت هیڅ قوه نشی کولای چه هغه میړه کولوته مجبوره کړی -کومه ښځه چه کونډتون کوی اودمیړه نوم ساتی نور خپلوان ورته ډیراحترام لری- حتی دکورټوله واکداره اوحاکمه کیږی هم.

(۲۰)- دخلکو په مخ کښې تیز ویشتل ډیرلوی عارګڼل کیږی ،دهغه سړی نه چه داسې شی حس شی هغه بیاخلکوته پورته کتلای نشی په سوونو کسه مجبور شوی چه په تیز سره خپل وطن اوخپلوان پریږدی اوبل چیرې واوسی مشهور متل دی «دتیز دلاسه ورکه یاره»

عقایداو ټوټکی

کوچیان په دواخوړلو اواستعمالو لو هیڅ عادی نه دی ډیرخلک پیداکیږی چه ترسپین ږیری تو به پورې یې دلاسی دواګانونه هم استفاده نه وی

کړي عصري دواګاني خولا په ځای پر یږ ده کله چه ډاکټران دحکومت له خوادخلکو دصحت د وقایی له پاره د.د.ټ پوډ رشیندی اویاد ځینو نورو ساری امراضو په مقابل کښې ستنی وهی کوچیان له هغو نه کرکه او تنفر کوی که څه هم دهغوی داعمل دهغو ی په تباهی او بربادی تمامیږی .

ددوی عمومی صحت ښه دی پهلوان اوغښتلی دی ساده غذا-مګر ډیره غنی-صافه هوا- رڼی اوپاکی او ه اوورزش چه دښه صحت له ضرور یاتو څخه دی دو ي ته میسردی داشیان دهغوي دښه او باتناسبه اندام موجب ګرځیدلی دی.مګر کله چه مرض پرې غلبه او دوره وکړی اکثر دتاویز او ټوټکونه کار ا خلی .

دوړوکی ماشوم رنځوریدل او خصوصاً داوږ دې رنځورتیا لکه وچکی اوداسې نورو لوي عا مل د «سیورې» لویدل ګڼی-ددوی په نزد «سیو ر ی » یو مذموم اوخبیث روح دی چه په معصوم اوسوچه شیانو لکه ماشوم لویږی په ماشوم باندې د سیورې د لو ید لو موارد دادی :

(۱)-که چیرې یوماشوم دمخه پیداشی او د هغه دپیدا کیدوږغ په وروستنی ماشوم باندې چه نوی پیداشوی وی ولګیږی سیوری پر ې لویږی .

(۲) که ماشوم دخرې اودسپی دلنګید و په وخت کښې پیداشی سوری یې پرې لویږی .

(۳)-که وړوکی ماشوم دجنازی دوړلو په و خت کښې چیرته په لاره کښې وی .

(٤)-که چیری ماشوم دچا په غیږ کښې دشپې له خواد هدیرې له څنګه تیر کړ ل شی .

(٥) که وړوکی ماشوم وروسته له ماښامه یو از ې پاته شی اویا په ډیر انو اوپارو باندې وګرځی ددې دپاره چه سیوری له ماشوم څخه لری کړل شی لومړی باید ماشوم یوازې په شنو غنمو اویا په باغ کښې واچول شی اودڅه مودې له پاره یواری پریښوول شی ا و یا دیوې مقدسی اوروحانی کورنی په ساړه شوی نغری کښې ولړل شی اویاداچه په تله کښې دغوایی دخوشایو اویادمجردو خلکو پښو سره وتلل شي اویاداچه دخرې

دتره خیلو کوچیانو په واده کښې دغوښودیګونه

شودې پرې وخوړلې شی ځینې سترګې هم بدې ګڼل کیږی دغسې بدې سترګې چه په یو ه نظر یوشی تـه ځیر شی اویاد خو لې نه کو مه خبر ه وباسی حتماً هغه شی ته زیان رسیږی د داسې خلکو سترګی ا ونظرچه په کلی او کام کښې شهرت لری په کوم شی اویاماشوم ولګیږي پخواله دې چه هغه شی یاماشوم ته زیان ورسیږی دنوموړی سړی پرتوغاښ او یادپښې دپل خس سوزوی هغه یاشی ته لوګی ورکوی اویادهغه سړی په پله متیازی کوی اویاداچه نظرشوی سړی په خاصو مر اسمو په مځکه کښینوی چار پیرترې خط باسی په یوه وړوکی لوښې کښې وژغونی،وړی- اوبروزې سوزی اولمبه دنظر شوې سړی دسرنه درې واره تاوه وی اوبیا وړوکی لوښی په یوه لوی لوښی کښی چه له اوبوډك وی راړوی- په دې وخت کښې داوراواوبو اوازووځی اوهرڅومره چه دږغ اوازلوړشی په هغه اندازه نظر ښه وچیږي اوبې اثره کیږی .

[نوربیا]

غوث خیبری.

دمجلې داستان

زوړ کمیس

د «جانۍ» په سپین تندی دخولې یو نیم څاڅکی ښکاره کېده اوچه مور یې په ستنه کښې تارواچاوه نو پیغلې په ډېره حیااوغلی اواز ورته وویل :

-ابی... دامیرات ګریوان مې زیات سپړل ګیږی. بس دی نود کمیس خومې هم دا پنځم کال دی. پلارمې دی خدای وبښی په هماغه کال مړشوی وچه «خان» ماته کمیس وکړ... اوبیاخو...

جانۍ چپ شوه. سر یې ټیټ کړ اوسترګې یې مځکې ته نیولې. شیبه نیمه غلی وه او چه مور یې مشغوله ولیده نوبیایې په ګرار زیاته کړه..

-اوموری... دې «خان» سپین سترګی مې تل دوه سترګې ګریوان ته نیولی وی «نښترې ابی» ددې خبرې داوریدوسره ستنه بې اختیاره په ګوته ورننه ایسته اود هغه سره کړیکه اسمان ته پورته شوه...

هغې باندې دی خبرې ډېر تاثیر کړی و. تندی کښې یې بېشماره کرښې راپیداشوې اودسترګو کونجونو یې ګونجې وکړې...

«جانۍ» وارخطاشوه اوژرژرینې دموروینی شوی ګوته خولې ته وړنژدې کړه. کوف یې کړه اوبیایې دلمن په یوه پیڅکه دمورد ګوتې وینې پاکې کړې

د «نښترې ابی» دسترګونه دقهراوغضب بڅری الوتل. غاښویې کړچارشروع کړ، اولورته یې وویل.

-جانۍ... خان ته که ته په کپ سوکړک مېښې پیایې اوزه ورته په لوڅو پښوز وزان را ټولوم نودې کښې زموږ شرف اوعزت ته دصدمې دخطر احساس موجود نه و هغه که په پنځو کالو کښې یود سورالوان کمیس تاته کړی اویایې ماته دخپلی بی بی زړه اوبې رنګه پاجامه راکړې نه په بدل کښې ورته تاپه سرولمرونو اوټکنده غرمو ومېښی ټابوته بیولې. او مایې کورله په سردزو زانو پیټی راوړیدې اوکه چېرته دهغه خطر احساس پیدا شوکوم چه ماوړاندې ذ هغه ذکرو کړ نوبیا...

«جانۍ»... خان مودې که چېرته په رښتیاسترګې ستاڅیرې ګریوان ته نیولی وی زه به هغه سترګی په سیخ وباسم. هغه څه به ورته ورو ښایم چه په عمر کښې چانه وی اوریدلی اونه یې په خوب کښې لیدلی وی.

دنښترې ابی وجود دډیرقهر اوعصبیت نه دتوت دپاڼې په شان ریږ دېده...

سمې خبرې یې نشوی کولې. ټول وجودیې په خولو کښې ډوب واوچه جانۍ دمور داحال ولید نوله ځایه را اوچته شوه اومورته مخکښې ودریده... په زیات غرور اود رنو الفاظو یې مورته وویل.

-ابی... زه دیو پښتون پلاراوپښتنی مورنه پیدایم. هغه خطرکه ماخپله هم احساس کړونو بیاتاته حاجت نه پاتې کیږی. خان نه که میراث پاتې کیږی نوبې حسابه ملکونه اوجایدادونه به وی مانه به څه پاتې شی. عمر مودکپ سوکړک دپاره وقف دې سره اوسپین غواه مېښې پولی او پټی نشته او...

«نښترې ابی» جانۍ په غېږکښې ونیو له مخ اوتندې یې ورله ښکل کړل او بیایې په موسکاکښې ورته وویل.

-بچې هرڅه په همدې ټکې پورې تړلی دی او داچه نه وی نوبیا هیڅ نشته...

دي وخت کښې نښتري ابی «لور» په اوږه کړاو دزوزانو دوهلو دپاره روا نه شوه .

خان په حجره کښې یوغټ بالښت ته ډډه وهلې ده. په یوغټ درې بنده چاکو باندې خټکی خوری . شېبه په شېبه دروازې ته ګوری اودچا دراتلو منتظردی لږ ساعت وروسته دخبرو ښکالو شوه او ورپسې دوه تنه په دروازه راننوتل ،

وړاندې «مرغلرچه ترور» وه او وروسته ورپسې «جانی» روانه وه ...

«خان» چه هغوته وکتل نووچولی یې تربو کړ او «مرغلرې ترور» ته یې وویل .

دومره ځنډ سړی تېر وی... ماویل چه مړه شوی شوې که څه ...

«مرغلرې ترور» په وېره اوغلی اوازځواب ورکړ.

-خان! لاره داغزوډکه وه او زه پښې ابله وم په کرار کرار په لارتلم ...

خان په قهرشو او وی ویل .

-بس کمبختې ...اغزی و... ستاپښی څه دبنیادم پښوته ورته دې چه چه ...

ځه لاړه شه ،چه بیابه «مال» وږی تېزی پروت وی، بروړی سره څه شنه هم یوځای کړه.

جانی به لږ داکټونه مټونه وڅنډی، چه شېبه پس به میلمانه راننوزی ...

«مرغلره ترور» له حجرې نه بهرووتله .شکریې ویست چه خان لاونه وهله .په منډومنډو کلاته ورننوتله

«خان» چه جانی سره یوازې پاتې شونومخ یې پیغلې ته واړ وه، په موسکااونرم اوازیې هغی ته وویل.

-جانی! شېبه مخکښې مې زړه کښې تېرشول چه دجانی کمیس لږ زوړ شویدی ، باید یوبل ورته وکړم داوار وایم چه دکیم خواب اویاکتانو کپړه واخلی . ته راشه کېنه کنه ...

اوه بې انصافې! ګریوان دې ولې وګنډه هماغه شان ښه ښکاره کیدې ... اوس خو ...

دجانی رنګ والوت تکه توره شوه.حلق یې وچ شوخان بیاوړاندی زیاته کړه ...

-جانی تاته خدای بل شان څهره د رکړې ده زه وایم چه ته دنوو جامونه په زړوکښې ښه ښکارې ځکه چه کالی زاړه وی نود وجود څه ...

جانی چیغه کړه اوخان ته یې غاښونه وچیچل، څوقدمه وروړاندې شوه اوورته یې وویل خان! . . . دی خبرونه دبې شرفی اوناانسانیت بوی راځی . . . . او .....

خان په خنداشواوله کټ نه راکوز شوجانی نه نژدې شواو لاس یې د هغی په مړو ندکیښود سترګې یې تنګې کړې اووې ویل.

- جانی . . . لیونې کیږه مه. خان اوخانی څه وړه خبره نه ده . . . ستادا ښایست زاهد له زهده راوباسی ،نوربس دی میاشتې ډېرې تېری شوې ،نورنو په سترګو کارنه کیږی نن هر څه پرېکول غواړم . . . . ځکه مې . . . . .

دخان خبرنیمه پاتې شوه ... جانی ټوپ کړه اوچاکو یې په موټو کښې ونیو او خان ته وروړاندې شوه .

- خان ! ته یوابلیس یې چونکه تاکښی دا نسانیت اوشرافت جوهرختم شویدی نوژو ند دې هم ختم کول په کار دی . . .

خان بادې خولې راماتې شوې ویرې ونیوخوبیایې شهوت سترګې پټې کړې وې فکراوسنجش ور سره نه و ، په خنداشواو جانی یې ترملا ونیوه . . . . .

خان لاس دجانی دملانه تاوکړو خونور یې دڅه شی وسه ونه رسېده زوراو قوت ترې تللی و ځکه جانی ورته چاکو په کو ګل ورښخ کړی و .

پای

دپښتو ټولنې تازه خپرونې

پښتو ټولنې په‌دې وروستیو وختو کښې دغه لاندې کتابونه چاپ کړی اودګرانو علاقمنوداستفادې:پاره یې برابر کړی دی .

شخصیت څنګه‌وده کوی

ددی کتاب مؤلف (هلین چاکټر)ده ، له عربی نه‌یی پښتو کوونکی ښاغلی م . عبدالخالق و اسعی دپښتو ټولنې دلغاتودڅانګې مدیردی .دکتاب قطع ښه لویه‌ده او(۳۵٦)مخه‌لری داکتاب‌دپښتوټولنې (۱۵۹) امبر خپرونه‌ده اوپه‌دولتی‌مطبعه کښی (۱۰۰۰)جلده چاپ شوی دی.لکه‌چه‌له‌نامه نه‌یې ښکاری ،په کتاب کښې ټول هغه روحیاتی او اجتماعی مباحث دی،چه د شخصیت په‌وده اوتشکل کښې لویه‌اغیزه‌لری.

تعادل په ژوند او ادب کښی

ددغه کتاب مؤلف دمصر مشهور لیکوال -توفیق‌الحکیم اوپښتو کوونکی‌یې ښاغلی‌عبدالهادی هدایت دی.کتاب برابره قطع او(۱٤۰)مخه لری او د مباحثو دمرادټکی یې تعادل دی‌چه د حیات ، فن‌او ادب په مختلفوخواوو کښی له‌بحث لاندې نیول شوی دي .

غوره داستانونه

دپښتو ټولنې دغه نوې خپرونه‌دپنځلسو غوره داستانو یوه مجموعه ده چه‌داروپا نامتو لیکوالولیکلی اوښاغلی عزیز الرحمن الفت له‌مختلفو منابعونه‌راټول کړی ، اوپښتو کړی‌دی داکتاب دپوهنی‌په‌مطبعه کښې چاپ شوې چه برابره قطع(۱۹۰) مخه‌لری دغو داستانو په کال ۱۳۳۹ کښې د رحمان بابا په نامه دمطبوعاتو ادبی جایزه هم ګټلې وه .

دپښتو ژبې امریکایی متخصص پروفیسر پنزل -په‌دې ورځو کښې دڅه‌مودې دپاره کابل‌ته راغلی، او دادب دپوهنځی په ژبنی انستیتوت کښې یې دپښتو په‌باب سیمینار هم خلاص کړی دی پروفیسر پنزل دپښتو په‌باب ډېرې خپرونې اولیکنی لری .یوه مشهوره لیکنه یې دپښتو ګرامر نومی چه دادب‌په پوهنځی کښې پښتو شوې،اونن سبابه له‌چاپه ووځی .

پښتوټولنې ددغه پوهاند په‌درناوی داسد په ۲٦ ماښام یوه غټه ماښامنی میلمستیا هم کړې‌وه‌چه په‌هغې کښې دپښتو ټولنې په‌غړیو برسیره‌دمرکزډېرو فاصلانواودپښتوعلاقمنوګډون کړی و .

KABUL

Monthly Journal of the Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy .

Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M. Hasan Kakar

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه